# د دمشق په زندان کې

ها د اسلام د هغه زړورې [illegible]

داستان دی چې د ګندلس په [illegible]

لیکوال: عنایت الله التمش

ژباړن: کامران هجومي

# د دمشق په زندان

# کې

دا د اسلام د هغه زړورو مجاهدینو د زړروتیا او مېړانې تاریخي داستان دی چې د اُندلس پر ساحل یې خپلو بېړیو ته اور اچولی و.


لیکوال: عنایت الله التمش

ژباړن: کامران هجومي

بسم الله الرحمن الرحيم


## د کتاب ځانګړنې

نوم: د دمشق په زندان کې

ليکوال: عنايت الله التمش

ژباړن: کامران هجومي

خپرندوی: حکمت خپرندويه ټولنه_جلال آباد

کمپوز: اورنګ هجومي

چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

دويم چاپ: ۱۳۹۲ لمريز

**د ترلاسه کولو ځای:**

حکمت کتاب پلورنځی، لانديني پوړ، اسحاق زی مارکېټ، جلال آباد.

اړيکشمېرې: ۰۷۷۴۴۹۵۸۶۵ / ۰۷۸۹۸۱۲۶۸۸

نصر کتابپلورنځی، سرخرود ولسوالي، د فقر الله ليسې ته مخامخ، جلال آباد.



حقوق يې خپرندويې ادارې سره خوندي دي.

دي د اتو ورځو جګړې مسلمانان د اته سوه کالو لپاره د
اندلس پر خمکه واکمن کړه.

# راډرک څه شو؟

ټول تاریخ لیکونکي په یوه خوله لیکي چې راډرک د جګړې له میدان څخه ورک شو هېڅ معلومات یې ونه شوه چې چېرته او کوم خوانه ولاړه ځینې داسې روایتونه هم شته چې وایي راډرک ځان سمندر ته وغورځولو، ځینې نور وایي چې له سمندر څخه تیریده مګر د سمندر ډوبوالي او تیزوالي د سمندر بلې غاړې ته پرېښنود او په اوبو کې لکه د فرعون په څېر غرق شو، ځینې نورو لا وایي چې راډرک په یو ځل بیا په بل مخ د عیسویانو د مرستې لپاره راغې او ځینې یې داسې هم وایي چې هغه د جګړې په دوران کې په یو غار ورننوت چې ټول غار له مارانو او لړمانو څخه ډک وو او هر یو مار او لړم به په وار وار راډرک ته ټکونه ورکول او پدې ترتیب الله ﷻ په ژوندون په عذاب اخته کړ. د ویلو وړه ده چې دا ټول روایتونه عیسوي تاریخ لیکونکو لیکلي. هر څه چې وو د راډرک امپراطوري له منځه ولاړه او له هغې ورځې څخه وروسته راډرک بیا چا په سترګو ونه لیدل شو: پدې جګړه کې ډېر زیات اندلسي لښکر زیانمن شو څه یې ووژل شو او پاتې نور چې د مسلمانانو د ترلو لپاره یې له ځان سره

اوږدې اوږدې رسۍ راوړې وې اوس پرې مسلمانانو سرعکس همدوی وتړل او د خان پسې به یې راښکل!!!

❁❁❁

## د مړو او بندیانو شمېر

له فتحې څخه وروسته به میدان کې یو وحشتناکه فضاء خپره وه، چېرته به یې سره مړي پراته وو. چېرته به لا چا سلګۍ وهلې او چېرته به چا له فریاده ډکې کوکارې وهلې مګر د اوریدو یې څوک نه وو په ځینو زخمیانو کې به چې د پاڅېدو توان و لږ به پاڅېده خو پوره به نشو ودریدلی او بېرته به په ځمکه وغورځېدلو ځینو به یې د تېښتېدلو هڅه کوله خو کله به چې پرې د مسلمانانو نظر شو په غشو به یې وویشتل تکړه هماغه کس و چې خان به یې تسلیم کړ او خان به یې وژغورلو. یو نومیالی تاریخ لیکونکی وایي چې د حیرانتیا خبره دا ده چې بربري سپه سالار طارق بن زیاد ته به د جګړې ډګر ته به ډېره حیرانتیا سره لیدل او دا ځکه چې څنګه دوولس زره لښکر سل زره لښکر په وینو کې لت پت کړ؟ وایي چې له فتحې څخه وروسته طارق یو لوړ غر ته پورته شو او د جګړې د میدان له لیدلو څخه یې خوند اخیسته. مسلمانانو به خپل

شهیدان په ډېر قدر او عزت سره سمبالول. پدې جګړه کې د راډرک بنځوس زره لښکر ووژل شو او پاتې ډېرش زره یې مسلمانانو له ځان سره بندیان کړل د مسلمانانو د وژل شوو شمېر یکې نه دی ذکر شوی خکه دومره ډېر نه و چې باید یاد شوی وای: څو کسو مسلمانانو له هغې خیمې څخه انجونې راوړې په ومه کې چې راډرک له ځان سره ساتلې وې او دا انجونې ټولې له راډرک سره په حرم کې اوسیدلې په دوی کې یوه دپاخه عمر خاونده وه نورې ټولې پیغلې وې. طارق بن زیاد وویل: ایا د دوی اړیکه له کومې شاهي کورنۍ سره ده؟ جولین ځواب ورکړ. نه دا ټولې بواخې د راډرک د خوشحالولو اسباب دي! بیا یې وویل: هغه په څه بادشاه وي چې له ځان سره شل پنځه ویشت پیغلې انجونې ونه ساتي طارق وویل: له دوی څخه وپوښته چې په دوی کې داسې کومه یوه شته چې په حرم کې له راډرک سره خوشحاله نه وه. کله چې ورڅخه وپوښتل شو نو څرګنده شوه چې ټولې ناخوښې وې او ټولو وویل چې دوی په زوره راوړل شوې دي په دوی کې عیسوي انجونې هم وې څو زیاتې یې یهودانې وې!

په اسلامي لښکر څو الله تعالی خپل رحم وکړ او په اندلسانو یې ورته بری ورکړ او د طارق بن زیاد سره څو د الله

محمد ﷺ او کړ بریمن یې هغه چې وه مرسته خاص دالې
اندلس د ته چې و ورکړې زېرې بري د ته زیاد بن طارق هم
طارق او و فرمان یو ﷺ الله رسول د دا کې اصل په بې فاتح
په ورته ﷺ الله رسول او کړ پوره سره میراني پوره په هم
نه به ماته نو یې څخه امت له زما که :و ویلي کې خوب
او ګناهونو خپلو خو راډرک امپراطور اندلس د !! خوري
یې ماته عبرتناکه داسې او کړ غرق فرعون لکه ظلمونو
د لا ته مخې طارق د .ساتي یاد بې به تاریخونه چې وخوړه
ځینو کېدلې ترې پوښتنې او وې ولاړې انجونې حرم
غنیمت د نورو ځینې او وو کړي روان بندیان مجاهدینو
منې پرې مجاهد یو چې بندي یو وخت دا .راټولول مالونه
او ودریده ته مخې طارق د ورلو یې ته زندان او وې اړولې
سوک په کې ملا په زوره په مجاهد ورولیدل یې ته انجونو
په ورته بندي !! ودرېږه مه وکړه حرکت وویل یې ورته او وواهه
بربرده مې لږ ده خور زما کې انجونو پدې :وویل خوله خواړه
دا !نه که او وشي ولیدل مو به بیا چې خبر الله .ګورم وینې چې
زورزوره یو پېژندل نه څه یې نوم په رحم د و بربري مجاهد
!!!ګورم خور شه مخکې :وویل یې ورته او ورکړه بې نیکه

دا وخت يوې ښکلې او پيغلې جلۍ طارق ته وويل د اندلس فاتحه! دا زما مشر ورور دی تاسو ديوې شېبې لپاره هغه له ماسره نه شې پرېښودی؟

طارق وويل: ولې نه! بيايې بربري مجاهد ته اواز وکړ دا بندي لر دلته راوړه. بربري مجاهد بندي راوړ او نور د خپل مشر په مخکې په احترام سره ودريد. جلۍ ورو ورو خپل ورور ته ورنږدې شوه بيا يې په ډېره تيزۍ سره د بربري مجاهد له لاس څخه برچه واخيسته او د خپل ورور په سينه کې يې ورخښه کړه برچه يې راوويسته او يو ځل بيا يې په سينه کې ورخښه کړه بربري يې لاس ونيولو مگر هماغه لومړۍ گذار يې د ورور کړې وه هغه په ځمکه راپرېوتلو او مړ شو. جولين ورته وويل: دا دې څه وکړه خپل ورور دې ووژه؟ ايا دا دې په دې خاطر ووژه چې ولې تسليم شوی دی؟

جلۍ وويل: نه دا ما ډېر پخوا وژلو خو په لاس نه راتله اوس نو که تاسو ماته په دې گناه کومه سزا راکوئ نو زه تياره يم!

طارق وپوښتل: دا جلۍ څه وايې؟ ځکه دوی په اندلسې ژبه غږيدل جولين يې ورته خبرې وژباړلې:

کله چې پوه شو نو ورته يې وويل: نه مونږ تاته د دې گناه سزا نه درکوو مگر ووايه چې خپل ورور دې ولې ووژه؟

جلي وويل: دې په لښکر کې دننده لرله دا يو عادي سرباز و خو د قومندانۍ ډېر شوقي و راډرک ورته ويلي وو که څېله غور دي ماته راوړه نو زه به دې قومندان جوړ کړم هسې خو زه لدې سره په خوښه نه يم راغلې مگر دې يوه ورځ زه په دوکه کې له خان سره دربار ته ننويستلم او دا راځخه راووت بانه يې وويل زه درپسې څو شيبې وروسته راځم مگر له هغې ورځې ځخه مې تر اوسه بيا ونه لېده دا خو قومندان شو مگر زه يې د راډرک د لاس نانزکه کړم ما به هر وخت د دربار مشرې ښځې ته ويل چې ما له دې سره مخ کړې هغې به راته ويل ستا ورور اوس ډېر غټ سړی دی هرڅوک ورسره په اسانۍ نشي لېدلی او نه هم له حرم ځخه دباندې نشي وتلی. ما له هغې ورځې راپه دېخوا پوره دوه کاله وروسته دا وليد او زړه مې پرې يښ کړ.

مغيث الرومي وويل: په کوم لښکر کې چې داسې ورونه وي پايله به يې همداسې وي: بيا طارق وويل: مونږ مخ په وړاندې ځو او په لاره کې چې د هرې جلې کور راتله هغه به خپلې کورنۍ باندې وسپارئ...

# د فتحې دوهمه ورځ

د فتحې په دوهمه ورځ طارق خپل مشر موسی بن نصیر ته یو لوی پیغام ولېږلو چې پکې د ګادلیت د جګړې بشپړ جزیات وړاندې شوي وو داسې یې لیکلي وو.

بسم الله الرحمن الرحیم

د الله تعالی په مرسته او زمونږ د اسلامي سربازانو په مېړانه مونږ په أندلسي لښکر برلاسي شو او هغوی ته مو ماتې ورکړه مونږ د هغوی پنځوس زره لښکر وواژه او پاتې دېرش زره مو له خانه سره بندیان کړ. مګر ما لا تراوسه کوم ښار ندی فتحه کړي ځکه نو کومه ډالی د خلیفه ولید بن عبدالملک لپاره نلرم هو د بندیانو یوه دېرش زره کسیزه ډله درلېږم چې تل به ستاسو په خدمت کې وي خو د دوی بادشاه ځان په سیند کې واچولو ځکه هغه زمونږ له لاسه خلاص شو که نو هغه به هم ستاسو په خدمت کې و د دې بندیانو د خوشې کولو والا څوک نشته او نه هم زمونږ کوم عسکر له اندلسیانو سره بندي دی چې په بدل کې یې د دوی کوم یو ورخوشې کړو. زه یوه بله ډالی هم لرم مګر هغه اوس نشم درلېږلی هغه به د وخت په راتللو سره ستاسو پر

وړاندې کېږدم او هغه ډالۍ د راډرک آس دی چې نوم یې اوریلیا او سپین رنګ لري بوه بله ډالۍ د راډرک تورد ده چې راډرک ورسره ډېره زیاته مینه درلوده زه د الله ﷻ په مرسته مخ په وړاندې خم تاسو زمونږ د بریا لپاره د هېواد په هر جومات کې د دعاء کولو خبر ورکړئ.

❀❀❀

د أندلسي- بنديانو له أندلس څخه دمشق ته د لېږلو پروسه روانه شوه مګر د لېږلو لپاره یې بېړیو ته اړتيا ده او مسلمانانو خپلې څلور واړه بېړۍ سوځولې دي اوس د بنديانو د انتقال لپاره له اندلسي بېړيو څخه کار واخيستل شو هره ورځ به بنديان په بېړيو کې د قیروان تر ساحله پورې تلل او هلته یې د وړلو لپاره بربري بېړۍ، جلوونکي او بربري عسکر ولاړ وو د بنديانو د اخيستلو لپاره خينې بربريان د سيوسته په ساحل کې هم ولاړ وو مګر بنديان قیروان ته کوم چې د شمالي افريقې ساحل و ولېږل شو د قيروان ساحل ته د شمالي افريقې له لرې لرې سيمو څخه بربريان راغلي وو کله یې چې د فتحې خبر واوريده نو اسونه یې وځغلول او د فتحې خبر یې د هېواد ګوټ ګوټ ته ورسولو هر ځای به چې خلک خبر شو نو د خوشحالۍ چمبې به یې غرولې به دوی

کې څېنو اوازونه پورته کړه چې د طارق بن زیاد سره لښکر لږ دی هسې نه چې هغه مخ په وړاندې لاړ شي او هلته په کومه لومه کې راګیر نشي مخکې لدې چې هغه په کومه لومه کې راګیر شي مونږ باید د هغه د مرستې لپاره ورشو!! د دې غږ سره سم ګڼ شمېر خونان او د پاخه عمر کسان د تللو لپاره تیار شو دوی ځانونه د قیروان او سیوسته ساحلونو ته ورسول او هلته به د بندیانو په راتلونکو بېړیو کې اندلس ته تلل بندیان هم لږ نه وو چې په یوه یا دوه پېرو کې دې خلاص شوي وای څکه خو په هره پېره کې ورسره له شمالي افریقې څخه بربریان د طارق د مرستې لپاره اندلس ته تلل.

بل لور هنري چې د فلور ندا سره یې ژمنه کړې وه چې د راډرک سر به یې په پښو کې ږدي سیوسته ته ورسید او تر اوسه لا په سیوسته کې د اندلس د فتحې تازه خبرونه نشته هنري له بېړۍ څخه راکوز شو او په منډه منډه، د دربار په لور روان و دوه بربریان هم ورپسې شو او پوښتنه یې ترې وکړه چې مونږ ته لږ معلومات راکړه مګر هنري ورته له خوشحالۍ څخه ونه دربد او غوښتل یې ځان زر تر زره د جولین محل ته چېرته چې فلورا اوسېدې ورسوي خو په منډه، منډه کې یې ورته وویل: اندلس فتحه شو راډرک ووژل شو او د راډرک ټول لښکر تباه شو تاسو که نور څه لیدل غواړئ نو ځانونه د

قیروان ساحل ته ورسوئ هلته اندلسي بندیان راوړل کېږي.
هنري بیا د محل په لور وخغاست او خان یې فلورا ته رسول غوښته.

بل لورې به فلورا هم هره ورخ د محل یو لوړ برج ته ختله او د سیند غاړې ته به یې کتل چې کله به پیغام راځي اخر یې انتظار پای ته ورسید او کله یې چې هنري د محل په لور په منډه ولید نو دا هم له برج څخه رانښکته شوه او د هنري مخې ته د ورتللو په موخه یې په دربار کې منډه واخیسته د کلا یوه دروازه خلاصه وه ځکه کلا ته خو د ننوتلو اجازه نه وه هنري په همدې دروازه ورننوت چا ورته څه ونه ویل ځکه دا خو درباریانو پېژندلو! له یو خوا هنري د فلورا په لور په منډه دی او لاسونه یې فلورا ته د غاړې ورکولو لپاره خلاص نیولي دي او له بلې خوا فلورا د هنري په لور په همدې ترتیب راپه منډه ده اخر د محل په یوه باغچه کې سره مخ او د یوې شېبې له لېدلو څخه وروسته یې یو بل ته کلکه غاړه ورکړه فلورا خپلې سپینې لیچې له هنري څخه راتاوې کړې او هنري هم فلورا خپلې سینې ته رانږدې کړه او د یوې شېبې لپاره دواړه همداسې چپ سره غاړه غړي، وو ځکه یو خو له ډېرې مودې وروسته دوه عاشقان سره یو ځای شوي دي او بله د فتحې خوشحالي ده له یوې شېبې وروسته ترې فلورا

ورو، ورو خپل لاسونه لرې کړه او دوه قدمه له هنري څخه شاته لاړه فلورا لره ناراضه ښکارېده او د ناراضی په انداز کې یې ورو هنري ته وویل: د راډرک سر چېرته دی؟ ته لکه چې تش لاس راغلی یې؟ خپله وعده دې پوره نه کړه؟

هنري د فلورا خبرو ته په نری، نری مسکا سره غوږ نیولی و.

فلورا بیا یو دوه قدمه رانږدې شوه او د هنري، په اوږو یې خپل لاسونه کیښوده او په غصه یې ورته وویل: ایا مسلمانانو ماته وخوړه؟ زما پلار مړ دی که ژوندی؟ او ته لکه چې د جګړې له میدان څخه راتښتیدلی یې؟

هنري ورته ځواب ورکړ: نه! فلورا نه! مسلمانان ندي مات شوي بلکې هغوی بریالي شو پلار دې ژوندی دی او بیا یې ورته تړوله پیښه تېره کړه او د راډرک بوټیان یې ورته هم په ښنو کې کیښوده څکه راډرک خو خان اوبو ته غورځولی و؛ هنري د راډرک د بوټیانو د وړلو اجازه له طارق څخه اخیستې وه او هغه یې په تړوله کیسه باندې هم پوه کړی و فلورا د راډرک د بوټیانو په لیدلو سره ډېره زیاته خوشحاله شوه څکه چې انتقام یې پوره شو!!

دوه مشهور تاریخ لیکونکي پروفسر- ډوزي او ګیانګوز لیکي چې کله طارق بن زیاد د فتحې خبر موسی بن نصیر ته ولیږلو نو ډېر زیات خوښ او حیران شو او کله یې چې د پیغام لیک تر پو خایه ولوسته نو قاصد ته یې وویل: ماته د لیک لوستل خوند نه راکوي دلته راشه! زما په خواکې کېنه او پوله کیسه راته په خپله خوله وکړه زه به ډېر خوښ شم! قاصد ورته د ګادلیت د جګړې د اتو ورځو پوله کېسه په زور او زیر سره واوروله. کله چې موسی بن نصیر پوله پیښه واوریده نو ډېر زیات خوښ شو او بیا یې د بری پیغام خلیفه ولید بن عبدالملک ته ولیږه!

طارق بن زیاد خپل لښکر راوغوښته او هغوی ته یې د مخکې تللو امر وکړ جولین او اوپاس هم ورسره وو او دوی به ورته لارښونه کوله ځکه دوی یې د همدې کار لپاره له ځان سره راوړي وو او بله دا چې دوی ته د اندلس ټولې لارې کوڅې ښه معلومې وې له دې ځایه لږه لرې د شدونه په نوم یوه کلا وه چې د دوی مخې ته راتله او لدې ځایه وړاندې به لومړی د همدې کلا او د کلا له جنګیالیو سره مخ کېږي. پدې کلا کې هم ډېر اندلسي سربازان وو مګر کله چې دوی ته خبر ورغی چې اسلامي لښکر د دوی په لور را روان دي نو ټولو پرته له جنګه پښې سپکې کړې او نر هماغه سړی وو

چې خان له دې عذابه خان خلاص کړي کلا یې ښه پریښوده او پخپله ښې لاړل له دې ځایه بواخې لښکر ونه ښسده بلکې خلکو خپل کورونه او دوکانونه هم رابند کړ او پخپله یې له کلا او ښار څخه پښې سپکې کړې کلا پرته له جګړې څخه د مسلمانانو لاس ته ورغله او کوم سربازان چې په کلا کې پاتې وو هغوی هم پرته له جګړې څخه خانونه مسلمانانو ته وسپارل مسلمانانو دوی بندیان کړه او هغه ولسي وګړي چې خپل دوکانونه او کورونه یې د مسلمانانو له ویرې څخه پریښودي وو طارق ټول راوغوښته او هغوی ته یې بوره ډاډ ورکړ چې د دوی مالونه او ابرو په پوره امن او تحفظ کې ده طارق دوی ته وویل چې تاسو په خپلو کورونو کې په ارام او ډاډه زړه ژوند کولی شئ. د ښار خلک له طارق څخه ډېر خوښ شو او په خپلو کورونو کې یې د پخوا په څېر ژوند پیل کړ طارق دلته څینې ګوتي او یهودي عسکر پرېښوده مګر مشر یې ورته مسلمان ټاکلی و او پخپله یې د مخکې تللو هوډ وکړ.

له بله پلوه بربري خوانان هم د طارق د مرستې لپاره راورسیدل طارق خپل لښکر ته امر وکړ چې هغوی ته په لښکر کې ځای ورکړي؛ مګر هغوی پوه کړي؛ چې څه ورانی او شو که ونه ګړي! له دې وروسته طارق د خپل لښکر سره مخ

په وړاندې روان شو مخې ته یو بل وړوکی ښار د قرمونه په نوم پروت و د دې ښار یو دوه مذهبي مشران طارق ته په مخ ورغلل او ورته یې وویل لکه څنګه چې تا په اسانۍ سره شدونه ښار ونیولو دومره په اسانۍ سره ته نور ښارونه نشې نیولی او په ځانګړې توګه قرمونه خو بیخي نشې نیولی ځکه لدې ځایه چې کوم لښکر تللی دی هغه ټول په قرمونه کې ځای پر ځای شوی دی او تاسو ته به نوره اجازه درنکړي چې مخ په وړاندې ولاړ شئ؛ تا سوته به پر مخ پرتې جګړې چې ورتګ ورته لرې ډېرې بدې پایلې درکړي!!

تاریخ لیکونکي وایي چې طارق بن زیاد ته چې له قبایلي سیمو څخه کوم سربازان راغلي وو د هغوی په راتګ یې ملا ډېره مضبوطه شوه: که څه هم د طارق لښکر له اول څخه زیات شوی وو خو دې مذهبي مشرانو چې کومه خبره طارق ته وکړه هغه هم څه بې ځایه نه وه مسلمانانو څو څو خله په قرمونه ښار حمله وکړه خو بریالی نشو او اندلسي لښکر به بیرته شاته راتللو ته مجبور کړه پوره یوه میاشت په همدې ترتیب چریکي حملې په قرمونه ښار او کلا باندې روانې وې او هره ورځ به د اندلسیانو او مسلمانانو تر منځ نښته کیده اخر جولین د څو تنه عسکرو سره د شپې له خوا په څه بهانه ورغی شپه پښه وه او جولین سره د خپلو ملګرو

د دروازې خواته ورننوتې شو یو ساتونکې پرې ورغږ کړ:
ودرېږئ تاسو څوک یاست؟ او دلته څه کوئ؟

جولین ورته په څواب کې وویل: زه جولین یم او دا مې ملګري دي مونږ هم ستاسو ملګري یو او د ګادلیت په جګړه کې تېپیان شوي یو مګر مونږ له هغوی څخه ځان راخلاص کړ او اوس په ډېره سختۍ سره تر دې ځایه راغلي یو مونږ ته دروازه خلاصه کړئ که نه نو مسلمانان به مونږ ووژني.

دې کسانو ته دا څرګنده نه وه چې جولین له اسلامي لښکر سره لاس یو کړی دی دروازه یې ورته خلاصه کړه او دوی ته یې پناه ورکړه. کله چې نیمه شپه شوه نو جولین خپلو ملګرو ته امر وکړ چې د دوی د وژلو نښه وخت دی د جولین ملګرو پرې راباندې کړه او دوی یې ووژل تر څو چې نور لښکر راوننیده نو جولین طارق ته خبر لېږلي وچې محاصره یې ماته کړیده نو اوس تاسو هم راتلای شئ طارق هم سره د خپل لښکره راغی او پدې ترتیب یې له یوې میاشتې جګړې وروسته قرمونه ښار او کلا ونیوله. کوم کسان چې له جولین سره د کلا په عملیاتو کې وو هغه هم مسلمانان وو یواځې لاربښونه ورته جولین کوله څکه له جولین سره خپل لښکر له سره نه وو راغلی.

له دې کلا څخه هم ځينې سپه سالاران او فوځيان د اليسيجا ښار ته وتښتيدل پدې ښار کې هم يوه مظبوطه کلا وه چې په اليسيجا مشهوره وه دا کلا له قرمونه څخه ډېرش ميله لرې پرته وه چې نيول يې د طارق لپاره ډېر اړين وو ځکه دا هغه کلا ده چې له تېرو جګړو څخه يول راتښتيدلي فوځيان پکې پراته دي د اليسيجا ښار ته چې کله د اسلامي لښکر د ورتللو خبر ورغی نو ټول لښکر وېره او لړزه ونيولو.

له بله پلوه کوم عسکر او قومندانان چې دلته راتښتيدلي وو د دې کلا د اوسيدونکو له خوا ورته ډېر به بده سترګه وکتل شو او دوی يې ډېر ورټيل ترډې چې ځينو به ورته د ښځو لقبونه هم ورکول بيا د دې ښار يو لوی پاپ راپورته شو او له جذبې څخه ډک تقرير يې پيل وکړ.

ای د اندلس بچيانو! د اندلس ستر لښکر ماته خوړلې ده اوس د دې هېواد د عزت واګی له تاسو سره دي که چېرې تاسو وغواړی نو د خپل هېواد عزت ساتلی شی او که وغواړئ نو د راغلي لښکر په پښو کې يې اچولی شی که چېرې پر تاسو خپل عزت او ناموس ګران وي نو له خپل ملت څخه د دفاع لپاره راپورته شئ او په عيسويت باندې سرونه ورکړئ که چېرې تاسو داسې ونکړ نو راغلی لښکر به درڅخه غلامان جوړ کړي اوس نو هر څه ستاسو په لاس کې دي د

سرشاري ژوند کوئ او که دغلامۍ! که غواړئ چې له خويندو او ميندو څخه مو وينځې او له تاسو څخه غلامان جوړ شي نو د قرمونه او شدونه په څير تاسو هم وسله کېږدئ او ځانونه دښمن ته ور وسپارئ خو په ياد ولرئ چې بيا تاسو ته لدې ژوند څخه مرګ زر ځله غوره دی.

د مشر پاپ له دا ور خبرو وروسته د ولس ټول خلک خوانان او سپين ږيرې راوپاريدل او په يو غږ سره يې وويل: مونږ ټول به په اندلس او عيسويت باندې سرونه قربان کړو ترڅو چې زمونږ په رګونو کې ساه وي مونږ له دښمن سره جنګېږو مونږ به هېڅکله دښمن ته اجازه ورنکړو چې پاتې نور ښارونه راځخه ونيسي بلکې مونږ به هغوی مخ په شا تک ته اړ باسو.

کله چې نوموړي پاپ خلکو ته له احساساتو څخه ډک تقرير وکړ نو له خبرو وروسته کليسا ته ورغی او په کليسا کې هغه خونې ته ورننوت په کومه کې چې پيغلې انجونې ناستې وې دا هغه انجونې دي چې خپله ځواني يې د هېواد د ازادۍ لپاره وقفې کړې دي دوی هېڅکله واده نکوي او غواړي چې ټول عمر د دين او ملت په خدمت کې تير کړي. پاپ دې انجونو ته هم له احساسه ډک تقرير وکړ او په اخر کې يې درې جنګې وتاکلې چې د طارق لښکر ته په څه

بهانه ورشي او هغوی د خپل حسن په دام کې راګیر او په څه چل طارق او د هغه تکړه سپه سالاران ووژني.

مسلمانانو ډېر په تیزی سره پرمختګ کولو تاریخ لیکونکو د مسلمانانو د وخت په وخت پرمختګ ستایلی او د بیلګې په توګه یې سلطان محمود غزنوي او سلطان صلاح الدین ایوبي یاد کړي دي...

طارق بن زیاد به په یوه ورځ کې ډېرش میله مزل کولو او د خپل لښکر څارنه به یې هم کوله طارق د قرمونه او الیسیجا تر منځ خپل لښکر د دې لپاره ځای پر ځای کړ تر څو الیسیجا ته له ورتلو سره سم دا کلا بنده کړي او ښار په ډېره اسانۍ سره ونیسي. یوه شپه طارق بن زیاد په خیمه کې ناست وو چې یو کس راغی او ورته یې وویل: ښاغلیه! یو اندلسي بوډا له تا سره لیدل غواړي. طارق ورته وویل: هغه له پلټنې وروسته راپرېږده. بوډا راننوت له بوډا سره درې پیغلې جنکۍ هم وې. طارق درباري ته وویل: ته یو ترجمان هم راولېږه تر څو مونږ یو د بل په خبرو ښه پوه شو. ترجمان راغی دا وخت طارق دې پیغلو ته داسې په خیر سره لیدل ته به وایې چې لدې مخکې بیخي جنکۍ یې نه وي لیدلي د طارق لیدل دوی ته کومه بله معنی نه لره بلکې په دوی پوه و چې دوی د څه مطلب لپار راغلي دي. جینکو ورته په ډېره

مینه مینه لیدل او غوښتل یې طارق د خپل حسن په جال کې راګیر کړي د جینکو له خوږو خوږو لیدلو سره نرۍ نرۍ مسکا هم مله وه چې د کم زوري ایمان خاوندان ورته نشو ټینګیدلی.

طارق ترجمان ته وویل: دوی ته ووایه چې د څه لپاره راغلي دي؟

ترجمان له بوډا څخه پوښتنه وکړه. هغه ورته وویل: دا یوه مې خورزه ده او دا دوه مې وریرې دي مونږ له الیسیجا څخه راغلي یو ما غوښتل دوی فرمونه ته واستوم ځکه هلته پوره امن دی او په الیسیجا باندې جګړه کیدونکې دی، خلکو راته ویلي وو چې راغلی لښکر د شپې له خوا انجونې وړي او د شپې تیرولو وروسته سهار بیا چیرته په کومه کنډواله کې مړې پرتې وي ما وغوښتل چې ته راته امان راکړې.

طارق ورته وویل: سمه ده ته نور غم مکوه بیا یې یو درباري ته غږ وکړ او ورته یې وویل: د دوی ښه میلمستیا وکړه او د اوسیدو لپاره ورته ښه ځای برابر کړه میلمانه دي چې خپه نشي. درباري وویل: ډیره ښه ده، بیا یې له ځان سره بوډا او جنکوو ته د تللو وویل: بوډا او دوه جنکۍ ورسره رواني شوې مګر یوه ولاړه وه او طارق ته یې په ناز ناز ورلیدل بیا یې ورته په خوږه مسکا کې وویل: زه له تا سره شپه تیرول

غواړم. طارق په اندلسي ژبه نه پوهېدلو نو ترجمان ته یې ووېل: د جلکي څه وايي؟ ترجمان ووېل: صبب دا له تا سره شپه کول غواړي.

طارق ورته ووېل: دې ته ووایه چې زمونږ په دین کې له پردیو ښځو سره شپه تېرول حرام او ناروا بولي. ترجمان جلکي ته د ووېل خو جلکي بیا بیا ټینګار کولو چې زه له طارق سره شپه کول غواړم او په هر صورت کې له خپلې خوښې نه وځم اخر طارق په غصه شو او ورته یې ووېل: تاسو له دې خایه ووځئ او که زه تاسو ټول په زوره له دې خایه وشړم.

کله چې جلکي د طارق دا ږ سلوک ولید نو پوه شوه چې دین یې ریښتنی دی څکه خو یې په منځ کې دریم کس ترجمان ودرولی دی او دوی ته چې د مسلمانانو په اړه څه وېل شوي دي هغه ټول برته له دروغو نور هېڅ نه دي. بیا جلکي د طارق په لور ورو ورو قدم وهل پیل کړه طارق ورته ښه لیدل چې څه کوي کله چې طارق ته ښه ورنږدې شوه نو یو لاس یې په بدن کې ورننویست او بیا یې له بدې څخه خنجر راوویسته د طارق په لور یې ورمنډه کړه برچه یې دوه لاسي کړه له خمکې څخه لږه پورته شوه او کله چې په ګونډو کېناسته نو خنجر یې د طارق په پښو کې په ځمکه وټومبه، سر یې د طارق په پښو کې کېښود داسې یې ورته لیدل لکه

چې په خپلو کړو پښیمانه وي: طارق ترجمان ته وویل: دې ته ووایه چې دا څه کوې زه خو د دې په مطلب نه پوهېږم؟

د ترجمان له پوښتنې وروسته جلکي خپله ټوله پېښه ورته بیان کړه چې د دوی هدف څه و او څه ورېږ هاغه لوی ټاپ دوی د طارق او دوه سپه سالارانو وژلونه هڅولې وې.

بیا جلکي طارق ته وویل: زه په خپلو کړو پښیمانه یم اوس چې ته څه سزا ماته راکول غواړې زه یې د سر په سترګو منلو ته تیاره یم. طارق ورته وویل: زه تاسو ته سزا نه درکوم ځکه تاسو په خپله خوښه دا کار ندی کړی بلکې تاسو خو په زور سره راوړل شوې یاستی. خو سبا سهار به له مانځه څخه وروسته هاغه دروغجن بودا ضرور ووژل شي ځکه د هغه ګناه د بښلو وړنده.

بیا جلکي طارق ته وویل: په ولس کې ستاسو د لښکر په اړه زعونږ مذهبي مشران او نور خلک ډېر غلط شکونه خپروي خو ستا په لیدلو سره زه پوه شوم چې تاسو څومر ښه خلک یاست او ستاسو دین څومره پاک دین دی.

طارق ورته وویل: د نورو خبرو کولو اړتیا نشته ته تللای شې مګر جلکي ورته څه نور ویل هم لرل او د ویلو اجازه یې له طارق څخه وغوښته.

طارق هم ورته لږ وخت ورکړ تر څو له جلي څخه ورو ستي معلومات واخلي.

جلي ورته وویل: په ولس کې موږ ته خلک ډېر په درنه سترګه ګوري څکه هغوی دا ګمان کوي چې موږ پاکې او پیغلې یو او هېڅ کله هم راڅخه کوم غلط کار نه کېږي څکه موږ ټول عمر په کلیسا کې تېروو او هېڅکله دباندې نه راوځو او که راوځو هم نو له خلکو سره په ډېر احتیاط چېږو او لیدل کوو هغوی موږ ته له همدې امله راهبانې وایي او سړو ته مو راهبان وایي مګر د هغوی دا ګمان بې ځایه دی څکه چې نه خو موږ پیغلې پاتې یو او نه مو سړي سوچه پاتې دي او دا څکه چې زموږ په عبادت خونو کې دننه داسې مخفي ځایونه شته چې هغې ته څوک په اسانۍ سره نشي- ورتلای او نه هم چاته معلومات شته چې په عبادت خونو کې داسې پټ ځایونه شته دي! دې ځایونو ته موږ د شپې له خوا خانونو ته هلکان د خپل ذوق دپوره کولو لپاره راغواړو او موږ سره په عبادت خونو کې میشت سړي د خانونو لپاره جنکۍ راغواړي او په دې ترتیب سره موږ خپل شهوت پوره کوو! او کله لا داسې هم کېږي چې باندني څوک پیدا نشي نو په خپلو منځونو کې سره د زړه براس وباسو.

د جلي خبرو ته طارق ښه په غور سره غوږ نیولی و او له خبرو وروسته يې ترجمان ته وویل: د دې جلي خبرې ډېرې په زړه پورې دي دیته ووایه چې موږ نه لږ نور رازونه هم ووایي.

جلي ورته نورې کیسې او رازونه هم واورول طارق بیا د جلي بلي خیمې ته ولېږله بیا یې بوډا او پاتې دوه جنګي راوغوښتې بوډا چې له دوه جینکو سره راننوت نو طارق له ماغه خنجر سره ولاړ و کوم چې جلي د دې په قدمونو کې ایښې وې. بوډا د خنجر په لیدلو سره ډېر حیران شو.

طارق ورته وویل: ایا زه دې په همدې خنجر وژلم؟ ته ډېر احمق یې څکه ته د زمري ښکار په هوسۍ سره کوې!! زه تا ته نور څه نه وایم ته ماته همدومره ووایه چې زه باید الیسیجا ته څنګه ورننوځم کنه نو پدې خنجر سره به دې سورۍ سورۍ کړم. او ته باید پدې هم پوه شې چې زه څوان یم او ډېر صبر نه کوم او نه یوه پوښتنه د دوهم ځل لپاره تکراروم نه باید په لومړي ځل ماته ځواب راکړې.

بوډا ورته وویل: الیسیجا ته د ننوتلو هېڅ لار نشته او نه به تاسو هغې ته ورننوځئ څکه د هغې ښار تېول لوی وړه خوانان او زاړه سره د خپلو ښځو له تاسو سره په مېنه جنګېدل غواړي.

طارق خنجر پورته کړ او بوډا يې د زړه په سر په خنجر باندې ووهلو او په يو ګذار يې جهنم کندې ته ولېږل بيا يې وويل: مار هېڅکله له چيچلو څخه نه اوړي.

د بوډا له وژلو څخه وروسته يې امر وکړ چې عربي يې دباندې ګذار کړئ او دا درې جنګي په بيله بيله خونه کې وساتئ.

شپه تيره شو او د سهار لمونځ طارق د خپل لښکر سره يو ځای په جمعه اداء کړ او له جمعې څخه وروسته يې خپل لښکر ته له جذبو او ولولو څخه ډک تقرير وکړ. خپل لښکر ته يې وويل: د اسلام پښتګانو لکه څنګه چې تر اوسه پورې په ټېنګ عظم او قوت سره جنګيدلي ياست بايد لدې وروسته هم همداسې وجنګېږئ ځکه اليسيجا مونږ ته دښمن دومره په اسانۍ سره نه راکوي او نه به مونږ دا کلا دومره په اسانه لاس ته راوړو ځکه پدې کلا کې ټول هغه سپاهيان راټول شوي چې له تيرو جګړو څخه ژوندي پاتې شوي دي.

طارق بن زياد د اليسيجا په اړه نور معلومات له جولاين څخه وغوښت: جولاين ورته وويل: اليسيجا په اندلس کې د اليسيجا پرته په څلور لارو يعنې چوک سره هم يادېږي او دا ځکه چې له اليسيجا څخه د اندلس څلورو لويو لويو ښارونو

ته لار تللې ده يو اړخ ته يې قرطبه، بل اړخ ته يې غرناطه، بل اړخ ته يې ملاغه او يو لور ته يې د اندلس تر ټولو لوی او مشهور ښار طليطله چې اوس د اندلس زړه او پلازمېنه هم ده پروت دی !! که چېرې تا دا ښارونه ونيول نو پوه شه چې ټول اندلس دې ونيو!!

له خبرو څخه وروسته طارق د خپل لښکر په مخکې د اليسيجا په لور روان شو بل لورې په اليسيجا کې پروت لښکر پدې خوشباوری کې وو چې طارق بن زياد به د خپلو تکړه جنرالانو سره د دوی په لاس د لېږل شوو انجونو په وسيله وژل شوي وي خو داسې نه وه او نه هغوی ته دا معلومه وه چې مسلمانان د پرديو ښځو سره نه يو خای کېږي! او بيا د طارق په څير يو فاتح ته خو دا کار له امکان څخه لرې خبره ده او نه هم دومره خام لوبغاړی دی چې دومره په اسانۍ سره دوکه وخوري. خو بيا هم له اليسيجا څخه خينې کسان دباندې راوتلي وو چې بوډا به له پيغلو سره بريمن راستون وګوري خو د بوډا د لېدلو پر ځای يې يو لوی اسلامي لښکر وليد چې سترګې ورته تور خوري دوی وليدل چې يو طوفاني لښکر د دوی په لور لکه د وږونکي طوفان په څير رادرومي د دوی خو دا ګمان و چې طارق به وژل شوی وي او دوی به په اسانۍ سره وکولاى شي چې يو

ې مشره لښکر ټپر په اساسي سره ختم کړې په همدې موخه بې په خپلو کې سره پرېکړه وکړه چې باید له کلا څخه دباندې ووځي او په خلاص میدان کې ورسره مخ په مخ او لاس په لاس وجنګېږي د کلا مشر امر وکړ او ټولې دروازې خلاصې شوې او ټول لښکر په یو وار لکه د جګړې په اسلامي لښکر ورغی او د جګړې لپاره په میدان کې د اسلامي لښکر په مخکې تیار ودرېده!!

اسلامي لښکر همداسې مخ په وړاندې زاروان وو کله یې چې اندلسي لښکر ولید چې له کلا څخه دباندې جنګېږي نو یوسپه سالار خپل اس تاو کړ او طارق ته یې دا خبر ورسولو! طارق سمدواره خپل لښکر په درېو برخو ووېشه د یوې برخې مشر یې مغیث الرومي وټاکه او دا یې د ښار چپ اړخ ته د خارنې او کنټرول لپاره ولېږه او دا یې هم مغیث الرومي ته وویل چې تر څو درته ما امر نه وي کړی نو ته به د جګړې ډګر ته نه راځې مغیث الرومي د طارق په امر سره د ښار چپ لورې ته وخوځېد او د حالاتو څارنه یې کوله طارق د لښکر د دوهمې ډلې مشر زید بن کساده وټاکه او دا یې د ښار ښي لور ته واستولو پخپله طارق د لښکر د درېیمې ډلې سره پاتې شو او مخ په مخ په اندلسي لښکر باندې د جګړې ډګر ته ورغی او جګړه پیل شوه.

تاريخ ليکونکي وايي چې په اندلسي لښکر کې د لومړي
حل لپاره د انتقام او غبچ اخيستو جذبه ښکاريده او داسې
بريښيده چې جګړه به اندلسي- لښکر وګټي خو د طارق
بخت بيدار وو چې بربري خوانان يې د مرستې لپاره راغلي
وو د البسيجا د لښکرو مشر وغوښتل چې په مسلمانانو د شا
له لورې راتاو شي او دوی په منځ کې راګير کړي په همدې
موخه يې د لښکر يوه برخه د کلا شي لورته ولېږله خو هلته
خو طارق له وخته زيد بن کساده لېږلی و چې د حالاتو په رڼا
کې به قدم پورته کوي کله چې زيد بن کساده اندلسي لښکر
وليد چې راروان دي نو لږ نور هم شاته لاړه تر څو يې دوی
ونه ګوري د اليسيچا لښکر چې کله په طارق د راتاويدو تکل
وکړ نو زيد بن کساده پرې د شا له لورې راتاو شو او سره لاس
په لاس شو اسلامي لښکر د اليسيجا لښکر توره پورته کيدو
ته هم پرې نه ښودلو او پر له پسې يې ووژل پدې توګه د
طارق ډله او پخپله طارق د السيجا له کامياب دام څخه روغ
پاتې شو.

د کلا په سر خينې اندلسي فوځيان د څارنې لپاره ولاړ
وو کله يې چې نظر ښه وځغلولو نو چپ اړخ ته يې په مغيث
الرومي سترګې ولږېدې چې له خپلې جنګي ډلې سره د
مشر قوماندان امر ته په انتظار ولاړ دي بيا يې پرته له ځنډه

ډېل منر قومندان ته خبر ولېږه او څنګه سمدواره يوه ډله د مغيث الرومي د خپلو لپاره ولېږله. مغيث الرومي هم ډېر بيداره او تل څک قومندان وو هر وخت به يې دحالاتو په رڼا کې ګام پورته کولو مخکې له مخکې يې دوه درې کسه لر څه مخکې د خبر ورکولو لپاره پرېښودي و دې کسانو چې کله د السيجا لښکر وليده نو زر تر زره يې خپل اسونه پوندد کړل او مغيث الرومي ته يې خبر ورکړ او ورته يې وويل چې د اليسيجا لښکر زمونږ په لور راروان دی.

مغيث الرومي نور د طارق د امر په تمه پاتې نه شو خو د راروان لښکر سره هم مخ په مخ هم ونه جنګيده بلکې نور هم شاته ولاړ اندلسي لښکر ورپسې نور ولاړ نشو او په طارق يې حمله وکړه کله چې دوی په طارق حمله وکړه نو مغيث الرومي پرې د شا له لورې راغی او دوی يې په منځ کې راګير کړه اوس په ميدان کې يوه خونړۍ جګړه ونښته او هره خوا يو خل بيا دوينو رودونه او د سرونو پرېکول کار پيل شو د جګړې تاوان دواړو ډلو ته واوښت خو د اسلامي لښکر په پرتله اندلسي لښکرو زيات زيان واووښت د مغيث الرومي د جنګي ډلې د راتللو سره په اندلسي لښکر ډېر تاثير پرېوتلو او دوی يې شاته تګ ته اړ کړه کله چې اندلسي لښکر شاته ولاړه نو شاته يې لوبه کلا بعني همدا کلا چې اليسيجا

نومړي پرته وه او ددې کلا لوړ لوړ دیوالونو سره یې ملاګانې جوختې شوې اوس نو اندلسي لښکر باید څه وکړي ځکه چې ورته اسلامي لښکر او شاته یې د کلا دیوالونه دلته و چې د الیسیجا لښکر له بدې ورځې سره مخ شو جګړه دوام داره شوه او یوځل بیا د اندلسي لښکر کوکارې تر اسمانه پورې پورته شوې هره خوا چغې او فریاد اوریدل کیده د چا لاس نه و او د چا پښه او چېرته به بیا هم بې سره تنې پرتې وې لښکرې سره ګډ وډ شو اوس نو طارق هم د لښکر مشر.په توګه پاتې نه و او نه یې خپل لښکر ته د کوم پلان ورکولو وخت لرلو ځکه اوس جګړه ډېره توده وه او طارق هم د یو عام جنګیالي په څیر په میدان کې جنګېدې طارق به لکه د ووړې زمري په څیر په دښمن حمله کوله او دښمن به لکه د هوسی له طارق څخه ځان ساتلو کله چې پرې اندلسي. لښکر پوه شو چې همدا د اسلامي لښکر مشر لاربښود دی نو ټول پرې په یو وار لکه د مچیو راتاو شو او طارق یې په منځ کې راګیر کړ خو طارق بن زیاد دومره معمولي کس نه دی چې دومره به اسانی سره ځان د دښمن په منګولو کې ورکړي بیا یې هم به کلکه له ځان څخه دفاع کوله او په چا کې دومره همت نه و چې د طارق د توري ګذار ته ودرېږي. زید بن کساده چې یو له تیز مغزه قومندانانو څخه و کله یې چې ولیدل چې طارق

په ستونزه کې تشکیل دی نو سمدواره یې یوه پټه فدایي
مجاهدین د طارق د مرستې لپاره ولېږل تر څو له هغه څخه
دفاع وکړي لښکر هم ډېر په بېړه د طارق خوانه خانونه
ورورسول او له هغه څخه یې دفاع وکړه پدې طریقه طارق بن
زیاد له ستونزې او د دښمن له منګولو څخه وژغورل شو بیا
طارق امر وکړ چې باید له اسونو سره ډېر احتیاط وشي تر
څو زخمي نشي څکه موږ اسونو ته ډېره اړتیا لرو څو جګړه
وخت په وخت تودیده او هره خوا د وینو رودنه روان وو له
دواړو خواو څخه درنه مرګ ژوبله وشوه اوس هم اندلسي
لښکر همت ندی بایلودی او هماغسې په مېړانه جنګ کوي
تاریخ لیکونکو ویلي چې د الیسیجا لښکر په میدان کې
داسې جنګ کولو چې ضرور به جګړه ګټي او دا هوډ یې
کړی وو چې الیسیجا به مسلمانانو ته په هېڅ صورت کې پرې
نږدي!! کله چې مغیث الرومي روانه جګړه د اسلامي لښکر
په تاوان ولید نو په لوړ غږ یې وویل: ای مجاهدینو! انسان او
حیوان مه ګورئ او مه یې غم کوئ څو فقط سرونه له تنو
څخه جلا کړئ.

مغیث الرومي هم یو له تکړه او باتجربه قومندانانو څخه
وو او خبره یې منل کیده. کله چې مغیث الرومي داسې غږ
وکړ نو په اسلامي لښکر کې یوه بله جذبه راولاړه شوه او یو

ځل بیا د جګړې اور غرغنده شو اوس نو اسلامي لښکر د څه پروا نلري یواځې غواړي چې دښمن ته ماته ورکړي دلته و چې اندلسي لښکر خپل مرال له لاسه ورکړ او په شا تک ته اړ شو یو پرتګالي لیکوال لیکي: که څه هم جګړه تر ماښامه پورې د اسلامي لښکر په بریا سره پای ته ورسیده خو اسلامي لښکر پکې له هغې درنې مرګ ژوبلې او مالي تاوان سره مخ شو چې دوی یې فکر هم نه وو کړی. او د اسلامي لښکر له زړونو څخه یې دا خبره او خوش باوري وویستله چې په هر ځای کې به بریا د دوی انتظار کوي!!

په هر صورت جګړه د لمر پریوتلو سره سمه پای ته ورسیده فتحه او کامرانۍ بیا هم د اسلامي لښکرو په برخه شوه.

پدې جګړه کې زیات شمېر مجاهدین شهیدان شو او طارق په خپله د هغوی د جنازو له کولو څخه وروسته په خپل لاس یې دفن کړ.

له بله پلوه د موسی بن نصیرپیغام هم راورسید چې ته نور مخ په وړاندې مه ځه او زما تر راتګ پورې انتظار وکړه خکه چېرته ماته ونه خورې. خینې خلک وایي چې موسی بن نصیر د طارق بن زیاد په فتحه او کامرانی خپه کېده خو دا خبره غلطه او بې بنسټه ده طارق بن زیاد د خپل امیر په

امر باندې غور کولو چې اوس څه وکړي بیا یې له خپلو نورو
ملګرو سره مشوره وکړه له پوره غور او مشورې څخه وروسته
یې لو پریکړه وکړه چې دوی به مخ په وړاندې ځي جولین یو
ځل بیا طارق بن زیاد ته وویل: وګوره مونږ د الیسیجا په ځیر
لوی او په چوک کې پروت ښار ونیو ما مخکې هم تاته ویلي
وو چې له دې ښار څخه څلورو لویو لویو ښارونو لکه قرطبه،
غرناطه، ملاغه او طلیطلې ته لارې تللې دي مونږ باید په هر
حال کې مخ په وړاندې ولاړ شو او که چېرې موسی بن نصیر
له امر څخه په سر غړونې باندې خپه شو نو مونږ به یې
راضي کړو خو اوس باید مونږ مخ په وړاندې ولاړ شو ځکه که
داسې ونکړو نو نیول شوي ښارونه به مو هم له لاسه ووځي
له دې وروسته طارق بن زیاد خپل لښکر په دوه لویو برخو
وویشه د یوې برخې مشري یې زید بن کساده ته ورکړه او دا
یې د ملقون په لور واستولو. د بلې ډلې مشري یې په خپله
غاړه واخیسته او د قرطبې په لور روان شو. او د طارق لښکر
قرطبې ته ورسید او ټول ښار یې محاصره کړ شاو خوا نهه
ورځې دا محاصره روانه وه بیا طارق مغیث الرومي ته وویل زه
فکر کوم چې یو ځل بیا مونږ باید خپل لښکر په دوه برخو
وویشو نه به دلته له خپلو جنګیالیو سره پاتې شې او زه به
له پاتې لښکر سره طلیطلې ته ولاړ شم او هغه ښار به فتحه

کړم. تاریخ لیکونکي وایي چې له مغیث الرومي سره یوځای اووه سوه جنګیالي په قرطبه کې پاتې شو پاتې نور پوځ لښکر له طارق سره د طلیطلې په لور روان شو ځکه طلیطله د اندلس زړه دی نو نیول به یې هم ډېر ګران وي جولس او اوپاس هم له طارق سره ولاړل.

د مغیث الرومي سره ډېر کم جنګیالي پاتې شو سکاړه خبره ده چې د دومره لوی ښار د نیولو لپاره دا جنګیالي بسنه نه کوي ځکه قرطبه هم څه وړوکی ښار ندی چې دومره په اسانی سره به یې پدې جنګیالیو ونیسي. د قرطبې اوسیدونکو چې کله مغیث سره د خپل لښکر ولید نو ملنډې وهل یې پیل کړ مغیث الرومي په دې کار خپه شو او د خپل لښکر سره له ښار څخه لرِه څه لرې ولاړ تر څو څه پلان جوړ کړي قرطبیانو فکر وکړ چې مغیث الرومي وتښتیده نو په همدې خوشحالی کې یې د شپې جشن جوړ کړ او ټوله شپه یې په خوشحالی کې تېره کړه.

بل لورې مغیث الرومي ټوله شپه د خپل لښکر سره یو یو ځای نفل وکړه او له الله تعالی څخه یې د مرستې غوښتنه وکړه تر څو اسلامي لښکر په قرطبه بریالی کړي که څه هم دا دې ښار نیول څه اسانه خبره نه وه خو بیا هم د الله ﷻ په

پرسمه اسلامي لښکر به پوره عبرانه له یوې عیاشتې جرګې
جګړو وروسته قرطبه ونیوله او بریالي شو.

له بله پلوه امیر موسی بن نصیر د شمالي افریقې له مرکز قیروان څخه د اتلس زره لښکر سره اندلس ته راروان وو ځکه موسی بن نصیر دا فکر کولو چې طارق بن زیاد به جګړه دوی او د دې د رانګ انتظار به کوي خو طارق داسې نه دي کړې او مخ په وړاندې روان دی.

❀❀❀

زید بن کساده چې طارق بن زیاد کوم لورې ته لېږلي و هغه د اندلس یو لوی، مشهور او مظبوط ښار غرناطه وه چې تښتیدلي یهودیان هم په همدې ښار کې دی یهودیان به غرناطه کې خلکو او جنګي قومندانانو ته یوه ورځ په بله غونډه کې ویلي وو. قدرمنو اولسونو او ښاغلو قومندانانو اوس په اندلس کې کوم حکومت نشته بلکې یواځې جګړه روانه ده که چېرې مونږ بربریانو ته ماته ورکړو نو راتلونکي حکومت به زمونږ او ستاسو وي که مونږ جګړه وګټلو نو ولسمشر به زه شم او زه به په خپل ځای له تاسو څخه یو تن وټاکم او په همدې ترتیب سره به د حکومت واګې په خپل لاس کې واخلو او زه به له تاسو څخه هر یو ته غټه غټه

څوکې او دنده درکړم. خو په یاد ولرئ چې تر هر څه دمخه د اسلامي لښکر ماتول ډېر اړین دي.

په غرناطه کې خلکو ته معلومه نه وه چې تیمهوډ میر له اسلامي لښکر څخه یو وار ماته خوړلې او اوس تري دلته راتښتیدلی دی نو څکه خو ټولو ورسره هوکړه وکړه. دوی دلته د حکومت کولو په خوبونو کې غرق وو چې زید بن کساده د غرناطې په مخکې پرته کلا ارچیډونا په ډېرې لږې مرګ ژوبلې سره ونیوله او اوس د غرناطې لپار تیاري نیسي، مسلمانانو خو په خپلې بهادرۍ او مېړانې دا کلا ونیوله خو له غرناطې څخه مخکې دوه کلا ګانې مالاکا او مورشیا هم پرتې دي چې له نیولو پرته یې غرناطې ته ورتګ ممکن ندی مسلمانانو یو خل بیا له جزبو او ولولو څخه ډکه جګړه پیل کړه چې په پابله کې یې دا کلاګانې هم ونیولې اوس نو وار د غرناطې دی خو د دې کلا نیول به لږ څه سونزمن وي څکه دا هغه کلا ده چې د تیمهوډ میر په ګډون پکې یو سر شخه لښکر هم شتون لري او بله دا چې اسلامي لښکر په ډېر کم شمېر سره په پرله پسې توګه جګړې کوي او فتحې هم د اسلامي لښکر په برخه کېږي: همدا د الله ﷻ مرسته نده نو څه ده؟

زید بن کساده خپل لښکر ته وویل: مونږ او تاسو باید په پوره مېړانه او جرأت سره وجنګېږو تر څو هاغه اسلامي ډلو ته چې د اندلس نورو سیمو ته تللي دي دا موقع په لاس ورنشي چې مونږ ته بې غیرته او بې ایمانه ووایي مونږ هم باید په هر حال کې غرناطه فتحه کړو تر څو سر لوړي پاتې شو. له دې خبرو څخه وروسته ټولو بربریانو په یوه خوله وویل: زید بن کساده مونږ ټول له تاسره یو ته موچې هر چېرته وړې مونږ له تا سره تللو ته تیار یو ته امر کوه مونږ به د سر په بدل هاغه کار کوو مونږ له تاسره یو او له تا مخکې به خانونه د الله ﷻ په نوم او دین باندې قربان کړو!! (سبحان الله)

له داسې اوازونو څخه وروسته زید بن کساده لږ وړاندې ولاړ او د دعاء لپاره یې لاسونه پورته کړه. یو تاریخ لیکونکي هم ندي ویلي چې زید بن کساده په دعاء کې څه وویل: خو دومره وایي چې زید بن کساده خپل رب ته په ډېره عاجزۍ سره سر ټیټ او لاسونه پورته نیولي وو او له الله ﷻ څخه یې غوښتنه کوله.

د لږې شیبې وروسته یې سر راپورته کړ او خپل لښکر ته یې وویل: ای د الله ﷻ میندانو! ماته الله تعالی الهام وکړ چې فتحه به ستاسو وي اوس نو د فکر کولو اړتیا نشته مګر په یاد

ولې؛ چې فتحه پرته له جګړې څخه لاسته نه راځي نو مونږ او تاسو باید ښه په مېړانه او جذبه سره جګړه وکړو تر څو فتحه حاصله کړو له دې خبرو وروسته زید بن کساده په غرناطه باندې حمله وکړه او یوه خونړۍ جګړه ونښتله دا جګړه هم له الیسیجا او ګادلیت له جګړو څخه کمه نه وه هره خوا به سرونه او لاسونه پرې کېدل او دا پکې وړه خبره وه چې لاس او پښه یې نشته!! جګړه ښه توده او دوامداره شوه، خو د اسلامي لښکر په ګټه روان وه هرې خواته د عیسویانو سرونه له تنو څخه پرې کېدل او رمباړې یې تر اسمانه پورې پورته کېدې خو څوک یې د اوریدلو نه وو جګړه ماذیګر ته نږدې محال پای ته ورسیده او په میدان کې هره خوا د عیسویانو سرونه، لاسونه او پښې پرتې وې تیمهوډ میر د نورو جګړو په څیر بیا هم د جګړې له ډګر څخه ورک شو!!

تاریخ لیکونکي وایي چې د اندلس په جنګونو کې له دې جګړې څخه پرته په بله جګړه کې زیاته مرګ ژوبله نده شوې.

اسلامي لښکر په لاس ته راوړل شوې فتحه باندې خوشحالي پیل کړه او هره خوا د خوښۍ فضاء خپره شوه کله چې اسلامي لښکر مخ په وړاندې لاړه تر څو غرناطې ته ننوځي نو ګوري چې د کلا د دیوالونو په سر خلک ولاړ دي

چې کټ مټ لښکر نه ورته وو زید بن کساده ولیدل چې غرناطې ته د ننوتلو هيڅ لار نشته زيد ابن کساده د کلا دروازې ته مخامخ ولاړ او ناګهانه دروازه خلاصه شوه او له دروازې څخه تيهوډ مير سره د يو غلام او څلور ساتونکو راووتلو خو د حيرانتيا خبره دا وه چې له تيهوډ مير سره د ملحې بيرغ په لاس کې وه او د ابن کساده په لور راروان و کله چې ښه رانږدې شو نو زيد ته يې ووېل: که د خان او لښکر ژوند او خير غواړې نو له ما سره روغه وکړه په همدې کې زما او ستا خير دى! کنه نو وګوره چې د غرناطې د کلا په ديوالو څومره لښکر ولاړ دي او د همدې درې برابر نور د کلا په داخل کې دي هغوى زما اشارې ته منتظر دي که امر مې وکړ نو همدا اوس به تا او ستا لښکر له خاورو سره خاورې کړي نو ښه خبره دا ده چې ته له ماسره روغه وکړې!! هو! زه به ستا هره خبره منم او ستا له خوښې پرته به هيڅ کار نه کوم.

ويل کېږي چې زيد بن کساده له تيهوډ مير څخه ندى وېرېدلى خو دا چې لښکر يې د پر ليسې جګړو له امله ډېر ستړى وو نو په خپل لښکر يې رحم وکړ او د اوس لپاره يې له تيهوډ مير سره روغه وکړه خو د زيد بن کساده په پرېکړه خپې واړه لښکر مشران خوښ نه وو او غوښتل يې په کلا

باندې هم برید وکړي څه چې پیښېږي پیښ دي شي دوی یې لیدلو او زغملو ته تیار دي خو بیا هم زید بن کساده له ټیپهوډ میر سره د روغې یو خط ولیکه او روغه یې ورسره وکړه خو خپلو ملګرو ته یې وویل چې سهار کله مونږ کلا ته ننوتلو نو باید ډېر هوښیار اوسئ ځکه دا عیسویان دي او هېڅ اعتبار پرې ندی پکار هسې نه چې کومه دسیسه راته جوړه نکړي له روغې وروسته ټیپهوډ میر له زید بن کساده څخه ولاړ او ورته یې وویل: سبا سهار به تاته د غرناطي دروازې خلاصې وې خو کله چې سهار زید بن کساده او ملګري یې کلا ته ننوتل نو په کلا کې پرته له ټیپهوډ میر او یو غلام څخه نور هېڅوک نه وو زید بن کساده او لښکر یې حیران شو چې دا څه کیسه ده زید بن کساده ټیپهوډ میر ته وویل: دا څه دي؟ او ستا لښکر چېرته دی؟

ټیپهوډ میر ورته په خندا کې وویل: لښکر نشته دی لښکر خو ټول تاسو تباه کړ نور د کومه شي؟ ماتاته دوکه درکړه خو پدې سره مې د ډېرو خلکو ژوند وژغوره دوکه مې درکړه مګر زه په خپله خبره کلک ولاړ یم ما تا ته ویلي چې زه به ستاسو هره خبره منم نو منم یې! پدې خبره کې مې درته دوکه نده درکړې زه ستا هر امر منلو ته تیار یم.

زيد بن کساده له طارق سره له مشورې پرته، تمهود مير د غرناطې مرستيال والي وټاکه څو د غرناطې د ولايت واګې يې بو بربري مسلمان ته وسپارل.

د کلا په ديوالونو چې تمهود مير کوم کسان ودرولي وو هغه يواځې ښځې ماشومان او سپين ږيري وو دا چې په غرناطه کې وروسته څه کېږي دا به وروسته روښانه شي.

❀❀❀

اوس نو د طارق بن زياد او اسلامي لښکر د حملې خبر طليطلې ته رسيدلی دی ټول خلک وارخطا او لالهانده وو ټولو دا پريکړه وکړه چې له طليطلې څخه ووځي او خپل مالونه په يو ځای کې خوندي کړي او کله چې مسلمانانو طليطله ونيوله او په ټوله سيمه کې پوره امن شو نو بيرته به راشي او خپل شته به تر لاسه کړي. طليطله دا وخت د اندلس مرکز او زړه دی او د هېواد ټول مالداره او غريب خلک همدلته دي. د ښار ټول خلک په همدې خبرې سره صلاح شو او خپل مالونه يې راټول کړه او يوه لويه خزانه يې تيرې جوړه کړه بيا يې دا خزانه مشر پادري ته وسپارله مشر پادري خزانه له ځان سره واخيسته او د ښار په لويه کليسا کې يې په يوه تل خونه کې ښښه کړه پدې کار هېڅوک خبر نه شو

پرته له یوې جلې چې اینا میري نومیده او دا د همدې مشر. پادري رازداره وه بیا ټول قوم سره راټول او یوه لویه قافله ترې جوړه شوه او د تللو هوډ یې وکړ اینا میري هم په همدې قافله کې له دوی سره یو ځای ووتله خو خپل ملګري جیم سره یې په پټه خبره کړیوه چې د شپې به په څه چل او هنر له قافلې څخه ځان بیل او ورک کړي او په پټه به خزانه لاسته راوړي چې ټول عمر به پرې مزې او چړچې کوي.

قافله له طلیطلې څخه ووتله او کله چې لږ لرې ولاړه نو د شپې په راتللو سره ترې اینا میري او جیم بیل شو او ځان یې د خزانې تر څنګ ورسولو شپه پښه ده او هره خوا خاموشي خپره وه اینا میري او جیم دواړه تل خونې ته په وېره وېره ورننوتل اینا میري جیم له لاس څخه نیولی و او د خزانې په خوا کې یې ودرولو. بیا یې ورته وویل جیم دا هاغه خزانه ده چې زما او ستا ټول ژوند به پرې جوړ شي.

جیم چې کله خزانه ولیده نو ډېر حیران شو ځکه جیم له دې مخکې دومره لویه خزانه نه وه لیدلې نو له وارخطایی څخه یې لکه د لیونیانو په لوړ غږ وویل: دا ټوله خزانه زما ده! دا ټوله خزانه زما ده: جیم به دا اوزونه کول او خزانه به یې په سر بادوله اینا میري ورته وویل: جیم دا څه کوې؟ دا څه لیونتوب دې شروع کړ ځان قابو کړه اوس د دې لیونتوب

وخت ندی زه او ته باید په ډېره هوښیارۍ سره ځان له دې ځایه وباسو. جیم د اینا میري په خبرو لږ ارام شو خو بیا یې هم ورو، ورو ویل چې دا هر څه زما دي! دا هر څه زما دي!

کله چې جیم او اینا میري د خزانې په راټولو پیل وکړ نو په حال کې یې د پښو اوازونه واریدل خو اهمیت یې ورنکړ او فکر یې وکړ چې دا زمونږ وهم دی خکه پدې تورہ شپه کې دلته څوک څه کوي؟ او یو ځل بیا یې د خزانې په راټولو پیل وکړ: خو د پښو اوزونه کوم وهم نه و او ورو، ورو رانږدې کېده دا یو کس و چې توره په لاس د خزانې پسې راغلی و: اینا میري له جیم څخه لږه لرې په دروازه کې ولاړه وه تر څو څارنه وکړي: سړی ورو، ورو جیم ته رانږدې شو او په جیم یې حمله وکړه او ورته یې وویل: دا خزانه ماته راکړه او ته له دې ځایه ولاړ شه کنه نو ۇ بدې وژنم.

جیم ورته وویل: نه، نه دا خزانه زما ده زه یې په یو حال کې هم تاته نه درکوم!

غل د دوهم ځل غوښتنې اړتیا ونه لیدله او توره یې په دواړو لاسو د جیم په سینه کې ور وتمبله. جیم له یوې کړیکې وروسته په ځمکه راپریوتلو او په ځمکه رغړیدلو!! اینا میرې چې د پهرې لپاره خنجر په لاس ولاړه وه تر څو چې غل ځان راټولولو نو اینا میري پرې د شا له لورې حمله وکړه

و غل په ورمېږ کې په خنجر وواهه او په خمکه يې راګذار کړ. جيم هم په خمکه لوغړيده او وروستی سلګی يې په خوله کې وې اينا ميري ورته ورغږ کړ. جيم ته خنګه يې ته خنګه بې؟؟ راپاڅه زه به تا له دې خايه ويسم!! خو جيم چې اخرې سلګی يې وهلې په لړ زېدلي غږ اينا مېرې. ته وويل: نه نه اينا ته اوس له دې خايه خان وباسه زه د تللو نه يم. ته خان وباسه زما غم مکوه: او له دې خبرې سره جيم ساه ورکړه.

اينا د يوې لوړې چيغې وروسته د شپې په تياره کې خپل کورته په منډه منډه ولاړه.

❁❁❁

# د لښکر تیارول

د همدې شپې په سهار طارق بن زیاد خپل لښکر راټول کړ او ورته یې وویل: چې څرنګ باید پر طلیطله باندې حمله وکړو او څه ډول یې فتحه کړو؟

بل لورې موسی بن نصیر هم د اتلس زره لښکر سره د اندلس پر خاوره کې راټول شوی دی دا د ۷۱۲ ع او ۹۳ هجري کال د ورستیو ورځو پیښه ده موسی بن نصیر خپل اتلس زره لښکر د اندلس پر جنوبي ساحلو کې خای پر خای کړ پدې لښکر کې لس زره سپاره او اته زره پلې سربازان وو او غوښتل یې د طارق سره مرسته وکړي پدې لښکرو کې د قریشو د قبیلې ځینې مخور مشران او د تیر عمر دوه زاړه صحابه کرام هم موجود وو موسی بن نصیر له راتګ څخه وروسته په شمالي افریقه کې د خان پر خای خپل دریم زوي عبدالعزیز د افریقې امیر وټاکه.

موسی بن نصیر په هاغه سیمو ورغی کومې چې طارق بن زیاد نیولې وې او اوس پکې اسلامي حکومت قایم دی خو باید ووایو چې د دولت ټول کار کوونکي یهودان او ګوتیان وو خو مشران یې بربري مسلمانان وو او په ځینو ځینو ځایونو کې بغاوتونه هم پیل شوي وو چې د موسی بن نصیر په راتګ

سره څه ختم شو او د نورو په ختمولو کې موسی بن نصیر لګیا وو د فتحې هر خبر به دمشق ته زر، زر رسیدلو تر څو د هغې خای خلک پرې خوښ شي موسی بن نصیر یو زړور او هوښیار سپه سالار وو خو اوس یې د ژوند اخري شیبې دي خکه دا ډېر زوړ شوی و د موسی بن نصیر د امتحان وخت هغه محال راغی کله چې د اشبیلې ښار ته ورسید او د هغې ښار له جنګیالیو سره مخ شو دا هم د اندلس د نورو ښارونو په څېر یو لوی او قوي ښار دی چې نیول یې اړین دي خو اسانه ندي که څه هم طارق بن زیاد دا ښار په نظر کې نیولی و خو غوښتل یې چې لومړی هاغه ښار ونیسي چې د اندلس پایتخت اوزړه دی او دا ښار طلیطله وه چې طارق ورته لښکر هم د حملې لپاره برابر کړی وو ترڅو د ولسمشری تر څوکی خان ورسوي خکه د ولسمری ماڼۍ او څوکۍ دواړه دا وخت خالي وې.

که څه هم د موسی بن نصیر سره اتلس زره لښکر دی او په دومره ډېر لښکر سره باید موسی بن نصیر اشبیله ډېر زر او په اسانۍ سره نیولې وای خو داسې ونشو او د یوې نیمې میاشتې له جګړو وروسته د موسی بن نصیر د دوه زامنو هر یو عبدالله او مروان په پوره مېړانه او نارینتوب سره اشبیله ونیول شوه!!

که څه هم ځینو تاریخ لیکونکو د موسی بن نصیر په اړه
لیکلي چې موسی د طارق په اړه ښه نیت نه لرو او غوښتل
یې چې د اندلس د فتحې تاج په خپل سر کړي او د دې د
ثبوت لپاره یې دا خبره کړې چې هغه وخت چې اندلس
فتحه هم نه وو نو موسی طارق ته یواځې اووه زره لښکر د
حملې لپاره ورکړ په داسې حال کې چې د اندلس ټول لښکر
سل زره وو او کله چې اندلس له نیمایي څخه زیات ونیول شو
نو طارق د اتلس زره لښکر سره راغی په داسې حال کې چې
کومه لویه ستونزه هم نه وه خو مونږ دا خبره نه شو تایدولی
ځکه دا روایتونه دیورپیانودي.

په هر صورت په اندلس کې یو بل لوی ښار هم وو چې
مریدا نومیده دا هم د اندلس له لویو ښارونو څخه یو ښار وو.

اوس نو موسی بن نصیر د دې ښار په لور مخه وکړه خو
مونږ باید د دې ښار له نیولو څخه دمخه د طارق بن زیاد په
اړه نوی حال وړاندې کړو.

طارق دا وخت مرستې ته ډېره اړتیا لري ځکه هغه د یو
لوی ښار د نیولو لپاره روان دی او دا هم څرګنده وه چې
موسی بن نصیر د اتلس زره لښکر سره اندلس ته راغلی دی
او ځینې ښارونه یې هم فتحه کړي دي طارق بن زیاد خپل
لښکر واخیست او په طلیطله باندې ورننوت دې ښار ته د

سونلو په وخت کې د طارق بن زیاد مخه چا ونه نیوله پدې
کار سره طارق حیران پاتې شو چې ولې دومره لوی ښار ته په
ننوتلو سره یې چا مخه ونه نیوله فکر یې کولو چې اندلسیان
دوکه کوي او د شا له لورې به پرې حمله وکړي نو خپلو
لښکرو ته یې وویل چې باید تل هوښیار اوسي هسې نه چې
د دښمن په دام کې ګیر نشي. بیا یې جولین او اوپاس د
مشورې لپاره راوغوښتل کله چې دوی په خپلو منځو کې د
مشورې په مخ کې سره مشوره کوله نو ناڅاپه د شاهي
ماڼۍ دروازه خلاصه شوه او پنځه تنه په اسونو سپاره ترې
راووتل.

کله چې راډرک ووژل شو نو د راډرک زوی د خپل پلار پر
ځای د واک په ګدۍ کېناست. او لکه څنګه یې چې پلار بې
لارې وو همداسې یې زوی هم بې لارې و په دربار کې د پیغلو
انجونو ساتل او له هغوی سره بیا ناوړه عمل کول. شراب
څښل او داسې نور کارونه ورته وړه خبره وه.

له دربار څخه چې کوم پنځه کسان په اسونو سپاره
راووتل هغوی له خان سره د صلحې پیغام راوړی و د جولین
او اوپاس سره یې په اندلسي ژبه خبرې وکړې او بیا ورته
طارق ډاډ ورکړ چې د دوی مال او شته به خوندي وي! او دوی
به د اسلامي نظام تر سیورې لاندې په ډاډه زړه سره ژوند

کوي: له دربار څخه راوتو کسانو طارق ته وویل چې دربار ته په نئوتلو سره به ستاسو ډېر قدر وشي.

طارق ورته وویل: دا خبرې پرېږده دا راته ووایه چې په دربار کې دننه لښکر شته او که نه؟

یو کس ورته وویل: لښکر خو نشته! یو لښکر مشر. د بوګو په نوم وو هغه هم د راډرک زوی وواژه اوس نو په ټوله طلیطله کې لښکر نشته.

مګر طارق بیا هم خپل لښکر ته ویل چې د دوی په خبرو پوره باور مکوئ او کلا ته د ننوتلو په وخت کې ښه هوښیار اوسئ هسې نه چې لښکر پر مونږ ناڅاپه یرغل وکړي.

❀❀❀

مسلمانان چې کله طلیطلې ته ننوتل نو د یهودانو او ګوتیانو له خوا یې ډېر ښه، ښه راغلاست وشو په شاهي ماڼۍ کې هېڅ یو لوړ رتبه کس موجود نه و پرته د راډرک د خوان زوی او پیغلو انجونو څخه چې د راډرک زوی د خپل ساعت تیرۍ لپاره له ځان سره ساتلې وې.

پروفیسر ډوزي وایي چې طارق بن زیاد ته له شاهي ماڼۍ څخه دومره مال راتول شو چې یوه لویه خونه پرې ډکه

شوه او طارق یې په لیدلو سره ډېر حیران پاتې شو پدې راتول شوي مال کې یواځې پینځه ویشت د سرو زرو شاهي تاجونه وو چې د طارق پر مخ کې کیښودل شو دې ته ورته نور تاریخي اثار هم ورته راوړل شو ځکه طلیطله دا وخت د اندلس پلازمېنه وه او له همدې وجې پکې هر تاریخي او شاهي اثار پراته وو.

دا چې په طلیطله کې خپل لښکر نه وو نو طارق بن زیاد له یهودي او ګوتي قوم څخه خلک په دنده وګمارل او هغوی یې د ښار په ساتلو کې بوخت کړه خو مشر یې پخله و ځکه دا ښار د اوس لپاره د هېواد مرکز دی او ساتل یې هم اړین دي نو ځکه پکې طارق د واک په ګدۍ پخپله کېناسته.

طارق یوه شپه په شاهي ماڼۍ کې تیره کړه سهار وختي یوه پیغله جلۍ د دې د لېدلو لپاره راغله دا جلۍ اینا میري وه چې لویې کلیسا د تل خونې د پیښې سره مخ شوې وه.

اینا میري طارق ته وویل: زه غواړم د نورو خزانو په اړه هم تاته معلومات درکړم خو زه یو شرط لرم او هغه دا چې ته لومړی له ماسره ژمنه وکړه چې ته به ماته څه سزا نه راکوې.

طارق بن زیاد ورته وویل: سمه ده زه تاته څه نه وایم.

جلۍ وویل: زما نوم اینا میري ده او له ما څخه په زوره راهبه جوړه شوې وه چې زما ورسره پدې کار کې هېڅ خوښه

په وه بيا يې طارق ته وويل اوس نه له ماسره خيبې کسان راستوه چې زه ورته خزانه وښايم.

طارق ورسره څيني مسلمانان ولېږل تر څو خزانه راوړي. جلې له ځان سره مسلمانان روان کړه او هغه تل ځوي ته ورغلل چې په لويه کليسا کې يکي خزانه ځاى پر ځاى شوې وه او اينا ميري او جيم يې د ورلو لپاره د شپې په تياره کې نللي وو مګر د جيم له مړينې وروسته اينا ميري هم وتښتيده او خزانه هم همداسې پاتې شوه.

اينا ميري له ځان سره مسلمانان ويوړل او خزانه يې د طارق په مخ کې کېښوده.

په همدې شپه اوپاس او ميرنيا هم په دربار کې په يوه خونه کې شپه وکړه مګر اوس د ميرنيا په زړه کې د اوپاس لپاره هاغه مينه نشته چې مخکې يې ورسره لرله. او نه هم بدې شپه د دې دواړو تر منځ څه پيښ شوي دي يواځې دوی دواړو په خپل منځ کې خبرې وکړې چې له خبرو څخه هم داسې ښکاريده چې اوس د ميرنيا د ژوند هدف له خلکو نه يواځې ژوند کول دي او دوی اوس يواځې د دې لپاره يو ځاى دي چې د مسلمانانو سره مرسته کوي.

کله چې سهار شو نو ميرنيا له خونې څخه راووتله او د دې بلې خونې په لور لاړه د هغې خونې تاله يې خلاصه کړه.

خونه له ډېر بد بوي څخه ډکه وه: میرنیا څلور تنه راووغښتل او په خونه کې يې د تختو يو لوي بکس وربانديې پورته کړ بیا يې ورته وویل: دا بکس د طارق مخې ته کېږدئ.

کسانو ورته وویل: مګر اغلې له دې بکس څخه ډېر بد بوي راځي هغه يو ستر سپه سالار دی هغه به مونږ په دې ګوستاخی ووژني.

میرنیا لږ په غصه وویل: زه درته وایم دا بکس د هغه مخې ته کېږدئ.

کسانو وویل: سمه ده! او بیا يې بکس پورته کړ او د طارق مخې ته يې کېښوده.

دا وخت طارق په شاهي مانۍ کې ناست و.

اوپاس طارق ته وویل: ښاغلیه دا میرنیا ده او د یهودي قوم سره تعلق لري او دا هغه ښځه ده چې د جګړې له پیله تر اوسه پورې له مونږ سره مرسته کوي او د همدې په مرسته له مونږ سره په جګړه کې په زرګونو یهودان او ګوتیان بوخای شو.

طارق ورته وویل: سمه ده زه به دیته د دې له خوښې څخه څو برابر زیات انعام ورکړم.

ميرنيا ورته وويل: شاغليه! ما له تاسو سره مرسته د
زمام په خاطر نده کړې بلکې د خپل روح د خوشحالۍ او له
راډرک څخه د غچ اخيستنې لپاره مې دا کار وکړ.

له بکس څخه ډېر بوي تللو چې ټول محل يې په سر
راخيسته چې يې ټول خلک په تکليف کړي وو!

طارق ميرنيا ته وويل: پدې بکس کې څه دي او دلته دي
ولې راوړ؟

ميرنيا وويل: اوس به يې وګورې! او بيا يې له بکس څخه
سر پورته کړ د بکس څخه د سر پورته کولو سره سم په محل
کې دومره بد بوي خپور شو او هر چا خپلې پوزې ته
دسمالونه ونيول. خلکو چې په بکس کې دننه وليدل نو
ګوري چې يو مړی پروت دی چې ډېروزې بې کړې وې.

طارق بن زياد ميرنيا وپوښتله: دا څوک دی؟ او دلته دې
ولې راوړی دی؟

ميرنيا ځواب ورکړ: دا هاغه جادوګر دی چې که چېرته
ژوندی وای نو اوس به ته د دې تخت پر ځای دلته په
زنځيرونو تړلی ولاړ وې او راډرک به دې مخې ته له خندا
څخه شين ولاړ و. بيا يې ورته ويل دا ما وژلی دی او دا راډرک
دې جګړې د کاميابولو لپاره راوړی و! او بيا يې ورته ټوله
بېښه تيره کړه.

طارق ورته وویل: دا خو سمه ده مګر دا دې ماته ولې راوړی دی؟

میرنیا وویل: له ما سره ستا لپاره له دې څخه ښه ډالۍ نه وه چې تاته مې درکړی وای: له دې خبرې سره سم میرنیا له داسې اواز کولو سره په منډه منډه له دربار څخه ووتله.

زه اوس خپلواکه یم! زه اوس خپلواکه یم! او بیا د خلکو له نظر څخه پناه شوه.

اوپاس له دې ورځې څخه وروسته د میرنیا پسې ډېر لټون وکړ خو میرنیا ورته په لاس ورنغله.

❀❀❀

کله چې یو ځل بیا سهار خپله غېږه پرانستله او لمر خپلې وړانګې په اُندلس راخپرې کړې نو دې سبا له ځان سره دوه زېري لرل چې یو ته یې ډالۍ هم ویلې شو.

طارق ته خپلو سربازانو د سرو زرو هاغه میز راوړ چې تاریخ لیکونکو ورته د سلیمان علیه‌السلام میز ویلی او په اندلس کې هم په همدې نوم او ویاړ سره له یو بادشاه څخه بل بادشاه ته پاتې شوی دی مګر اوس طارق ته په لاس ورغی او ډېر پرې خوشحاله شو او غوښتل یې چې دا میز همدا اوس خلیفه ولید بن عبدالملک ته ډالۍ کړي طارق هغه کسانو ته

چې میز یې ورته راوړی و. وویل: دا میز مو له کومه کړ؟ یو کس ورته وویل: ښاغلیه سهار وختي مونږ په ښار کې ګرځه کوله چې څو کسه په ګاډي کې سپاره او له طلیطلې څخه د وتلو په حال کې وو او له هغوی سره په ګاډي کې دا بکس هم پروت وو مونږ ته سودا پیدا شوه چې پدې بکس کې به څه وي؟ کله چې مونږ هغوی ته د ودریدلو وویل نو هغوی د ودریدلو پر ځای ګاډی نوره هم تیزه کړه مونږ هم د هغوی د نیولو لپاره خپل اسونه ورپونده کړه تر څو هغوی راونیسو د لږ مزل وروسته مونږ پدې وتوانیدو چې هغوی ونیسو کله مو چې هغوی ونیول نو مونږ ترې وپوښتل چې پدې بکس کې څه دي؟

هغوی وویل: دا یو تاریخي بکس دی او مونږ به په هر قیمت تاسو ته دا بکس درنکړو.

مونږ ورته یو ځل بیا وویل: پدې بکس کې څه دي خو هغوی یې له ښودلو څخه انکار وکړ اخر مونږ مجبور شو او له هغوی څخه مو په زوره بکس واخیست کله مو چې خلاص کړ نو دا میز پکې پروت وو هغوی مونږ ته وویل: مونږ به تاسو ته ډېر زیات دولت درکړو خو دا میز له مونږ څخه مه اخلئ ځکه دا یو تاریخي میز دی او مونږ نه پدې وپاړ راپاتې دي چې دا د سلیمان ﷺ میز او د هغه د لاس ننبه ده:

مجاهدینو بیا طارق ته وویل: مګر ښاغیله هغوی که هر څومره زاري موږ ته وکړې موږ ترې دا بکس سره له میزه راوخیستنه او دا دی اوس مو ستا په مخ کې ایښی دی!

طارق ورته وویل: ډېر مو ښه وکړه.

دوهم: یو قاصد پیغام راوړ او طارق ته یې وویل: ښاغلیه ایا ته خبر یې چې امیر موسی بن نصیر له اتلس زره مجاهدینو سره اندلس ته راغلی دی؟ او هاغه ښارونه چې موږ فتحه کړي وو خو زموږ له دې خوا راتګ څخه وروسته یې بغاوتونه کړي وو ټول یې بیرته لاس ته راوړي دي؟

طارق د موسی بن نصیر په راتللو سره ډېر خوښ شو او ویې ویل: زه پوهېدم چې هغه به ضرور زما د مرستې لپاره راځي هغه زما مشر سپه سالار نه بلکې زما د پلار په ځای دی اوس به زه پرته له کومې ستونزې او تشویش څخه مخ په وړاندې ولاړ شم! موسی بن نصیر دا وخت د انسان نه بلکې د یوې ملائکې په څېر الله تعالی زما د مرستې لپاره راولېږه.

دا خو د طارق فکر وو بل لورې موسی بن نصیر چې کله د مریدا ښار ته نږدې شو نو ورته معلومه شوه چې طارق بن زیاد مخ په وړاندې تللی دی او د دې له امر څخه یې سرغړونه کړېده همدا و چې د موسی بن نصیر په زړه کې ورته غصه راپیدا شوه او ویې ویل: زه به هغه خپل سری سپه

سالار له دندې څخه گوښه کړم هغه ولې زما له امر څخه سرغړونه کړېده. هغه باید زما تر راتگ پورې صبر کړی وای.

حیات ابن تمامي ورته ووېل: هغه اوس د اندلس په مرکز طلیطله کې دی هغه باید طلیطله نه وای فحته کړی او دا ښار بې باید تاته پرېښودی و چې تا فتحه کړی وای خکه هغه د اندلس مرکز دی او ته هم یو امیر او لوی سپه سالار یې!

موسی بن نصیر نور څه ونه ویل او چپ پاتې شو.

د موسی بن نصیر سره خپل دوه ځامن عبدالله او مروان هم راغلي وو خو کله چې موسی بن نصیر د مریدا د ښار دومره قوي لښکر ولید نو خپل درېیم زوی عبدالعزیز یې هم راوغوښته تر څو په جگړه کې بریالي شي.

موسی بن نصیر خپلو زامنو ته ووېل: ای زامنو! کېدای شي چې دا زما وروستۍ جگړه وي او زه له دې جگړې وروسته او یا هم په همدې جگړه کې وفات شم خکه یو خو زما عمر نور ختم دی او بل دا چې دا جگړه هم کوم معمولي جگړه نه ده زه د عمر په اخري شېبو کې یم. بیا یې خپل زوی عبدالعزیز ته ووېل: زویه زه غواړم چې ته د اندلس امیر جوړ شې او زه به ستا لپاره د خلیفه ولید بن عبد الملک څخه د دې دندې منظوري هم واخلم! ستا څنگه خوښه ده؟

عبدالعزيز ورته وويل: پلارجانه! ايا د دې دندې لپاره له ما څخه طارق بن زياد ډېر وړ او غوره نه دی؟ ځکه هغه د اندلس سل زره لښکر ته په يواځې په اووه زره عسکرو سره ماته ورکړېده او بله دا چې په اندلس لومړی، او سخته حمله هم طارق بن زياد کړېده.

موسی بن نصير ورته وويل: زه چې په څه باندې پوهېږم په هغې باندې تاسو نه پوهېږئ موسی بن نصير دا خبره همدلته پرېښوده او بيا يې وويل: زه تاسو ته يوه بله خبره هم کوم او هغه دا چې د مريدا ښار له مونږ څخه ډېره قرباني او سرښندنه غواړي ايا تاسو دې کار ته تيار ياست؟ او که تيار نه ياست نو په ياد ولرئ چې مونږ بايد دا کار وکړو !!

زامنو يې ورته وويل: پلار جانه! مونږ د الله ﷻ په لار کې هر ډول قربانۍ ته تيار يو!! او مونږ به په دې جګړه کې له هېڅ ډوله قربانۍ څخه مخ وانهړوو.

موسی بن نصير له طارق بن زياد سره څه کينه نه لرله او نه يې له هغه څخه د اندلس د فتحې تاج اخيستل غوښتل خو يواځې غصه ورته وه چې ولې يې د دې خبرې ته غوږ نه دی ايښی او د دې خبره يې ولې نه ده منلې او دا غصه او زړه بد والی يې هم د مينې له وجې وو او هغه ځکه چې په موسی بن نصير باندې طارق بن زياد ډېر زيات ګران وو او که

کله به يې پرې لږ ناز کولو او طارق بن زياد يې هم هر ناز د
هر په سترګو منلی!!

مريدا کوم وړوکی ښار نه وو بلکې د طليطلې په څير يو
لوی او مذهبي ښار و ډېر او قوي لښکر يې هم درلود، چې به
مريدا باندې له سره او عال څخه تير وو پدې ښار کې هم د
طليطلې په څير يو لوی مرکز و او يو والي چې نوم يې رازيليو
و د خپلې يوې مشاورې ايجلونا سره يکې اوسيدلو د دی
ښار دفاعي سيستم ډېر پیاوړی او قوي و. د قرطبې، غرناطې
او اشبيلې په څير نه و چې په ډېره اسانی سره ورته ښار
پريوځي! ښکاره ده چې داسې ښار نيول به ډېر ګران او نه
ناوانه خالي نه وي!! رازيليو له مريدا څخه مخکې په طليطله
کې اوسيدلو او ايجلونا هم ورسره وه د راډرک له مرګه وروسته
د راډرک زوی د خپل پلار په ځای کيناسته کله چې رازيليو
وليدل چې نور يې په طليطله کې خبرې نه څوک غوږ نيسي
نو ايجلونا ته يې وويل: زه خو وايم چې زه او ته له طليطلې
څخه مريدا ته ولاړ شو ځکه د مريدا ښار دفاعي سيستم نه
طليطلې څخه قوي دی او بله دا چې په هغې ښار کې ډېر
بادريان شته چې زموږ خبره به ومني او د څه وخت تيريدو

وروسته کېدای شي چې واک او اختیار هم ټول زما شي نو چې زه واکمن شوم ته به ملکه شې زما ومنه او خه چې له دې خایه ولاړ شو.

ایجلونا ورته وویل: ایا ته ډاډه یې چې هلته به زمونږ قدر او خای وشي؟ بیا یې ورته وویل: او هلته به زما حیثیت څه وي؟

رازیلیو ورته وویل: هلته به زه له تاسره یم ته به د هغې ښار ملکه شې او که کوم بل خوب گورې نو هغه له زړه څخه وباسه! خکه د اندلس بادشاهي مسلمانانو ټوټه ټوټه کړیده زمونږ جنگي خواک اوس کمزوری شوی دی د مسلمانانو هدف اوس یواخې طلیطله ده اوس چې له مونږ څخه هر څوک او هر چېرته وي هغه به د هغې خای شاه او واکمن وي او مونږ دواړه هم د شاهي کورنۍ غړي یو نو په گډه به په مریدا کې خپل حکومت جوړ کړو او ټول خلک به د خان تابع وگرځوو د مریدا دفاع ډېره قوي ده او څواکونه یې هم پیاوړي دي زه او ته به په قراره قراره خپله بادشاهي پراخه کړو او پدې ډول به یوه ورځ د ټول اندلس واکمن شو مریدا زمونږ دیني او مذهبي مرکز دی او بله دا چې بطریق اعظم هم هلته ژوند کوي مانه غوږ شه په تاکې دا ښه والی او وړتیا شته چې بطریق په خپل لاس کې واخلې او څه دي چې

خوښه وي پرې ويې کړې او بله دا چې ته کليسا هم د ځان تابع کولی شې ته ډېره هوښياره ښځه يې زما سره ولاړه شه د وخت په تيريدو سره به هر څه درته پخپله برابر شي.

ايجيلونا ورته وويل: ته مطمين يې.

رازيليو ورته وويل: هو زه مطمين يم ته داسې وکړه چې د ځينو نورو مشرانو سره خبره وکړه او سبا سهار بايد مونږ ټول په يو ځای کې سره راټول او له طلطيلې څخه ووځو!!

راتلونکې ورځ ايجيلونا خپل سامان په ګاډي کې کيښود او د تللو اراده يې وکړ هغه هېڅ هم ونه پوښتله چې ته چېرته ځې او چېرته نه. ځکه اوس نو هر سړی د ځان په غم کې دی د راډرک نور وارثان خوښه خوشحاله وو ځکه چې د تخت او تاج يوه دعوه کوونکې کمه شوه.

ايجيلونا له ځان سره زر، سپين زر او نور قيمتي شيان سره د خپلو غلامانو واخيسته او روانه شوه.

له ايجيلونا سره رازيليو نه و ځکه هغه لدې څخه مخکې روا ن شوی و او په لاره کې ورته ولاړ و له هغه سره خپل ساتونکي هم و کله چې د ايجيلونا کاروان ورسره يو ځای شو نو په ګډه د مريدا په لور روان شو.

کله چې دوی مريدا ته ورسيدل نو رازيليو ايجيلونا په شاهي دربار کې ځای پرځای کړه او د اوسيدو ځای يې ورته

برابر کړ خو لا تراوسه يې هيڅ ته هم ونه ويل چې مونږ په خپله خوښه يو بېل حکومت جوړوو ځکه په مريدا کې دا خطر و چې ځينې جنرالان به يې مخه ونيسي او دې کار ته به يې پرې نږدي يواځې دومره يې ورته وويل چې مونږ د شاهي کورنۍ غړي يو: په مريدا کې يواځې دوه جنرالان دوه دري لوړ پوړي چارواکي او بطريق اعظم او څو لوی واړه پادريان اوسيدل.

کله چې ايجيلونا هلته ورسيده نو سمدواره يې دموسيقۍ رقص او دعياشۍ نور مجالس برابر کړ: په څو ورځو کې هغې دښار ټول مشران، پادريان او که حکومتي چارواکي په خپل ځان داسې عاشقان کړه چې هر يو به ويل چې دازماده! ځکه ايجلونا له هرچاسره اړيکې لرلې او دهغوی زړونه به يې خوشحالول.

يوه ورځ رازيليو ورته وويل: زه چې دلته هر څوک ګورم نو هغه په تاباندې مين دی. شايد هر جنرال او هر پادري دافکر کوي چې دازما ده او زه به ورسره نکاح کوم.

ايجيلونا وويل:ايا دازما دحسن کمال او جادو ندی چې پدومره لږو ورځو کې مې ځانته دومره عاشقان پيدا کړه؟ او هر چاته دا څرګندوم چې هغه به زما راتلونکي خاوند وي؟

رازیلیو وویل: ایا زه هم خوب ګورم او که ریښتیا په داسې

وښې؟

ایجیلونا په زړه راښکونې او نرۍ غسکا سره وویل: ته به

ولې خوبونه ګوري !او ایا زه به ددې زړو جنرالانو سره واده

کوم؟ ته هم عجب سړی یې که زه واده کوم نو یواځې له

تاسره به یې کوم او دانور ټول ستا خوبونه ګوري! ایا په

هغوی کې زما وړ څوک شته؟ ما یواځې هغه هر یو د مړیدا

سانلو ته برابرکړی او بس ! ته فکر څه کوه زه به تا دلته بادشاه

کړم او خان به ملکه.

رازیلیو په احساساتي غږ وویل: ایا زه خان پدې پوهه کړم

چې ته یواځې زما یې؟

ایجیلونا ورته په مینه او ناز سره رو، وویل: زه یوه دزړه او

راز خبره درته کوم! زه خان ملکه جوړول غواړم او دازما هیله

او اراده ده ایا ته ما ملکه جوړولی شې؟

رازیلیو وویل: دا ته څه ډول یې خانه او چټې خبرې

کوې؟

ایجیلونا ورته وویل: ایا ته خبر یې چې قرطبه او غرناطه

دواړه مسلمانانو نیولي دي؟ او ایا ته پدې خبر یې چې

دمسلمانانو یو بل ستر او قوي لښکر هم اندلس ته رانتوتی

دی؟

رازيليـو وويـل: هـو ! او ماتـه داخـبر رارسـيدلی دی چـې ددې نوي لښکر مخه او موخه هم مريدا ښار دی.

ايجيلوناوويل: ايا ته به مريدا له دوی څخه وساتلي شې؟

رازيليو وويل: هو ايجيلونا هغوی دلته دخپل مرگ ليدلو ته راغلې دي او زه بـه د هغـوی د مريـدا دنيولـو ارمـان پـه زړه کې ارمان پاتې کړم.

ايجيلونـا وويـل: مـا داسـې خـبرې پـه طليطلـه کـې هـم اوريدلې وې! خواوس دلته دا هم واريدل چې کله دمسلمانانو لښکر په طليطله رانوت نو هغوی ورته دښار دروازې خلاصې او هرکلي يې ورته ووايه.ايا ته داسې زړورتيا ښودلی شي چې يـو څـه لښـکر لـه ځـان سره واخلـې او لـه ښـاره دباندې لـه مسـلمانانو سره جنـگ وکـړې او هغـوی دتـل لپـاره لـه منځـه ويسې؟

رازيليو وويل: ته به وگوري چې زه څه کوم.

ايجيلونا ورته په مينه او مُسکا وويل: او ته به هـم وگـورې چې زه څنگه خپل ځان او خپل روح تاته سپارم.

رښتا خبره خو داده چې ايجيلونا هر چاتـه او هـر جـنرال ته داوړ خبرې کولې او دشپې له خوا به هر جنرال ته ورتله او داوړ خبرې به يې ورتـه کـولې ايجيلونـا دهـر چالپـاره دخـوب گولۍ گرزيدلې وه چې دشپې به يې ورسره خبرې ونکړې نو

خوب به ورته نه ورتللو. هغې به مرچاته په خپل لاس شراب
ورکول او هغه به یې په خپل حسن او ښکلا کې بې سده کولو
او بیا به ورځخه بیرته تلله.

❁❁❁

حمله کونکي راروان دي تیار او چمتو اوسی دااوازونه وو
چې د کلا له هر دیوال ځخه پورته کیده اوس نو به تپول ښار
کې ګډوډي او شور پیل شو مګر دا شور او ګډوډي لکه
داندلس دنورو ښارونو په څیر دوړې او ریبدو ګډوډي نه وه
بلکې داحساس او ولولو ګډوډي او شور و خلک دبهیدو او
خان ژغورنې له امله یو او بل لورې منډې نه وهلې بلکې
دجګړې لپاره یې تیاری نیولو او خانونه یې جنګ ته برابرول
ځکه نو دوی داسې شور او غوغا جوړه کړې وه: او ددې
جګړې لپاره دمریدا اوسیدونکو له ډېرو ورځو راپدیخوا توري،
برچې، او غشي ، تیارول تر ځو په جنګ کې بې وسلې نه
ښي دا یوه داسې جګړه وه چې ښځو او ماشومانو هم پکې په
بنه برخه اخیستنه او له څو ورځو ورته په انتظار ناست او
هدا به یې ویل چې کله به اسلامي لښکر په مریدا حمله
کوي او مونږ به یې په وینو خانونه خړوبوو او دې جګړې ته د
ځوانانو او زړو سربیره ښځو او جونو هم خانونه تیارول او د
جنګ لپاره یې له پوځیانو سره تمرینونه کول.

ان

له کومې ورخې چې ایجیلونا مریدا ښار ته راغلې وه له هغې ورخې څخه جنګي تمرینونه او زدکړه ډېره شوې وه او همدا ایجیلونا وه چې خلک به یې په احساساتو کې راوړل او خلکو ته به یې رنګارنګ خبرې کولې: چرته به یې چې نیش کار کولو نو دریغ یې نه کولو نو کله چې ورته دجنګ خبر ورسېد نو سمدواره یې توره راواخیستته او داسونو طبیلې ته ولاړه درازیلیو اس یې د خان لپاره زین کړ او بیا یې پرې پښه واړوله او روانه شوه.

ایجیلونا لوخه توره په لاس دښار په ګوډ ګوډ کې منډې وهلې او دا اوازونه به یې کول.

دمریدا خلکو ستاسو د ازمایښت وخت راغی! شابې! او خانونه دجنګ لپاره برابر کړئ او دا هوډ وکړئ چې دښمن به درڅخه روغ نه خي! دبې بې مریم روح له تاسو څخه قربانې غواړي نو پورته شی او دهغې سپڅلې اروا خوشحاله کړئ.

په کوم ځای کې به چې لږ خلک راټول شو نو هلته به ودریده او خلک به یې همداسې هڅول او له احساساتو څخه ډکه وینا به یې ورته کوله یو ځای کې یې وویل: هغوی بې غیرته او بې زړه وو چې خپل کورونه اوښارونه یې مسلمانانو ته وسپارل او خانونه یې دهغوی غلامان کړل هغوی نه پواځې خانونه غلامان کړه بلکې خپلې لورګانې او ښځې یې هم

دهغوی وینځې وګرزولې چې اوس به یرې وحشي- بربریان
یزې او چرچې کوي ! ایا تاسو هم غواړی چې دهغوی به خبر
خانونه او لونبې مو دهغوی په لاس کې ورکړی او بیا نو چې
نه دهغوی خوښه وي کوي یې دربانډي؟

او که مو خوښه نه وي چې خانونه مغه وحشي او ځنګلي بربریانو ته وسپاری نو یورته شی او دخپل ښار ځخه ساتنه وکړي.

ټولو خلکو ورته وویل: نه.نه مونږ به هیڅکله مغوی نه اجازه ورنکړو چې زمونږ په مریدا باندې لکه دنورو ښارونو په شیر حکومت وکړي. مونږ به دخپل عزت او ناموس ځخه په ګلکه ساتنه وکړو.او که بدې لار کې مو سرونه هم لاړ شي نو هیڅ پروانکوي.

او په دې ترتیب به چې ایجیلونا هر چرته تلله نو خلکو به ورته همدا سې ځوابونه ورکول.

په کوم ځای کې به چې خلک لږ سست وو نو ایجیلونا به ورته ویل.آی دمریدا زمریانو داغرناطه او قرطبه نده چې مسلمانان یې درځخه ونیسي. دامریدا ده دا د بطریق اعظم ښار دی دادعیسویانو یو لوی مذهبي ښاردی نن دکلیسا ابرو ستاسو ځخه قرباني غواړي تاسوته صلیب اواز کوي په صلیب باندې دقربان شوي عیسي مسیح روح تاسوته ګوري

چې ایا تاسو په عیسایت باندې ځانونه قربانوی او که په خونو کې لکه دبې غیرتو په څیر پټیږی؟ که تاسو په مریدا کې مسلمانانو ته ماته ورکړه نو بیا به هغه ښارونه هم ونیسی چې اوس دمسلمانانو په لاس کې دي او ټول حکومت په ستاسو په لاس کې شي داویاړ او افتخار زه ستاسو په سترګو کې وینم چې مسلمانان به له اندلس څخه وشړی نو پورته شی او خپل ځانونه له خپلې خاورې او ابرو څخه ځارکړئ چې دتل لپاره مو په تاریخ کې نومونه خلانده او روښانه پاتې شي!

په یاد ولری که چېرې تاسو هم دنورو اندلسیانو په څیر زړونه بایلودل نو پوه شی چې داندلس راتلونکي نسلونه به ستاسو له نوم څخه نفرت کوي او مسلمانان به ستاسو له کلیساوو څخه جوماتونه جوړکړي. ایا تاسو دکلیسا دا سپاکوی زغملی شی؟ که زغملی یې شی نو بیا غلې کښینی او مسلمانان پرېږدی چې ټول اندلس تر پښو لاندې کړي او تاسو بیا په خپلو لاسونو کې تورې مه اخلی بلکې په خپلو لاسونو کې بنګړي واچوی او دمسلمانانو په مجلسونو کې یې دهغوی دخوشی په خاطر شرنګوی!!

ټولو په یوه خوله وویل: نه، نه مونږ دکلیسا هېڅ رنګ سپکاوی نه شو زغملی اومونږ ته دزلت له ژوند څخه دعزت مرګ سل خله غوره دی.

له دې وروسته ایجیلونا پوځ ته ورغله او هلته یې هم داسې له احساساتو څخه ډکه وینا وکړه.

پدې احساساتو کې یوه اندازه دایجیلونا مهارت وو خو ډیره برخه یې دایجیلونا د حُسن تاثیر وو خکه دهغې حُسن داسې وو چې هرچاته به یې څه ویل نو له سره بړې تیر وو او دومره به په احساساتو کې راتله چې که ایجیلونا به ورته ویل چې په اور کې خانونه وغورځوی نو هم ورته تیار وو.

موسی بن نصیر په دې هیله راغلی و چې مریدا به محاصره کړي او په اسانی سره به یې ونیسې خو داسې ونشو او دلته له یو لوی تکر سره مخ شواو جاسوسانو یې ورته ویلي وو چې دمریدا پوځیان له ښار څخه دباندې جنګ ته راوځي او له مونږ سره به جګړه کوي او دښار څخه دباندې دومره خندونه شته چې مونږ به کلا ته دننه پرنږدي: موسی بن نصیر ولیدل چې دمریدا جنګیالي مخکې له محاصرې څخه خپل ښار دومره په کنترول کې راړی دی چې اوس یې محاصره هم ډېره ګرانه خبره ده: بیا موسی بن نصیر خپل لښکر له ښاره لږ څه لرې کړ او هلته یې ورته دتم کیدو وویل:

یوه ورځ موسی بن نصیر خپل لښکر مریدا ښار ته نږدې تم کړ او په خپله دخپل دوه زامنو او دوه لویو لښکر مشرانو سره دمریدا ښار دلښکر دراز او اندازې دمعلومولو لپار ووانه: دښار شاته لوړې او شنې غونډۍ هم وې چې دکلا د دیوالونو په پناه کېدو او مظبوطېدو کې یې ښه مرسته کړې وه: دغونډیو په سر شنې ونې او لارې هم وې هلته دښار دروازې ته تنوتل گران او نا ممکن وو: موسی بن نصیر وویل: مونږ به ددې غونډیو او کمرونو په منځ کې خانونه دکلا دروازې ته رسوو څکه دلته تر نږدې خاپه پورې لښکر هم نه ښکارې. بیا یې خپل اس دغونډیو په لور پونده کړ زامن او لښکر مشران هم ورسره روان شو دوی ددوو غونډیو په منځ کې په یوه نری لاره روان وو چې نا خاپه یو غشی راغی او دونې په ډډ کې ونښته موسی بن نصیر حیران شو او ودرید چې داوخت بل غشی راغی او د دوی په مخکې پریوت: موسی بن نصیر خپل اس په بیره راتاو کړ او بیرته شاته روان شوکیدای شو چې غشي له لرې څخه ویشتل شوي وي او یا داچې غشي ویتونکي یواځې موسی بن نصیر ویرولو چې نور مخکې ولاړ نشي!!

پدې غرنۍ سیمه کې لښکر پټ وو او د دوی دراتللو په طمعه وو دا ځکه چې موسی بن نصیر پرې اوس روان دی ډېره کړه وړه وه او اسونه پرې په اسانۍ سره نه شو تللای.

موسی بن نصیر وویل: درونو دوستانو ستونزې ډېرې دي خو مونږ باید له الله ﷻ څخه ناهیلي نه شو! بیا موسی بن نصیرولیدل چې دمریدا لښکر په وسلو او وسایلو سمبال په اسونو سپاره داسلامي لښکر په لور دجنګ لپار راروان دي.

اسلامي لښکر داوخت دجنګ لپاره خاص تیاري نلرلو څکه څوک ډوډۍ ته ناست وو او څوک په نور کارونو باندې بوخت وو نه یې اسونه ځین وو او نه ورسره تورې په لاس کې وې لنډه داچې دجنګ لپار هیڅ تیار نه وو. نا ګهانه پرې دمریدا لښکر دطوفان په څیر راغی او یوه خونړۍ جګړه ونښتله که څه هم اسلامي لښکر دجنګ لپاره کوم ځانګړې تیاري نلرلو خو بیا یې هم له دښمن سره په مړانه مقابله وکړه او دواړه ډلې له مالي او ځاني تاوان سره مخ شوې که څه هم اسلامي لښکر دمریدا دلښکر څخه درنه مرګ ژوبله وکړه خو اسلامي لښکر هم پدې نا ځاپي حمله کې وځپل شو.

دمریدا لښکر جنګ ته دوام ورنکړ دطوفان په څیر راغله او بیرته ولاړل کله چې خپل ځای ته ورسیدل نو له پیغورونو څخه ډک شعارونه یې پیل کړه ویل به یې: داغرناطه او

قرطبه نده دامریدا ده!! مریدا!! دلته به تاسو په راتللو سره ډېره پښیماني وښایئ او هر وخت به له خان سره په جنګ یاست چې ولې به مو په مریدا د حملې سهوه کوله!!

له دې وروسته موسی بن نصیر په مریدا ښار باندې څو څو ځله حمله وکړه مګر بریالي نه شو دې حملو شاو خوا اته میاشتې دوام وکړ خو بیا هم مسلمانان پدې ونه توانیدل چې دمریدا ښار فتحه کړي اخر موسی بن نصیر خپل لښکر شاته کړ او غوښتل یې چې یوه بله لاره ولټوي دا چې موسی بن نصیر یو تجربه کار او هوښیار سپه سالاروو نو فکر یې وکړ چې څرنګ دمریدا ښار ونیسي؟ له ډېر فکر اوغور څخه وروسته پدې وتوانیده چې دمریدا ښار ته دننوتلو لار پیدا کړي او هغه دا چې په کومه لار مریدا ته خوراکي توکي راځي باید دا لاره بنده کړي تر څو دمریدا اوسیدونکي له ولږې سره مخ او دجنګ توان پکې پاتې نشي همدا یې غوره وګڼله او ټول پرې سلا شو موسی بن نصیر خپلو لښکر مشرانو ته وویل: زه نوره جګړه کول نه غواړم څکه زمونږ لښکر ورځ تر بلې کمزوري کېږي او داهم ددښمن یو چال دی چې زمونږ لښکر کمزوری کړي او بیا په یو ځل پر مونږ باندې حمله وکړه.

دموسی بن نصیر یو زوي عبدالله وویل: زه به نن شپه هغه لوري ته پخله ولاړ شم له کومې چې مریدا ته خوراکي توکي راځي.

موسی بن نصیر ورته وویل: سمه ده څلور غازیان او یو زیاړونکی هم له ځان سره واخله او پلي ولاړ شه ځکه داسونو په تللو به دښمن ته ستاسو د ورتګ پته ولږي.

په همدې شپه عبدالله دیسار شاتنی برخې ته ولاړ او هلته یې دراز معلومول غوښتل ورو، ورو یې هغه ځای ته ځان ورسولو چې مخکې ورته موسی بن نصیر تللې و هلته غونډۍ او کمرونه وو خمکه ټوله شلیدلې او کږه وه: بلکه دا چې دجنګ لپاره ښه مناسبه نه وه او تر شا یې د اوبانه سیند هم روان وو دسیند غاړې هم دغونډیو په خیر لوړې وې

او د دې دومره خرابۍ سره سره د سیند غاړې ځمکه لمده جبه وه او تلل پرې دومره اسانه خبره نه وه!!

عبدالله بن موسی په ډېر احطیاط سره دخپلو ملګرو په سیند روان وو ځکه هلته ټوله ځمکه جبه او ځټه وه خو خو ځله عبدالله او غازیان په ځټو کې بند شو مګر دبو بل په مرسته به یې ځانونه خوشې کول!!

شپه پښه وه او هر خواخاموشي خپل خادر غوړولی وو دوی ډېر په احتیاط سره په ختیو کې راوان وو تر څو څوک پرې خبر نشي!! پدې ساحه کې نور څوک نه و پرته له څو اندلسي څارونکو څخه او هغوی هم دبیرېو د هڅې ساتنه کوله: داوخت سپوږمۍ هم خپله روښنایي په ځمکه راخپره کړه ډېره خاموشي وه که هېڅ اواز او شور نه وو او که څه اوریدل کیده نو هغه داوبو شرهار و!!

کله چې هغوی لږ نور وړاندې ولاړل نو دانسانانو غږونه یې واوریدل چې رو،رو دوی ته رانږدې کیدل اوپه خپلو منځونو کې یې خبرې کولې.

دوی چې لږ نور مزل وکړ نو ختمه او جبه ختمه شوه او واړه واړه بوټې او وابنه شروع شو. دلته یوه لار دسنید په غاړه تللې وه عبدالله او ملګري یې په ونو او بوټو کې ځملاستل تر څو یې څوک ونه ګوري. دوه درې کسانو خبرې کولې او ددوی په لور رانږدې کیدل هغوی دومره رانږد شو چې دپښو اوازونه یې عبدالله او ملګرو یې اوریدل: له عبدالله سره خپل ژباړنکی هم وو چې په اندلسي ژبه پوهیده او دوی به دا ژباړونکي څکه ساتل چې د دوی او اندلسي خلکو تر منځ به یې خبرې ژباړلې.

کله چې دوی ښه رانږدې شو او خبرې یې د عبدالله تر غوږونو ښه رسیدلې خو هغه پرې نه پوهیده: نو عبدالله خپل ژباړنکي ته وویل: دوی په خپلو کې څه وایې؟

ژباړونکي وویل: دوی په خپلو کې دبیړیو دراتللو خبرې کوي او وایې چې نن شپه هم دخوراکي توکو بیړی رانغلې ایا دوی خپل اولس په لوږه وژني که څنګه؟

عبدالله پوه شو چې په همدې سخته او خرابه لاره خوراکي توکې دلته راځي او بیا په همدې خرابه لار د شپې له خوا ښار ته ورځي نو ددې ځای نیول له هر څه څخه اړین دي!!

عبدالله ژباړونکي ته وویل ته له دې خانه په ملاسته دسینې په مزل شاته ولاړ شه هلته زما نور ملګري پراته دي هغوی ته ووایه چې دلته په ملاسته دسینې په مزل خانونه راورسوي.

دژباړونکي په وینا هغوی له هغه ځانه راغله چې پکې پراته وو او ځانونه یې دعبدالله خواته راورسول.

بیا عبدالله ژباړونکي ته وویل اوس ستا دامتحان وخت راغی هوښیار اوسه او په ډېر احتیاط سره خپل کار تر سره کړه ته داسې وکړه چې دهغوی خواته به ورشې خو ځان داسې کړه لکه چې هېڅ بلد نه یې او ورته ووایه چې لار

راځخه ورکه ده ماته لږه لار وښایې او پدې تر تیب ورسره د ول جګړې خبرې هم وکړه او په خبرو خبرو کې یې دلته راڅو. څه نو زه به اوس ستا مهارت او هوښیارتیا ګورم!!

ژباړونکی ډېر هوښیار او ځک وو کله چې دهغوی مخه بل خوا شوه نو له ځانه پورته شو او دهغوی په لور ورغی.

کله چې اندلسي لښکريانو د ژباړن دپښو اواز واريد نو نيغ شو او ورته یې وویل په ځای ودرېږه څوک یې ته؟

ژباړونکی د ودریدو پرځای دوه درې ګامه نور هم مخکې ورغی او بیا داسې کښیناست ته به وایې ډېر ستړی دی ژباړونکې په اندلسي ژبه وویل: له ډېر لرې ځای څخه راغلی یم او اوس راځخه لار ورکه ده که لږه لار راته وښایی نو په مابه مو ډېر احسان کړی وي.

پوخیان دوه درې قدمه رانږدې شو او اوس یې شا دعبدالله په لور شوه.

عبدالله خپلو غازیانو ته وویل: اوس یې نو دنیولو ښه وخت دي بیا یې د هغوی دنیولو ورته وویل:

غازیان هم ورپاځیدل او تر څو چې هغوی په ځان خبریدل نو غازیانو پرې متې اړولې وې!

عبدالله دواړه اندلسي لښکر یان له ځان سره کړه او هغه ځای ته یې ویوړه چرته چې موسی بن نصیر ویده وو دو لاخت

موسی بن نصیر په درانه خوب ویده عبدالله هغه راپاخوه او ورته یې وویل: پلار جانه ما له ځان سره څه راوړي دي: بیا یې ورته په مخکې داندلس سمندري سربازان کښېنول هغوی ډېرویریدلي ښکاریدل خو بیا هم دموسی بن نصیر په وړاندې کښېناسته.

موسی بن نصیر دژباړونکي په خوله له هغوی څخه وپوښتل چې تاسو له جامو څخه داندلس سمندري ځواک ښکاری خو تاسو مه ویرېږئ تاسو به ونه وژل شی خو په یو شرط چې تاسو له مونږ سره دمریدا په محاصره کې مرسته وکړئ؛ که مو داسې وکړه نو تاسو به ازاد کړای شی: بیا یې ورته وویل تاسوماته داووایئ چې مریدا ته خوراکي توکې په کومه لار او له کومه ورته راځې او اوس محال په ښار کې څومره خوراکي توکي شتون لري؟ یو سرباز وویل: مونږ دسیند په غاړه دسمندري ځواکونو منصبداران یو خوراکي توکي دسیند له لارې راځې او بیا یې مونږ په ګاډیو کې ښار ته وړو او بیا یې په ښار کې داړتیا وړ ویشو او هر پیره مونږ په لس دولس ورځو کې تر سره کوو تر اوسه باید بیړۍ راغلې وای مګر نه پوهېږم چې ولې ندي راغلې.

موسی بن نصیر ورته وویل: په ښار کې داسې کومه ذخیره شته چې خوراکي توکي پکې ذخیره کړای شي؟

اندلسي ځواب ورکړ.شته خو زخیره ختمه ده که نن شپه مال راونه رسېږي نو ښار یان او لښکر به له لوږې سره مخ شي.

دوهم اندلسي- وویل: هو صیب زخیره ختمه ده او په خاصه توګه دشرابو زخیره خو بیښي ختمه ده.او په ښار کې دشرابو خوړولو کومه کارخانه هم نشته شراب ټول له دباندې ځخه راځي. له کومې ورځې ځخه چې جنګ پیل شوی نو شراب ډېر ښښل کېږي او داځکه چې پادریانو ویلې چې شراب ډېر ښښی خکه دا ویرې ته په زړه کې ځای نه ورکوي او سړي ته زړورتیا ورپه برخه کوي. تاسو نه ګوری چې ښاریان له مونږ سره په څومره جوش او ولوله یو ځای کېږي دا ټول دشرابو ښښلو برکت دی. مګر ددې مطلب داندی چې مونږ ټول دشرابو په زور جنګ کوو په مونږ کې دولتي مینه هم شته او مونږ په خپل وطن باندې سر ورکولو ته تیار یو خو دومره خبره ده چې دشرابو ښښلو سره مونږ خپله دنده لږ په ښه توګه سر ته رسولای شو او اوس حالات هم داسې شوي چې سربازان هم دخوراکې توکو پر ځای زیات شراب غواړي او ښښلو ته یې لیوال دي.

بل اندلسي وویل: ښاغلیه دغوښې ځاروي هم خلاص شوي دي او خلک دغوښې پر ځای زخمي اسونه خوري.

موسی بن نصیر وبوښتل: پرته له دې لارې څخه بله لار هم شته چې خوراکې توکې برې راشي؟

اندلسې- وویل: لارې خو ډېرې دي مګر اوس ټولې ساسو دلښکر په لاس کې دي او بواخې یوه لا ده چې دلته برې مواد راتلای شي اوسناسو خواکونه هم هلته نشته دا لار خالې ده خو یو سیند دی او بل ټوله لار ترکلا پورې ښکته بورته او ګډه وډه ده تاسې شاید په همدې خاطر هلته پوځ نه وي اچولي چې هغه لار ډېره خرابه ده او دجنګ لپاره هم برابره نده. موږ له همدې لار څخه په ګټه اخیستلو سره په ډېره سختۍ په ګاډیو کې مال ښار ته رسوو او که چېرې دالار هم بنده شي نو په ښار کې قحطي راپیدا کیدلای شي.

موسی بن نصیر خپلو کسانو ته وویل: دوی ویسی خو دیورو بندیانو په څیر صلوک ورسره ونکړئ لدوی سره ښه صلوک وکړئ.

کله چې دوی بوتلل شو نو موسی بن نصیر دباندي راووته او اسمان ته یې ولیدل. هغه ستوري لیدل چې وخت برې معلوم کړي. دشپې وروستی برخه وه موسی بن نصیر سمدواره امر وکړ چې پنځه سوه سپاره او یو نیم زر پلي سربازان همدا اوس دبیرېو هډې ته څانونه ورسوي. تر څو راهیه زر تر زره ونیسو او په ښار خوراکي توکي بند کړو!

موسی بن نصیر عبدالله ته وویل: ته ددې سرباز انو سره ولاړ شه خکه تا هغه هېره لیدلې ده خپل سربازان پداسې حال کې هلته ورسوه چې دښمن دربانده پوه نه شي زه غواړم په ښار باندې زر تر زره بندیز ولږوم داغازیان دسیند په غاړه خای پر خای کړه مگر زما دامر پورې څه حرکت ونکړې که په تاسو حمله وشوه نو خواب يې زه ورکوم ته باید دسهار له کیدو مخکې هلته ورسې. خو په یاد ولری که چېرې حالت داسې و چې جنگ باید وشي نو زما دامر پروا مه کوی دمریدا خلک له ډوډی پرته ژوند کولاي شي مگر دشرابو پرته يې نه شي کولاي اوس نو مریدا خپله وگنی!!

عبدالله له خان سره پنځه سوه سپاره او یو نیم زر پلې غازیان واخیستل او دهر غازي سره يوه لیندی او دوه دوه دغشو کڅوڼې وې او بیا دمخکې پر خای شاته روان شو!

وروسته بیا راتاو شول اوپه سیند کې وربښکته شو په اوبو کې دومره ورننوتل چې اوبه يې تر زنگنو پورې راغلې هغه خای دومره لرې نه وو خکه خو عبدالله او غازیان يې له سهار څخه مخکې مخکې خپل هدف ته ورسیدل دا وخت دښار په کلیساو کې دسهار زنگونه وکړنگیدل او دمسلمانانو پر خای کې اذانونه وشو.

غازیان هدې ته ورسیدل او هغه ځای یې ولید چرته چې
له بیړیو څخه مالونه ښکته کیدل یدې ځای کې دمال د
ښکته کیدو لپاره خاص ځایونه جوړ شوي وو او دهمدې ځای
څخه به مسافر هم بیړیو ته پورته کیده خو اوس دمسلمانانو
په خوا هر څه بند شودي دي. سپند یو پول هم لرولو خو
داهم دمسلمانانو په لاس کې شو او داوس لپاره بند شو
ځکې له دې چې سهار خپل غیر پرانیزي عبدالله خپل
غازیان ځای پر ځای کړه: کله چې دوه اندلسي. منصبداران
په سهاره پورې خپل ځای ته ونه رسیدل نو یو سپور یې
سپی راواستولو ترڅو حال معلوم کړي هغه چې کله هدې ته
ورسید شو نو یو غشی یې په اوره کې ونښته اندلسي پوه شو
چې څه خبره شته بیرته یې اس شاته پونده کړ اودښار به لور
وتښتید کله چې ښار ته ورسید نو په لوړ غږ یې وویل:
بیړیو هډه مسلمانانو نیولې ده: اوس به مونږ له ولړې څخه
وژل شو.

ددې په خبره د بیړیو هډې ته یوه لویه ډله سپاره
راټول شوهغوی چې کله دښار له وروستنی برخې څخه په
وتوکې وو نو دغشو باران پرې جوړ شو همدا وجه وه چې
ودرینه له مقابلې بیرته ستانه شو. دلته هم موسی بن

نصیر یو جنګي ټولی اچولی وو چې دحالاتو سره سم یې ګام پورته کولو.

کله چې دوهمه شپه راغله نو د بېړیو هدې ته په پر له پسې تو ګه څلور بېړې راغلې او په هدېه کې یې واړوله خو دوی لا خانونه نه وو سم کړې چې مسلمانانو پرې حمله وکړه او څلورواړه بېړې یې په خپله ولکه کې راوستې. په یوه بېړۍ کې په سلګونو اوزې،او پسونه وو او په پاتې بېړیو کې نور خوراکې توکي او دشرابو چاټې وې دعبدالله په امر دشرابو چاټې ټولې چپه شوې او عبدالله موسی بن نصیر ته خواب ولېږه چې ددې سامان درسولو لپاره نور غازیان راولېږي.

ددې عملیاتو څخه اته ورځې وروسته په ښار کې دخوراکي توکو کموالی پیداشو او هر چا به له لوږې څخه سر ټکولو له لوږې سره خو یې ګذاره کوله خو دشرابو دې قحطۍ په اندلسي سربازانو کې لیونتوب پیدا کړ او یو له بل سره به په نه خبره نښتل او ورو ،ورو په خلکو کې دجنګ جزبه ورکه شوه دبېړیو په هدېه باندې اندلسي لښکر دوه ځل یرغل وکړ مګر موسی بن نصیر دومره قوي پلان نیولي وو چې دواړه ځل یې پرته له تاوان څخه نور څه ترلاسه نکړه.

یوه شپه رازیلیو ایجیلونا ته وویل: اوس ووایه ایجیلونا ایا اوس به په خلکو کې جذبه راپورته کړې؟

ایجیلونا وویل: هو ! زه پوهېږم چې دلوړې په وخت کې جذبه څه اهمیت نلري او نه راپورته کېدای شي خو بیا به هم خپله هڅه وکړم.

رازیلیو وویل: ایجیلونا واقیعت او حقیقت ته وګوره خلک له سختې لوږې سره مخ دي اوس مونږ څه نه شو کولای پرته له دې چې مریدا دښمن ته وسپارو اوداخبره زه په ډېر فکر سره کوم اوس نو دجنګ وخت ندی اوس نو ولس خولندې نشي پاتې کېدای څکه هغوی وږي دي هغوی اوس په مونږ اعتماد هم نکوي. څکه د ولس خلکو ته خوراکې توکې نه ورکول کېږي او سربازانو ته ورکول کېږي هغوی نور زمونږ خبره نه مني او نه مونږ ته په ښه سترګه ګوري. زه خو وایم چې راځه! دښې له مریدا څخه وتختو ما دهر څه برابرونه کړیده او زمونږ دپاره به دښې دروازه هم خلاصه شي !

ایجیلونا وپوښتل چرته به ولاړ شو؟کوم لورې به ولاړ شو؟ایا داسې کوم ځای شته چې د مسلمانانو له ولکې څخه بچ وي؟

رازیلیو وویل: هو یو ځای شته زه تافرانسې ته وړل غواړم.

ایجیلونا وویل: زه پداسې وخت کې تلل نه غواړم.

رازیلیو لږ په احساساتي ډول وویل: ته پوهېږې چې نه

څه وایې دمریدا له نیولو وروسته به دمسلمانانو کوم لښکر
مشر تا خپله وینځه کړي او ته پوهېږې چې وینځه میرمن نه
وي خدمتګاره وي خدمتګاره!! ته زما خبره ومنه له ماسره
ولاړه شه او کله چې زه او ته فرانسې ته ورسېږو نو په خپلو
کې به سره نکاح وکړو او دتل لپاره به یو دبل شو.تاته خو پته
ده چې زه او ته دشاهي کورنۍ غړي یو زه به له ځان سره
دومره مال ویسم چې ته به حیرانه شې: او په فرانسه کې به
هم زمونږ ډېر درناوي وشي ته زما خبره ومنه راځه چې ځو.

دایجیلونا په خوله داسې مسکا راغله چې طنز پکې وو.

رازیلو ورته وویل: ایا ته ماته ځواب نه راکوي؟

ایجیلوانا وویل: دوه، درې ورځې صبر وکړه بیا به ګورو.

سبا سهار چې کله ایجیلونا په اس سپره شوه او دښار په
ګوډ ګوډ کې یې ګرځېده نو خلکو په منځ کې راګیره کړه
مخکې به چې کله ایجیلونا خلکو په ښار کې ولیده نو ځانونه
به یې ترې ځارول خو اوس داسې ښکاریده چې خلک
ورځخه خوښ نه دي او وربانډې نیوکه لري خلکو ورته وویل:
زمونږ په لښکر باندې څه شوي؟ هغوی ولې دمخالف لښکر
په خلاف جنګ نکوي؟ ولې محاصره نه ماتوي؟

مونږ به خپل اولادونه په ولږه و ساتو مګر پوځ ته به ښه خوراک ورکړو خو دوی دې باندني لښکر ته ماته ورکړي او مونږ دې له ولږې او غلامۍ څخه وژغوري.

او که تا سو ترې ویرېږې نو بیامونږ ته وسله او خوراک راکړئ چې ورسره وجنګېږ،هو مونږ دهغوی سره جنګ ته تیار یو.

نن به چې ایجیلونا هر ځای او هرلورې ته تلله نو له همدا سې صلوک او اوازونو سره به مخ کیده.دټولې ورځ له ګرزیدو ورسته ایجیلو نا بیرته راغله اوجنرالانو هم ور ته وویل: اغلې زمونږ خوراکي توکي هم خلاص شوي دي که داسې حال وي نو مونږ به خپل ځانونه دښمن ته وسپارو ځکه چې زمونږ سربازان له سختې ولږې سره مخ دي هغوی له ولږې څخه روغ رمټ اسونه وخوړل تاسو څه چل وکړئ! که نه نو راتلونې مو ډېره خرابه ده.

بیا یې وویل: ته رازیلیو ته ورشه او له هغه سره خبره وکړه چې هغه څه وایې؟ او داورته هم ووایه چې ښار اسلامي لښکر ته وسپاري مونږ نور دجننګ وس نلرو.

ایجیلونا چې کله دا خبرې واوریدې نو رازیلیو ته ورغله او ورته یې وویل چې دښار دروازې مسلمانانو ته خلاصې کړي او که نه نو هغوی به په ټول توان پر مونږ باندې یرغل وکړي

او مونږ به تس نس کړي: ایجیلونا خو خپلې خبرې وکړې مګر رازیلیو ددې خبره ونه منله.

ایجیلونا ورته وویل: ایا ته د ولس اوښاریانو عام وژنه غواړې؟ او که نه یې غواړې نو ولې هغوی ته دروازه نه خلاصوې؟ که مسلمانانو ته پته ولږیده چې مونږ دولږې سره بخ یو او دجنګ وړ نه یو نو پر مونږ به حمله وکړي ښار به رانړنوخي مال به مو چور اودښار ټولې ښځې به خپلې وینځې کړي! ته ولې زما خبرې ته غوږنږدې.

په مریدا کې ورځ تر بلې قحطي ډیریدله اخر دروغې د ښرون لپاره دلښکر یو جنرال دسپین بیرغ سره ولاړ او موسی بن نصیر ته یې وویل: مونږ غواړو له تا سره روغه وکړو او خپل ولس له لوږې څخه بچ کړو. خو مونږ یو څو شرطونه لرو بیا یې موسی بن نصیر ته خپل شرطونه وړاندې کړه مګر شرطونه یې موس بن نصیر ته دمنلو وړنه وو.

موسی بن نصیر ورته وویل: که تا سو له ماسره روغه کول غواړئ نو باید زه چې څه وایم هغه ومنئ کنه نو زه روغې ته تیار نه یم او زما اول شرط دادی چې ته ولاړ شه او خپل لښکر دې خالي صلاح کړه او له هغې وروسته به دې لښکر له مونږ سره بندیان وي که دې خوښه وي نو ولاړ شه او ټول لښکر دې خالي صلاح کړه او بیا به نور خبرې وروسته کوو.

جنرال ولاړ او خپل ټول لښکر یې خالي صلاح کړ او پنځوس ښځې یې موسي بن نصیر ته دنمونې په شکل راړې او ورته یې وویل: دا واخله او له ځان سره یې د وینځو په څیر وساته که مونږ درسره ناځواني وکړه نو څه دې چې خوښه وي بیا یې پدوی وکړه خو په یاد ولره چې له دوی سره به دوینځو په څیر عمل او وضیعت نه کوې ځکه دا ټولې د شاهي خاندان سره تعلق لري.

دې جنرال چې کومې ښځې راوړې پدې کې له مکره ډکه او چالاکه ایجلونا هم وه چې دې په ډېره اسانې سره یو خوان او یو سړی په دام کې راوړلای شو.

جنرال یو ځل په تکرار سره موسی بن نصیر ته وویل له ټولو سره پام کوه او په خاصه توګه له دې ښځې سره بیایې دایجیلونا په لور ګوته ونیوله چې ځان یې په پړوني کې رانغاړلی وو اومخ یې هم پټ و.

موسی بن نصیر جنرال ته وویل: دیته ووایه چې مخ ښکاره کړي.

ایجلونا په مکر او نازسره وویل: زه به مخ هغه چاته ښکاره کوم چې څوک له ماسره واده وکړي.

دایجیلونا دې خبرې په موسی بن نصیر او قومندانانو یې ډېر تاثیر وکړ خو بیا هم موسی بن نصیر ورته څه اهمیت

ورنکړ په ښار ورننوت پخپله دواک په ګدی کښیناست او ټول ښار یې په خپله ولکه کې راوړ.

❀❀❀

د مریدا ښار ډېر ښکلي او دجوړخت له پلوه له طلیطلې او نورو ښارونو څخه ډېر ښایسته وو خکه پدې کې رومي اینجنرانو کارکړی و لوړې او پښې ودانې پکې وې چې دښارښکلا یې یو په دوه کړې وه موسی بن نصیر په مریدا ښار کې دیهودو سره په ګډه حکومت جوړکړ مګر دټولومشر یې مسلمان ټاکلی و یوه ورځ موسی بن نصیر په چکرونکې وو په میدان کې ولاړ وو چې بطریق اعظم دځو نورو پاپانو سره راغی او له یو کس څخه یې پوښته وکړه. موسی بن نصیر چرته دی؟او هغه چې کله په دبار کې کښېنې نوزه ورسره لیدل غواړم: هغه کس موسی بن نصیر ته ورغی او هغه یې خبر کړ چې څوک له تا سره لیدل غواړي. موسی بن نصیر ورته وویل: هغه دلته راوغواړه: بطریق اعظم او نور پاپان راغله د موسی بن نصیر خواته ودریده او ورته یې وویل: موږ ددربار له امیر سره لیدل غواړو؟ او هغه هم په دربارکې؟ موسی بن نصیرچې بطریق ته ولیدل نو دهغه دلیباس څخه ورته پته ولږیده چې کوم لوي پاپ دی ځکه بطریق داسې قیمتي لیباس اچولی و چې ټول خلک ورته حیران پاتې وو

دسرو زرو غاړکۍ ريښمينې جامې دسرو پڼې او دسرو تاج
يې په سر وو. کله يې چې موسی بن نصير ته داسې نااشنا
خبره وکړه نو موسی بن نصير ورته په خندا سره وويل: ته هم
په دربار کې ولاړ يې او هم ددربار د امير په مخ کې! خکه
مونږ ټول يو بادشاه لرو چې دهغه په وړاندې بل هيڅ دربار
ارزښت نلري الله ﷻ وايي چې په هر ځای کې له ما څخه
مدت وغواړئ. نو زه حاظر يم: نو تاسو ووايې چې دداسې
ذات په مخکې دانسان څه اهميت دی؟څه يې حيثيت دي؟
او څه يې دربار؟ بياموسی بن نصير دميدان په منځ کې په
خاورو کې پلتئ. ووهله او بطريق ته يې وويل: اوس نو دلته
کښينه او خپله ستونزه ماته ووايه.

بطريق چې له خاورو څخه يې کرکه درلوده او تکبر يې
اوج ته رسيدلی و په خاوره باندې ناسته نه خوښوله خو کله
يې چې يو فاتح په خاورو کې ناست وليد نو داهم مجبور شو
په خاورو کې کښيناسته او موسی بن نصير ته يې وويل: ايا
تاسو دلته دتبليغ لپاره راغلي ياست؟

موسی بن نصير ورته وويل: ايا تاته تر اوسه پورې له کوم
مسلمان مجاهيد له خوا کومه ستونزه راولاړه شويده؟ پخپله
بې خواب ورکړ،نه ! ايا تر اوسه تا ليدلي چې کوم مسلمان

ستاسو کومه پیغله بې عزته کړې وي؟ نه! نو همدا زموږ تبلیغ او همدا زموږ لاره ده.

خو یوه خبره واوره چې نه به ستاسو په کلیساوو کې داسلام په ضد خبرې کېږي ، نه به پکې بې معنی عبادتونه کوي. اونه به له پیغلو جونو څخه په زوره راهبانې جوړوي. که داسې مو وکړه نو بیا به مو پایله ډېره بده وي.

بطریق خو دډېرو خبرو لپاره راغلی خو دموسی بن نصیر خبرو او خاکسارۍ پرې دومره اثر وکړ چې هر څه یې ترې هېر کړه او پرته له کوم وړاندېزه بیرته ولاړ.

❁❁❁

یوه شپه موسی بن نصیر په خونه کې ځانته ناست وو چې زوي عبدالعزیز یې راغی او ورته یې وویل: پلار جانه زه له هغې جلۍ ایجلونا سره واده کول غواړم؟

موسی بن نصیر ورته وویل: زه تا له هغې سره له واده کولو څخه نه منعه کوم خو د ټولو نه اول باید هغه اسلام ومني او بیا ته ښه فکر وکړه هسې نه ددې جلۍ سره ستا واده زموږ دراتلونکي نسل لپاره د ضرر سبب جوړ نشي.

عبدالعزیز ورته وویل: نه نه پلار جانه زه باور لرم چې داسې به نه کېږي! او بیا له خونې څخه ووانه.

سهار وختي عبدالعزيز دايجلونا خونې ته ورغی ا ورته يې وويل: ايا دلته په اوسيدلو کې خو به تاته کومه ستونزه نه وي او که وي نو ماته ويلی شي.

ايجلونا ورته په مکر او ناز سره خواب ورکړ: نه نه ښاغليه هر څه سم دي.

بيا ورته عبدالعزيز وويل: ايجلونا زه له تا سره واده کول غواړم، خو ددې لپاره بايد ته اسلام ومنې.

که څه هم په اول کې ايجلونا لږ څه مکر او فريب وکړ خو بيا يې وويل زه خو داوس لپاره اسلام نشم منلی خو له تا سره وعده کوم چې د لږې مودې وروسته به بيا اسلام ومنم.خوزه تاسره داسلام دقانون سره سم واده کوم( نکاح در سره تړم)

عبدالعزيز ددې داسلام نه منلو خبره پټه کړه او له ايجلونا سره يې واده وکړ.

الله ﷻ پوهېږي چې ايجلونا به په راتلونکي کې له عبدالعزيز سره څه کوي؟ ځکه هغه ډېره چالاکه او مکاره ښځه ده.

❀❀❀

دعبدالعزيز نوې ميرمن ايجلونا چې په اول کې دراډرک ښځه وه او بياترې کونډه پاتې وشوه عبدالعزيز ته ويلی و چې زه به اسلام نه قبلوم اود اځکه چې زه به يدې

خوشباوري کې ټول هغه سرغړونکي ونيسم چې سنا له خبرې منلو څخه انکار کوي ، هو ايجلونا همداسې وکړه په همدې ترتيب به له يهودي مشرانو سره په غونډو کې شريکيده او هغوی ته به يې ويل چې ما دمسلمانانو ديو لوی قومندان سره واده کړيدی مگر اسلام مې ندی منلی. ايجلونا به پدې طريقه له دوی څخه خبرې ويستلې او بيا به يې مسلمانانو ته کولې چې وروسته به مسلمانانو بيا همدغه سرغړونکي نيول او دتل لپاره به ورسره بنديان وو.

❁❁❁

# د بغاووتو اور

يو نيم کال وړاندې موسی بن نصير دمريدا په څير يو لوي او قوي ښار اشبيله هم فتحه کړي وومونږ مخکې هم وويل چې کله به هم موسی بن نصير او يا هم طارق بن زياد کوم ښار ونيولو نو په ښار کې به يې يهوديان په دنده گمارل خو د ټولو مشر- به يې مسلمان ټاکلو اودا ځکه چې د مسلمانانو شمېر دومره نه وو چې په ټولو ښارو کې دې پاتې شوی وای او که داسې يې کړی وای نو بيا به له مخکې تللو څخه پاتې وو.

## د دمشق په زندان کې

موسی بن نصیر دلته هم لکه څومره چې اړتیا وه دښار
دمالي او اداري چارو دنده یې یهودیانو ته سپارلې وه اودا کار
په ښکه یهودیانو ته سپارل کیده چې دوی له طارق بن زیاد
سره ډېره مرسته کړې وه او دراډرک په وخت کې یهودو ته په
ښه سترګه نه کتل کیده ، دحکومت زیات مصارف له یهودو
ښخه دټیکس او مالیاتو په شکل کې اخیستل کیده.او همدا
رنګه ورته په پوځي چارو کې هم برخه نه ورکول کیده خلاصه
دا چې یهود ورته دانسانانو په شکل نه ښاریده او سمه کړنه
یې ورسره نه کوله که په لښکر کې یې کومه برخه ورکړې وه
نو هغه هم دعسکرې او یاهم دظابطې رطبه وه یو نیم کس
به یکې که جنرال وو نو هغه به هم دکوم مطلب لپاره نیول
شوی و د عیسویانو له یهودو سره تر ټولو غټ ظلم داوو چې

نصير هم دوى له ياده ونه ويستل او دې هم ورته په دولت
کې غټې غټې رتبې ورکړې موسى بن نصير او طارق بن زياد
له يهودو څخه دومره متاثره شو چې دايې له ياده وواته چې
همدا يهود داسلام تر ټولو سخت دښمنان دي او همدوى
رسول الله ﷺ ته په اوبو کې زهر ورکړه خو هغه ﷺ الله
ﷻ بچ کړ او د دوى دسيسه يې شنډه کړه ديته ورته يې څو
څو ځله درسول الله ﷺ د وژلو هڅه کړې خو الله ﷻ په
خپل چال کې پاتې راوړي دي يهودان دنړۍ په تاريخ کې
دلستونې دمار په نوم شهرت لري او دلته يې هم د ابليسيت
او منافقت اورپه اشبيله کې غرغنډه کړ او د بغاوت لپاره يې
لمن وهنه پيل کړه.

په يو کور کې دوه ځلورلاربنونکي سره راټول شو يو يې
له احساساتو څخه ډکه وينا وکړه ا و ويې يل: زما ورونو ماته
غوږ شئ زمونږ کار وشو او هدف مو پوره شو راډرک مړ او
حکومت يې نسکور شو اوس نو د مسلمانانو شتون زمونږ
لپاره سر درد دى مونږ بايد د دوى څه غم وخورو او د دوى
اسلام او پاتې کيدل په اندلس کې زمونږ لپاره نور ښه ندي.
اوس نو بايد مونږ خپل اصلي مقصد ته راوګرځو او تاسو ټول
پدې ښه پوهيږئ چې هغه هدف څه دي؟ يو ځل بيا يرو
شلم ته تلل او هلته دهيکل سليماني ابادول! او دازمونږ

ذمې مسؤليت دى او داكار هغه وخت تر سره كېداى شي
چې عيسايان له موږ سره مل شي زموږ اصلي ټكر له
مسلمانانو سره دى له عيسوسانو سره نه! تاسو خبر ياست
چې مسلمانان يروشلم ته بيت المقدس وايې او هغوى ورته
دومړي كعبه او مسجد هم وايې خو هغه په اصل كې زموږ
اصلي عبادت ځاى دى موږ بايد بيرته يرو شلم ته ولاړ شو
فلسطين زموږ وطن دى خو هغه هم اوس مسلمانانو لاندې
پرېدى موږ په اندلس كې دعيسويانو حكومت ړنګول
غوښتل او هغه دمسلمانانو په لاس وشو اوبله ګټه مو داوكړه
چې پدې حكومت كې مو پورته او دسر رتبې تر لاسه كړې
اوس نو دمسلمانانو دكار رګونه زموږ په لاس كې دي،
او داخبره هېڅ وخت له ياده ونه باسى چې مسلمانان
زموږ دښمنان دي او د هغوى سره زموږ دښمني تل پاتې او
نه ختميدونكي ده تاسو بايد ډېر هوښيار او زيرک اوسى.
تاسو ګورى چې مسلمانان ورځ په ورځ په خمكه كې
خپرېږي او دهغوى سره اسلام هم خپرېږي موږ او تاسو بايد
دغه حركت شنډ كړو او اندلس دمسلمانانو لپاره هديره
وګرزوو هغوى خو دلته ژوندي راغله مګر موږ به د ډېرو مړي
دمشق ته بير ته ولېږو!!!

یهودان له سرخخه تر پښو پورې ټول له فساد څخه ډک شو او د مسلمانانو په خلاف یې په بغاوت لاس پورې کړ یهودو په هر ځای کې له مرسته کونکو سره نا خواني کړېده دلته یې هم دطارق بن زیاد هغه ټول ښه ، کړه، وړه او احسان هیر کړ چې دلته له راتګ ورسته یې ورسره کړي وو: اخر یې هم خپل منافقت څرګند کړ او اوس دمسلمانانو لپاره دلستوڼي ماران جوړ شو.

❀❀❀

داوخت داشبیلې والي د دمشق اوسیدونکی ابوالبقر و هغه نو مانښام په باغ کې ګرځیده چې یوه ښکلې او حسینه ـعله ورته په خیرنو جامو کې راغله.

ابوالبقر هم د دې جلۍ په خبرو نه پوهیده جلۍ به په اسارو سره ابو البقر ته خپله ستونزه ویله او بیا بیا خله به یې خله لمن پورته کوله اودایې ورته ویل چې چا ورسره زیاتی کړی دی: ابو البقر خبره څنډ نکړه او پوه شو چې له دې جلۍ سره چا زیاتی کړی بیا یې پلټنه پیل کړه چې ددې سره تیری کونکی خو به مسلمان نه وي؟

اخر جلۍ ژړا پیل کړه او فریاد به یې کولو ابو البقر دهغې په سر لاس کیښود او هغه ته یې ډاډ ورکولو جلۍ دهغه لاس راواخیست او ښکل یې کړ د جلۍ سره یوه

ټوکری، هم وه چې څو دانې مڼې یکې پرتې وې جلی له مڼو څخه یوه مڼه رواخیستله او ابو البقر ته یې ورکړه او په اشاره یې ورته وویل چې داوخوره.

ابو البقر دجلی دخوشحالوولو په خاطر مڼه وخوړه کله چې ابوالبقر مڼه وخوړه نو جلی دواړه لاسونه په خپل تندي کیښوده او بیا له درباره ووته.

ماښام ښه تیاره شوې وه او ابو البقر هم دخپل کور په لور روان شو خو په سر یې لږ لږ درد ووا وبل یې چې بدن مې لږ څه دروند شوی دی خو بیا هم دارام کولو لپاره خپل کور ته ولاړ. خو کله چې کور ته ورسید نو حالت یې ډېر خراب شو ملګرو یې دده دعلاج لپاره ډاکتر راوغوښت کله چې ډاکتر راغی نو ښه په غور سره یې دابو البقر نبض ولیدلو.

طبیب وپوښته: لږ مخکې دې څه خوړلي دي؟

ابو البقر ورته ټوله کیسه وکړه او دایې ورته هم وویل چې هغې جلی راته دخوراک لپاره یوه مڼه راکړه.

طبیب ورته وویل: یا به په مڼه کې زهرجن مکروب وو او یا به پکې زهر کډ شوي وي.

که څه هم طبیب ابو البقر ته دوا ورکړه خو دهغه حالت وار په وار خرابیدو او اخر یې خپل ژوند له لاسه ورکړ.

کله چې موسی بن نصير ته خبر ورسيد نو دابو البقر په ځای يې اشبيلې ته بل واکمن واستولودابو البقر له مړينې څخه دوه يا درې ورځې وروسته داوالي هم دهمدې جلي له لاسه په همدې طريقه ووژل شو.

له دې پيښې څخه دوه درې ورځې وروسته يو مسلمان چارواکي دښېې له لورې په يوه کوڅه کې گزمه وهله چې دښا له لورې پرې دوه درې دخنجر گذارونه وشو او بيا يې سهار مړی په کوڅه کې پروت و: داسلسله همداسې روانه وه او چاته داپته نه وه چې يهودو په بغاوت لاس پورې کړی دی او هره دريمه او يا هم څلورمه شپه به د مسلمانانو يو تن په څه بهانه وژل کيده.

پدې ترتيب سره په لږو ورځو کې شاو خوا ديرش عرب څه په توره څه په غشي او څه په زهرو ووژل شو.

داخبره پټه پاتې نه شوه پرفيسر دوزي وايې چې داخبره مريدا کې دموسی بن نصير تر غوږو ورسيده: ده ديرشو تنو چارواکو په پټه وژل ددې معنی لرې چې دا کومه دسيسه او پټ پلان وي او ښکاره ده چې دا به د دښمن کار وي خو يهودو داوړ کار پداسې چل او هوښيار تيا سره کولو چې ټول شک په عيسويانو کيدای شو او پدې کار کې يې تر ډېره ونډه دپيغلو جونو وه.

کله چې موسی بن نصیر په مریدا کې له د ې کار خبـه خبر شو نو پوه شو چې داکومه لویه دسیسه ده اوښکارې چې کومې ډلې په بغاوت لاس پورې کړې وي نو سمدواره یې خپل زوی عبدالعزیز راوغوښت اوورته یې وویل: زویه شابه نکړه شه او ۷۰۰ غازیان له خان سره واخله خان اشبیلې ته ورسوه او هر چېرې دې چې بغاوت کونکي لیدل داسې سزا ورکړه چې نور ترې عبرت واخلي خکه دهغوی یواخې نیول اړین ندي بلکې تر ټولو اړینه هغوی ته سزا ورکول دي زه داشک لرم چې دا بغاوت یهودانو پیل کړی دی.

عبدالعزیز په حیرانتیا سره وویل: یهودیانو! پلاره یهودیان خو زمونږ سره ملګري دي کنه!!

موسی بن نصیر وویل: زویه ! یهودیان پرته له یهودیانو ځخه له نورو سره هېڅکله ملګرتیا نکوي کله چې الله ﷻ هغوی فتنه کونکي او فساد کونکي بللي نو مونږ څنګه په هغوی باور کولی شو زویه هلته له ټللو وروسته به ستا ترټولو مهم کار دا وي چې ته به هر چاته د شک په ستر ګه ګورې ! نور د ودریدلو وخت ندی ته باید زر تر زره خان اشبیلې ته ورسوې

عبدالعزیز وویل: سمه ده پلاره زه همدا اوس خان نیاروم.

عبدالعزيز له خپلې نوې ميرمن ۷۰۰ اوه سوه غازيانو سره اشبيلې روان شواو له څو ورځو مزل وروسته اشبيلې ته ورسيد: عبدالعزيز چې کله اشبيلې ته ورسيد نو په ټللو يې په اشبيله کې انقلاب راغی هغه زر تر زره خپل جاسوسان راوغوښته او ورته يې وويل چې په دوه درې ورځو کې دامعلومه کړئ چې دا اور چا بل کړی او تر شا يې دچا لاس دی: عبدالعزيز عرب راوغوښته او دايې ورته وويل چې تاسو هر يو اندلسي جنګي بندي راوغواړئ او ورځخه دامعلومه کړئ چې دهغوی ملګري څوک دي او وسله يې چرته پټه کړيده او پدې اړه هغوی ته هر رنګ اسانتياوي هم ورکړئ خو هغوی دمعلوماتو ورکولو لپاره چمتو کړئ.

عبدالعزيز پلان جوړ کړ او دا پلان يې کامياب هم شو څلور تنه دبنديانو په وينا په ګوته شو چې يو پکې يهودی او نور پاتې عيسويان وو دا څلور کسان ونيول شو او دڅارنې او پلټنې وروسته د دوی په مرسته دوه کسه نور هم ونيول شو دوی ورته وويل چې وسله په کليسا کې راټوليږي او پلان هم په کليساګانو کې برابريږي چې وروسته يې دعملې کولو چارې تر سره کيږي.

عبدالعزیز د باغیانو دنیولو او ختمولو لپاره ډېر لیوال وو ایجیلونا لیدل چې خاوند یې دومره اندیښمن دی چې دشپې خوب هم نه ورځي.

یوه شپه ایجیلونا خپل خاوند ته وویل: ته ولې دومره فکر کوې د باغیانو دنیولو لپاره خودې خلک په دنده ګمارلي دي او هغوی هم ستا خبره منلې ده او په دنده کې څه غفلت نکوي تو ته ولې دومره فکر او اندیښنه کوې؟ دومره زړه مه خوره هر څه به سم شي!

عبدالعزیز په احساساتي غږ وویل: ایجیلونا د بغاوت یو بخری ټول هېواد تباه کولی شي او کېدای شي چې دیو نفر له لاسه ټول اندلس زمونږ له لاسه څخه ووځي او دا زما ومځ لیت دی چې داهېواد له خطر څخه بچ کړم !ایا تاته پته شته چې ددې هېواد دنیولو لپاره مونږ څومره قرباني ورکړې دي ! زه دالله ﷻ په وړاندې ځواب ورکونکي یم !ایجیلونا زه به هغه ورځ نبه ډاډه شم چې دباغیانو روستی سړی زما پر وړاندې ووژل شي ! لږ فکر وکړه که دا بغاوت همداسې روان پاتې شي نو زما او ستا او ددې هېواد دهر مشر. پایله به څه وي؟ زه به ووژل شم او ته به بیا دکوم یهودي یا عیسوي جنرال دلاس نیالنزکه شي ایا ته داخوښوي؟ نه خو دملکه کیدو خوبونه ګوري خو دلته حالات بل رنګ روان دی.

عبدالعزیز داسې احساساتي خبرې وکړې چې دایجیلونا رنګ یې زیړ او ویښته یې نیغ شو.

بیا یې ورو عبدالعیز ته وویل: ښاغلیه که ته اجازه راکړې نو زه له تاسره مرسته کولای شم!

عبدالعزیز وویل:ته به څه وکړې او ستا به څه دلاسه وشي؟

ایجیلونا وویل: که ته ا جازه وکړې نو زه به سبا لویې کلیساته ولاړه شم او دلوی پادري سره به خبره وکړم چې ما خو دمسلمانانو له لښکر مشر سره واده کړی خو خپل دین مې ندی پریښودی،زما خاونده له دې ورسته چې زه بیا څه کوم هغه به بیا تاته ورسته ووایم.

عبدالعزیز وویل: سمه ده خویوه خبره په یاد ولره چې ما ته له هر څه مهمه ستا ابرو ده دخان ډېر خیال ساته!

ایجیلونا وویل: سمه ده ته بې غمه اوسه.

سبا ایجیلونا لویې کلیسا ته ولاړه مشر- پادري چې ایجیلونا ولیده نو ډېر وار خطا او حیران شو!

ایجیلونا چې پادري ته رانږدې شوه نو پادري ورته وویل: ما اوریدلي چې تا د مسلمانانو دکوم سپه سالار سره واده کړی که دا سمه وي نو اوس په کلیسا کې څه کوې؟

ایجیلونا وویل: دکلیسا سره خو زما دزړه مینه ده !او دزړه مینه هېڅ کله هم نه ورکېږي ! ما چې دکلیسا دساتلو لپاره څومره کار په یواځې ځان کړی هغه تاسو پادریانو په ګډه هم ندی کړی.

بیا ایجیلونا دپادري لاس په خپل لاس کې ونیولو او په خندا شوه.

داوخت دپادري دمخ رنګ بدل شو ځکه دایجیلونا په څیر حسینې ددې زوړ پادري لاس په لاس کې نیولی وو.

دپادري په مخ هم داسې مُسکا خپره شوه لکه کومې نوې پیغلې یې چې لاس په لاس کې نیولی وي.

مشر پادري وویل: ایا د کوم بل مقصد لپاره دې له هغه سپه سالار سره واده کړی؟

ایجیلونا وویل: هو! زه هر څه درته وایم خو تر ټولو مخکې زه له تا څخه قسم اخلم چې ته به زما خبرې راز په زړه کې ساتې.

زه کلیسا ته یواځې دعبادت په پلمه راغلې یم.او ته ما د خپل ځان ملګرې وګڼه ! او ما دبادشاه کونډه او دسالار میرمن مه ګڼه!

مشر پادري وویل: دا تـه څـه ډول خبرې کـوي؟ زه او تـه اوس په کلیسا کې ناست یو که ته وایې نو زه اوس دسپیڅلې مریم په تصویر درته لاس ږدم او قسم درته کوم.

ایجیلونا وویل: نه پلاره بس دی ستا خبره ماته په هرڅه منظوره ده تاته دقسم خوړلو هېڅ اړتیا نشته. مـا داویـل چې ما خو دمسلمان سالار سره واده کړی خو خپل دین مې نـدی پرېښودی ما دهغه دزړه دساتلو لپاره هغه ته وویل چې د څه وخت وروسته به ستاسو دین ومنم او هغه په ما اعتبار وکړ.

پادري په خندا وویل: دا ستا د حسن او ښکلا کمال دی ایجیلونا!

ایجیلونا وویل: که دا زما دحسن او ښکلا کمال دی نـو زه ترې لږ نور کار هم اخیستل غواړم زما خاوند دلتـه دبغاوت د ختمولو لپاره راغلـی دی خـو زه دبغـاوت دزیـاتوالي او تودولو لپاره راغلې یم. زه پدې پوهېږم چې تر اوسه کوم کسان وژل شـوي دي د هغـوی وژونکـي د دریمـې درجـې مشـران او لار ښونکي دي اواصلي مشران له بل ځای څخه کار کوي زه پدې کوښښ کې یم چې هماغـه مشران پیـدا کـړم او یـو خونـدي ځای ورته پیدا کړم!

مشر پادري وویـل: ایـا تـه دهغـوی لپـاره لـه خپـل خاونـد څخه ښښنه غواړې؟

ایجیلوناوویل: نه مقدس پلاره زما خاوند هېڅوک هم نه ښيي هغه هر څوک دبغاوت په طور وژني زه باید هغه ټول ښمران له دې خای څخه زر تر زره وباسم.

نه پوهېږې چې دښار یواځې یوه دروازه پرانستل کېږي او نورې دروازې نه خلاصوي اوپه هغې خلاصه دروازه کې هم هر تلونکی او راتلونکی کس پلټل کېږي ! خو زه به هغه ټول خلک په نظامي جامو کې له ښاره وباسم!

پادري وویل: ښه نو چې داسې ده له ټولو مخکې ما له دې خانه وباسه خکه داهم د سرغړونکو له مرکزونو څخه یو مرکز دی او زه هم یو دسرغړونکودمشرانو څخه یم!

ایجیلونا ورته دروغ وویل: دا خو ماته له وخته معلومه وه خو زه دا مرکز همداسې ساتل غواړم نه باید زما په اړه پوره ډاډ او باور ولرې چې ما دسالار عبدالعزیز سره یواځې پد ې خاطر واده کړی چې زه د مسلمانانو جرړې له بیبنه وباسم او دا کار چې زه څنګه او په څه طریقه کوم ددې پوښتنه تاسو مه کوی زه یواځې دومره درته وایم چې زه دسالار دپلار سره اړیکي پیداکول غواړم او غواړم چې پلار او زوي یو دبل وینو نه کښیني.

مشر پادري وویل: زه په تا پوره باور لرم چې ته به دا کار وکړې !

ایجیلونا دخپل حسن او جادو غشي پر خای وویشت او مشر پادري یې خپل ملګري کړ !

مشر پادري بیا وویل: ایجیلونا که چېرې ته ددې بغاوت مشري په خپله غاړه واخلي نو دا بغاوت به ضرور بریالی کېږي ته داسې کار وکړه چې ددې بغاوت ،مشري په خپله غاړه واخله !

ایجیلونا وویل:مونږ به ضرور بریالي کېږو ته فکر مه کوه او که چېرې بریالي نه شو نو زمونږ د دین د منونکو پایله به څه وي؟ ته داسې کار وکړه چې ما له خپلو مهمو او غښتلو کسانو سره مخ کړه تر څو په ګډه سره کوم کار وکړو ! ایا هغوی سبا دلته راتللای شي؟

مشر پادري وویل:هو که ته وغواړې نو را به شي !

ایجیلونا وویل: سمه ده زه به هم راشم !او بیا پورته شو ه ! پادري هم پورته شو ! ایجیلونا وویل: زه به اخر ددې کلیسا راهبه جوړېږم او زه به هېڅکله خپل دین پرېنږدم ! له دې وروسته ایجیلونا خپله غېږه خلاصه کړه او په مینه مینه یې پادري ته لیدل او په سترګو کې یې داسې حالات وو لکه چې پادري ته دغېږ ورکولو ست کوي پادري د داسې حالت په لیدلو ډېر حیران شو او بیا رو، رو دایجیلونا خواته راغی او کله یې چې ایجیلونا ته غاړه ورکوله نو هغه ترې دوه درې

ځامه وروسته ولاړه پادري يو ځل بيا په فکر کې شو چې ايجيلونا څه کوي ايجيلونا وويل ،نه ،نه اوس نه. داغبږه به څه وخت وروسته درکړم !او بيا روانه شوه:

ايجيلونا د څلور اسونو لرونکې ګاډۍ کې راغلې وه پادري يې داسونو دپښو ترپهار اوريدلو خو بې سده واو دايجيلونا په خيالونو کې ډوب شوی وو.

په دوهمه ورځ ايجيلونا بيا د پادري سره د کليسا په يوه خونه کې ناسته وه خو داپروني خونه نه وه او دحالاتو دځرنګوالي په اړه يې ورسره خبرې کولې.

دکليسا څخه دباندي څو کسه دګرمې په حال کې وو که چيرې شکمن کس وګوري نو دوی ته به خبر ورکړي ،

داخل غونډه کې لس دولس مخور کسان ناست وو دوه يکې يهود وواو پاتې نور ګوتيان او عيسويان وو او داټول مهم اود بغاوت سر غنه کسان وو لا تر اوسه ددوی پيژندنه سره نه وه شوي چې يو يهودي خبره پيل کړه ويې ويل:ګوره ايجيلونا که چيرې ته له مونږ سره دوهکه کوي نو سمه ده چې مونږ به له نيولو څخه وروسته ووژل شو خو ته به هم ژوندی پاتې نه شي ځکه مونږ داسې پلان لرو چې ته به هم راسره يکې ووژل شي زمونږ دنيولو څخه وروسته به ته هم ونيول شي بيا به وتښتول شي او ته پوهيږې چې هغوی به له

تاسره دنیولو وروسته څه سلوک وکړي او تا به هغه وخت پرېږدي چې کله ته ووژل شي.

ایجیلونا وویل: نه به تاسو ونیول شی او نه به زه وتښتول شم !زه فکر کوم چې مقدس پلار زما په اړه تاسو ته پوره معلومات ندي درکړي !

یهودي وویل: هر څه یې راته وویل کنه نو مونږ بیا دلته نه راتللو بیا هم مونږ تاته اخطار درکوو ځکه چې ته دیو مسلمان سالار میرمن یې او ته به ضرور له هغه سره ملګرتیا کوې:

ایجیلو نا وویل: زما ملګرتیا او مینه له کلیسا سره ده او زما خاوند په مادومره مین دي چې زه پرې هره خبره منلی شم !

یو بل ګډون کونکي وویل:زه فکر کوم چې ته هسې خوب ګوري سبا ته به ستا خاوند بل ښار ونیسي- او په هغې ښار کې به ورته ستا نه ښکلې پیغله په لاس ورشي او هغه به له هغې سره واده وکړي او ته به ورته یو بې کاره شي شې !

ایجلونا وویل: دهغې وخت د راتللو څخه مخکې به زمونږ بغاوت بریالی شي ایا تا سو خبر نه یاست چې په ملاقه او غرناطه کې هم بغاوت پیل شوی دی او مونږ باید دابغاوت نور هم زیات کړو حو دا ستا سو کار دی: زه له تاسو ره وعده کوم

چې په یو مناسب وخت کې به خپل خاوند ته زهر ورکړم او د اوس لپاره زه دهغه په سترګو کې خاورې اچوم چې باسې دهغه له سترګو څخه بچ کړم او تاسو هم باید د اوس لپاره له دې بناره څخه خانونه وباسې ځکه کوم کسان چې هغوی نیولي دي کېدای شي چې څوک پکې تاسو په ګوته کړي او بیا به مو ونیسي.

یو یهودي وویل:هو ! موږ باید دا کار وکړو ځکه دمسلمانانو سره دومره لښکر نشته چې په ټو اندلس کې خپل لښکر خای پر خای کړي او دسرغړونکو مخه ونیسي.

دوهم یهودي وویل: هو مګر زه په اخره کې یوه خبره کول غواړم او هغه دا چې په ټو اندلس کې بغاوت یهودانو پیل کړي او داځکه چې موږ له راډرک څخه په تنګ شوي وو خکه مو له مسلمانانو سره مرسته وکړه او دراډرک شاهي مو له منځه ویوړه اوس زموږ هدف دادې چې مسلمانان له منځه ویسو موږ پخپله بادشاهي نه کوو بادشاهي دې بیا هم دعیسویانو وي خو موږ ته باید په ښه سترګه ولېدل شي موږ یواځې خپل حق غواړو.

یو عیسوي وویل: زه ژمنه کوم چې تاسو ته به دخپل حد څخه زیات اهمیت درکړو ځکه تاسو هغه کار کوئ چې موږ یې نه شو کولای.

ایجیلونا له تاوه وویل: أف! داد حقونو دوشولو وخت ندی اوس تاسو یواځې خپل کارونه په بیړه سره وکړئ حق ویشل ورسته خبره ده له هر څه نه مخکې تاسو ددې ښار څخه دوتلو تیاري وکړئ او زه تاسو ته وایم چې تاسو باید څه ورله دې ځانه ووځی.

ماته غوږ شی تاسو باید دسوداګرو په شکل ددیرش څلوېښت کچرو سره یو ځای له ښار څخه ووځی او که چادرڅخه پوښتنه وکړه نو ورته به وایی چې موږ د قرطبې سوداګر یو او دلته دخپل مال دپلورلو لپاره راغلي وو موږ خپل کاروکړ اوس بیر ته خپلو کورونو ته ستنېږو.

ټولو په همدې سره هو کړه وکړه او په همدی سره خوښ او راضي شو او بیا یې دتللو لپاره ځانونه تیار کړه.

بله ورځ سهار دلوبو په میدان کې ختیځ لور ته دا یولس کسان د شل کچرو سره راټول او د هغه څلور مخورو کسانو په انتظار وو چې ایجیلونا ورته خودلي وو او په بغاوت کې ورسره مل وو دوی دهغه کسانو په انتظار وو چې له یو ې خوا څخه دغازیانو څلوېښت کسیزه ډله چې په اسونو سپاره راغله کله چې دوی هغه غازیان ولیدل نو مخمونه یې بل لورې واړول خو غازیان پرې سیده راغلل او له دوی څخه ورو ورو تیریدل کله چې نیمایې غازیان له دوی څخه تیر شو نو .

په يو وار يې برى حمله وکړه او دوى يې په منځ کې راګير کړه
د پولو غازيانو سره برچې او تورې وې باغيانو ته يې به غضب
ناک غږ وويل: ونه خوځېږى تاسو ټول په محاصره کې يا
ست که مو خان وخوځولو نو خير مو نشته.

ددې اخطار سره ټول باغيان وويريدل او خانونه يې ونه
ښورول غازيانو دوى دعبدالعزيز په وړاندې حاظر کړه او
عبدالعزيز يې سمدواره دوژلو امر وکړ.

دعبدالعزيز په امر ټول ووژل شو چې پدې سره يو وار په
اشبيله کې دبغاوت جرړې ختمې شوې او ټوله اشبيله په
ارام کې راغله اود عبدالعزيز ټېر هم ېښ شو. .

د شپې ايجيلونا خپل خاوند ته وويل: ګوره زما دزړه سره
اوس خو دې په ما اعتبار راغى..او کنه اوس هم په ما شک
لرې ما چې اسلام نه وو قبول کړى نو زما هدف هم همدا وو
چې کله پر تا سخته راشي نو زه به در سره مرسته وکړم:
وګوره ما څنګه په چل او هنر سره دبغاوت کونکو سرغنه
کسان ستا په ولکه کې راوړل او په يووار مې ستا په لاس له
منځه ويوړل:
اوس خوپه ما يقين وکړه زما دين ستا مينه او ستا محبت
دى زه نه غواړم چې تا له لاسه ورکړم!

دا چې ایجیلونا دومره لوي کار وکړ نو په عبدالعزیز نوره هم ګرانه شوه او په زړه کې یې ورته نوره هم مینه ډېره شوه:

پدې وژل شوو کسانو کې پادریان هم ګډ وو چې دسرغړونکو مشري به یې کوله او دفساد لپاره به یې لمن وهله:

یهودیانو ته چې کوم حیثیت مال دولت او ځمکې دمرستې په بدل کې ورکول شوي وې هغه ټرې بیرته عبدالعزیز واخیستې او هغه حیثیت یې ورته ورکړ کوم چې ورته راډرک ورکړي وو: عبدالعزیز له دې وروسته ټولو هغه ښارونو ته ولاړ په کومو کې چې بغاوت سر پورته کړی وو او هغه ټول ښارونه یې له بغاوت څخه پاک کړه او یو ځل بیا یې ښارونه په خپله ولکه کې راوړل.

❁❁❁

طارق بن زیاد د موسی بن نصیر په راتللو ډېر خوښ وو او ویل به یې چې زه خپل مشر-او لار ښود ته دأندلس زړه طلیطله په ډالۍ کې وړاندې کوم!

بیا طارق بن زیاد وغوښتل چې له طلیطلې څخه د الحجاره سیمې ته ولاړ او بیا له هغې ځای څخه درې لوې لوي ښارونه لکه ،مایده،مایه،او ګیلیشیا ونیسي.

په همدې هیله یې خپل لښکر دالحجاره دد ښتې په لور روان کړ: اوپاس ورته وویل: زما وروره ایا ته پوهېږې چې پدې لاره به مونږ ته څومره ستونزې را پیدا شي؟ پدې لار کې کېدای شي چې ته خپل زیات شمېر سر تیري او همدا رنګه اسونه او کچرې هم له لاسه ورکړې.

طارق بن زیاد ورته وویل: اوپاسه !هغه کومه ستونزه نه وه چې مونږ په اندلس کې ونه لیدله زه اوس له نورو ستونزو څخه نه ویرېږم الله ﷻ له ما سره دی هغه به ما ضرور بریمن کړي:

ددې خبرې وروسته دالحجاره په دښته ورګډ شو کله چې الحجارا ته ورسیدل نو ددې سیمې په لیدلو سره اسلامې لښکر تازه اوروحونه یې روښانه شو اسونو هم مستې پیل کړه او په مستۍ راغله دلږ خند وروسته یوه کره لاره راغله چې تلل پرې ډېر سخت وو طارق بن زیاد دا لار هم ووهله او له دې وروسته دغرونو تر منځ یو خونړی خوړ روان وو اسلامي لښکر داوخت ډېر ستړی او ستومانه وو او بله داچې ددې خوړ اوبه هم ډېرې تیزې روانې وې خو باید وواېو چې دخوړ اوبه دومره ګوبې نه وې چې یو انسان یې ډوبولای شو یواځې د هرسرباز دنامه دغوټې پورې راتلاي شوې خو تیزوالی یې دومره ډېر وو چې کمزوری کس ورته نه شو

تېنګیدای خو بیاهم طارق بن زیاد خپل لښکر ته همت ورکولو او د هغوی په روحونو کې یې جزبې راپیدا کولې چې په پایله کې یې اسلامې لښکر هم دداسې خونړې خوړ ځخه هم ورتیر شو خو اوس ورته مخې ته یو بل ورکوټی سیند راغی اسلامې لښکر پدې سیند کې داوبو دځنارو سره هم مخ شو خو په پوره مړانه ترې له لړ زیان وروسته واوخته:

په هر صورت طارق بن زیاد له ډېرو ستونزو او کړمو ځخه وروسته یاد ښارونه مایده، مایله،اوګیلشیا، په یو ځه اندازه مالي او ځاني زیانونو سره ونیول او دلته یې هم اسلامې حکومت جوړ کړ.

تاریخ لیکونکي وایې چې طارق بن زیاد او ورسره لښکر یې پدې سفرونو کې له ډېرو ستونزو سره مخ شو او اسلامې لښکر پداسې لارو ،دښتو او ځنګلونو باندې تیر شو چې له دوی ځخه وړاندې پرې بل انسان نه و تیر شوی مسلمانان پدې سفر کې پداسې ځنګلونو هم ولاړل چې پکې له وحشي ځناورو مارانو زمریانو او لیوانو سره مخ شو ددي سر بیره مسلمانان له لوږې او تندې سره هم مخامخ شوي وومګر خپل همت یې نه و بایلودی ځای به یې ټکرې خوړلې خو له لویدو ورسته به اسلامې مینې دیته اړ کړه چې بیرته راپا ځیږې او خپل هدف ته ځانونه ورسوي.

دا وخت داندلس ډېر ښارونه فتحه شوي وو خکه له يوه پلوه موسی بن نصير فتحه کوله او له بله پلوه.طارق بن زياد اوطارق بن زياد د موسی بن نصيرپه راتللو او فتحې کولو باندې ډېر خوښ واو ويل به يې دموسی بن نصير په راتللو زما په وجود کې نوی روح راغی.

بل لورې موسی بن يوه ورځ له خپلو زامنو سره ناست وو ويې ويل.زما له لورې طا رق بن زياد ته خبر ولېږئ چې هغه هرچېرته وي جنګ دې بند کړي: نور دې پر مخ نه ځي اوبايد زر تر زره طليطلې ته راشي او له ما سره وګوري خکه زه هغه نور له مخکې تللو څخه منع کوم.

عبدالعزيز وويل: پلارجانه ته هغه ولې له مخکې تللو څخه منع کوي ايا ته د طارق بن زياد پرمخکې تللو او کاميابۍ نه خوشحالېږې؟

موسی بن نصيرورته په ځواب کې وويل: کوم بدبخته به دهغه په کاميابۍ نه خوښېږي خو هغه زماد امر څخه سرغړونه کړيده سزا يې بايد وګوري ايا تاته دخالد بن وليد په اړه معلو مات نشته او ايا ته د هغه دکارنامو څخه نه يې خبر خالد ﷺ چې کومه لاسته راوړنه داسلام لپاره کړيده هغه لا تر اوسه بل چا نه کړې او نه يې وکړي هغه ته محمد ﷺ د سيف الله لقب ورکړيدی هغه داسلام يو نوميالی او ميړنی

سپه سالارو مگر کله یې چې دخپل امیر دامر څخه سرغړونه وکړه نو داسلام دوهم خلیفه عمر ﷺ بیا هغه له دندې گوښه کړ.

طارق بن زیاد باید خپله سزا وگوري خو یوه خبره تاسو ټول په خلاصو غوږونو واورئ. او هغه داچې هېڅوک هم د طارق بن زیاد څخه دأندلس دفاتح او امیر لقب نشي۔ اخیستلاي ځکه هغه داندلس سل زره لښکر ته ماته ورکړیده.

بیا موسی بن نصیر طارق بن زیاد ته خبر واستولو چې هر چېرته یې نو طلیطلې ته راشه ځکه زه له تا سره لیدل غواړم: کله چې ابن زیاد ته خبر ورسید نو زر تر زره یې طلیطلې ته دتللو لپاره ځان برابر کړ اوهغه ډالۍ یې هم راواخیستلې کومې یې چې دموسی بن نصیر او خلیفه ولید بن عبدالملک لپاره برابرې کړې وې.

موسی بن نصیر دا وخت په طلیطله کې و کله چې طارق بن زیاد طلیطلې ته راورسید نو فکر یې کولو چې موسی بن نصیر به ورته کلکه غاړه ورکوي مگر داسې نه وو موسی بن خو ورته د غاړې ورکولو پر ځای ترې مخ واړولواو هغه یې پوه کړ چې زه له تا څخه خفه یم طارق بن زیاد ډېر خفه شو او له دربار څخه ووانه د دوه ورخو پورې موسی بن نصیر دطارق

بن زیاد سره خبرې ونکړې د دوه ورځو له تیریدو وروسته موسی بن نصیر طارق بن زیاد راوغوښته او ورته یې وویل: ولې دې زما له امر څخه سر غړونه کړیوه؟

طارق بن زیاد ورته وویل: ښاغلی امیر صاحب زه به څنګه ستا له امر څخه سرغړونه کوم خو حالات داسې وو که چېرې ما جنګ ودرولای وای نو دأندلس نیول شوي ښارونه به مې له لاس څخه وتلي وو او بیا دا کار ما یواځې په خپله خوښه ندی کړی بلکې له خپلو ملګرو سره مې په مشوره باندې کړیدی.مغیث الرومي ، زید بن کساده ،او ابو زرعه طریف بن مالک: دې ټولو ماته خوښه راکړې وه چې زه باید جنګ ته دوام ورکړم او دا یې راته هم ویلي وو که چېرې ته له ما څخه خفه شوې نو دوی به دې راسره پخلا کړي او تاته به عذر وکړي بیایې ټولو ته مخ وراړلو او ورته یې و ویل: ووایی کنه همداسې نه وه ولې چپ ولاړ یاست ایا ما دا کار په خپل سر کړیدی؟ ووایی غلي کېږی مه کنه نو زما امیر به له ما څخه دتل لپاره خفه شي؟ مغیث الرومي اونورو ملګرو یې په یوه خوله موسی بن نصیر ته وویل: هو! زمونږ امیره مونږ دې ته ویلي وو چې مونږ باید مخ په وړاندې ولاړ شو که نه نو لاسته راغلې سیمې به مو له لاسه ووځي ،

کله چې موسی بن نصیر ته حقیقت په ډاګه شو نو روح یې ارام شو بیا ورته ابن زیاد وویل: ښاغلی امیر! ته یواځې زما امیر نه یې بلکې زما دپلار پر ځای هم یې ته چې ماته هر څه وایې زه یې په پټو سترګو منلو ته تیار یم.

کله چې موسی بن نصیر خوښ شو نو ابن زیاد ورته وویل پلار جانه او س نو اجازه راکړه چې ما کومې ډالۍ تا او خلیفه ولید بن عبدالملک لپاره برابرې کړې ستاسې پر وړاندې یې کېږدم.

موسی بن نصیر ورته وویل: تاته اجازه ده.

طارق بن زیاد ټولې هغه ډالۍ او غنیمتونه راوړل چې په اندلس کې یې لاس ته راوړي وو،په خاصه توګه هغه میز چې دسلیمان علیه‌السلام په میز باندې مشهور و او په همدې ویاړ ساتل شوی و: موسی بن نصیر ورته وویل: ما ته پدې خاطر منع کړی وې چې له تاسره لښکر کم دی هسې نه چې په کوم جال کې پرې نوځې بیا یې ورته وویل: زما زویه ستا کارنامې به تل تر تله ژوندۍ وې او داسې وخت به راشي چې ته به مړ یې او هډوکي به دې هم خاورې وي دا خو لا څه کړې چې دقبر نقشه به دې هم نه وي خو تر څو چې اندلس وي ته به یې فاتح یادېږې.!

دځو ورځو وروسته يې دهاغه ښارونو په لو ر مخه وکړه چې له فتحې څخه پاتې وو تاريخ ليکونکي وايې چې موسى بن نصير د خپلو زامنو سره ډېره زياته مينه درلوده او د دوی په ګډون يې دهمدې ښارونو په فتحه پيل وکړ د دې ښارونو له جملې څخه يو هم داراغون ښار و، ويل کېږي چې موسى بن نصيردعمر په وروستيو شيبو کې و اوطارق بن زياد دځوانۍ په وروستيو شيبو کې مګر دايمان جذبه ددواړو يو رنګ وه او دهمدې جذبې له امله يې دډېرو ستونزو او کړمو نه وروسته دابښار هم ونيولوپدې ښار کې يې هم اسلامي دولت جوړ کړ او په خلکو کې دا زړه نه و چې داسلامي حکومت پر خلاف څه ووايې.

اوس نو ټول اندلس دمسلمانانو په واک کې دی او داسې کوم ښار يا سيمه نشته چې له فتحې څخه پاتې وي. يوه ورځ موسى بن نصير طارق بن زياد ته وويل: زما ګرانه زويه ايا په اندلس کې داسې کوم ښار پاتې دی چې زمونږ په واک کې نه وي؟ابن زياد ورته وويل: نه زما ګرانه پلار جانه دالله ج ﷻ په مرسته په ټول اندلس کې اسلامي بيرغ رپېږي او په چا کې دا زړه نشته چې دمسلمانانو په وړاندې څه ووايي،او زمونږ له امر څخه سر غړونه وکړي.

❀❀❀❀

دټول أندلس له فتحې وروسته موسی بن نصیر او طارق بن زیاد وغوښته چې فرانسه هم ونیسي! په همدې موخه یې په فرانسه هم حمله وکړه اودفرانسې دوه ولایتونه یې هم ونیول چې له دمشق څخه ورته دخلیفه ولید بن عبدالملک امر راغی چې دوی هر چېرته وي نو باید زر تر زره دمشق ته راشي. کله چې موسی بن نصیر ته دا امر ورسید نو طارق بن زیاد ته یې وویل: مونږ او تاسو باید زر تر زره دمشق ته دتللو تیاري وکړو ځکه دا زما دامیر امر دی.

طارق بن زیاد وویل: زما پلارجانه! ایا خلیفه ته دا پته نشته چې که چېرې مونږ دمشق ته ورشو نو اندلس به مو له لاسه څخه ووځي؟

موسی بن نصیر ورته وویل: هر څه چې کېږي زه دخپل امیر خبره ځمکې ته نشم غورځولای زما زویه هغه زما مشر دی زه څنګه دهغه خبره ونه منم مونږ باید زر تر زره دمشق ته ولاړ شو هر څه چې کېږي نو ودې شي زه دخپل امیر خبره نشم غورځولای ته هم دمشق ته دتللو تیاری وکړه مونږ باید اول طلیطلې ته ولاړ شو او بیا له هغه ځایه اشبیلې ته اوله اشبیلې څخه بیا دمشق ته! موسی بن نصیر او طارق بن زیاد خپله فتحه دفرانسې په سرحدونو کې پرېښوده او دتللو په حال کې موسی بن نصیر طارق بن زیاد ته وویل: زما زویه

دفرانسې غرونه او سرحدونه به زما او ستا دبيرته راتللو انتظار کوي زه او ته به يو ځل بيا دلته راځو او په فرانسه کې به هم اسلامي بيرغ رپاند او خلاند کړو!! له دې خبرې سره يې اسونه پونده کړه اود طليطلې په لور روان شو.

دڅو ورځو له مزله وروسته موسى بن نصير او طارق بن زياد طليطلې ته ورسيدل.

په طليطله کې موسى بن نصير طارق بن زياد ته وويل: مونږ بايد دلته دومره پاتې نه شو او څومره چې کېداى شي بايد زر تر زره خانونه اشبيلې ته ورسوو څو يوه خبره چې زه يې بايد وکړم هغه داده چې له نن څخه ها خوا دأندلس پلازمينه طليطله نه بلکې اشبيله ده.

کله چې موسى بن نصير له طليطلې څخه روانيده نو ميرنيا ورته وويل: ته خو خپ نه ايسارېږې! زه خو وايم چې ته مه څه ستا په سترګو کې ماته دزوال نښې ښکارې زه يو ځل بيا هم درته وايم چې ته له دې سفر څخه تير شه او هم دلته پاتې شه اوکه ممکن وي نو دخان په استاذي توب بل څوک ولېږه او که چېرې ته دمشق ته ولاړې نو زه په يقين سره دا وايم چې ته به بيا اندلس په سترګو هم ونه ګورې څکه داندلس ښار په وينه ګټل کېږي او په وينه ساتل کېږې داندلس اوسيدونکي به ستا له تګ څخه وروسته په ارام

کښېنني او يو ځل بيا به خپل بغاوتونه پيل کړي اندلس ډېر سرونه خوړلي دي او لا خوري يې.

موسی بن نصير ورته وويل: زه په وهمي او خيالي خبرو نه يقين لرم او نه پرې باور کولای شم زه فکر کوم چې ستا ماغزه خراب شوي دي ته زما فکر پرېږده او دخان علاج وکړه.

ميرنيا ورته وويل: ته چې هر څه فکر کوي خو ماته ستا راتلونکې ښه نه ښکاري! ميرنيا داخبره وکړه او له دربار څخه ووتله.

موسی بن نصير او طارق بن زياد له يوې ورځې تم کېدو وروسته له طليطلې څخه کاروان د اشبيلې په لور روان کړ او هلته يې د ټول اندلس امير خپل زوی عبدالعزيز وټاکه وروسته يې ټول اندلسي بنديان غنيمتونه او ډالۍ له خان سره په کاروان کې يو ځای کړه او کاروان يې د دمشق په لور روان کړ: په کاروان کې دبنديانو سربېره د غنيمت مالونه ډالۍ او هاغه ميز چې په اندلس کې دسليمان عليه السلام په وباړ له يو بادشاه څخه بل بادشاه ته پاتې کېده هم له خان سره وبوړ.

اسلامي کاروان له څو ورځو منزل وروسته دمشق ته ورورسېد او د دمشق په څاوره ورننوت کله چې دوی د دمشق ته ورسېدل او خلکو ته پته ولګېده چې داسلام غازيان سره

دغنیمتونو او بندیانو راغلل نو په ټول دمشق کې دخوشحالۍ فضا خپره شوه او هره خوا اوازه شوه چې داندلس فاتحان سره دبندیانو او غنیمتونو بیرته راستانه شو هلی شابې ښه راغلاست ته یې ورشي !!! ددې غږ سره ډله ډله خلک د فاتحانو مخې ته ورتلل او دهغوی ښه راغلاست په یې کولو!

بل لورې خلیفه ولید بن عبدالملک هم د ژوند وروستۍ شیبې تیرولې او په یوه لا علاجه ناروغۍ باندې اخته شوی و چې رغیدل ترې ګران نه بلکې نا ممکن و خو کله یې چې دفاتحانو دراتللو خبرواورید نو لږ څه خوښ شو او ځان یې لږ ارام احساس کړ.

موسی بن نصیر او طارق بن زیاد کاروان په یوه لوی میدان کې واړولو او تم شو تر څو لږه دمه وکړي.

دا وخت یو کس چې په اس سپور و او په ډېره بیړه دموسی بن نصیر په لور راروان و راغی او دموسی بن نصیر په غوږ کې ورته څه وویل:

څنګه کې ودریدیده بیایې په غوږ کې ورته څه وویل خو موسی بن

تاریخ لیکونکي وایي چې پیغام راوړونکي خو موسی بن نصیر ته په غوږ کې خبره وکړه خو د تاریخ له پاڼو څخه پټه پاتې نه شوه !

پیغام راوړونکي موسی بن نصیر ته وویل: خلیفه ولید بن عبدالملک ډېر سخت ناروغه دی او دهغه ورور سلیمان امر کړی چې هېڅوک هم له خلیفه سره لیدلی نشي او هر څوک چې څه ویل غواړي نو ماته یې ویلي شي کنه نو دخلیفه تر روغیدو باید صبر وکړي. که داندلس فاتحان څه ډالی او یا نور څه لري نو هغه دې ماته وسپاري زه د هغه ورور یم هغه ته به یې وسپارم.

پیغام راوړونکی دخلیفه ولید بن عبدالملک دورور سلیمان بن عبدالملک له خوا راغلی و او سلیمان ورته داهم ویلي و چې که چېرې خلیفه ولید ومړ نو زه یې ورور یم او دواک په ګدی به همدا زه کښینم ځکه اول حق زمادی.

موسی بن نصیر وویل: نه نه سوګند په الله ﷻ چې زه به هرو مرو له خلیفه ولید سره ګورم او ډالی به هم په خپل لاس خلیفه ولید بن عبدالملک ته ورکوم زه یې نه ورور پیژنم او نه زوی تر اوسه لا هغه ژوندی دی که چېرې هغه له چا سره لیدل نه غواړي نو مونږ له هغه سره لیدل غواړو.

بیا یې لږ احساساتي شان وویل: سوګند په الله ﷻ چې زه به هېڅکله پرینږدم چې سلیمان دهغه پر ځای دواک پر ګدۍ کښیني ځکه دا ددې سپیڅلې دندې او څوکۍ وړتیا نلري.

هر څه چې وو خو سليمان څوک پرنښودل چې له خليفه سره وګوري دابه دالله ﷻ رضا او خوښه وه چې خليفه وليد دجمعې دورځې دلمانځه داداکولو لپاره مسجد ته راووتلو: کنه نو سليمان خو هرڅوک دملاقات څخه منع کړي وو او په خاصه توګه يې موسى بن نصير ته ويلي و چې هر څه چې کوې خو دغنيمت مالونه به يېښې خليفه وليد ته نه ورکوې مګر موسى بن نصير ورته انکار کړی و:اوس نو موسى بن نصير ته ډېره ښه موقع په لاس ورغله چې له خليفه سره ليدنه وکړي. سليمان يو ځل بيا موسى بن نصير په اشارو کې پوه کړ چې خليفه وليد ته نه ډالۍ ورکړې او نه ورته بنديان وښايې ځکه هغه اوس نه د ډېرې خوشحالۍ تاب لري او نه د ډېر خفګان.

مګر موسى بن نصير يې خبرې ته اهميت ورنکړ او دخليفه دليدلو لپاره دهغه مخې ته ورغی او د لمانځه پر وخت يې د خليفه وليد سره ليدنه وکړه خليفه وليد د موسى بن نصير او طارق بن زياد په ليدلو سره ډېر زيات خوښ شو اوهغوی يې په سرونو ښکل کړه بيا موسى بن نصير خليفه وليد ته هاغه ټولې ډالۍ او غنيمتونه وړاندې کړه کوم چې موسى بن نصير او طارق بن زياد په ګډه سره لاسته راوړي وو هاغه ميز يې هم ورته وړاندې کړ کوم چې به اندلس کې

دسلیمان علیه‌السلام په میز شهرت درلود دا میزپه ورسته دوره کې لړ لړ بې رنګه کیده او اخر ورک شو. خلیفه ولیدبن عبدالملک د ډالیو غنیمتونو او بندیانو په لیدلو سره ډېر خوښ شو او دالله ﷻ شکر یې اداکړ!!

څو ورځې وروسته د خلیفه ناروغي ورځ تر بلې سختیده او په اخر کې یې دخلیفه ولید بن عبدالملک ژوند واخیست او له همدې ناروغۍ څخه وفات شو.

عبدالملک له خپل مرګ څخه مخکې خپل زوي د خلیفه په توګه وټاکه مګر له هغه سره هم ژوند یاري ونکړه او دخپل پلار له مرګ څخه یوه میاشت وروسته وفات شو.

اوس نو سلیمان ته ښه موقع په لاس ورغله ځکه نور نو داسې څوک نه و چې دخلافت واګې په لاس کې واخلي نه خو دسلیمان بل ورور و او نه خو د خلیفه ولید بل زوي و چې دخپل ورور پر ځای ناست وای ځکه خو سلیمان پخپله دواک په ګدۍ کښیناسته ،

هر څه الله ﷻ کوي که چېرې دخلیفه ولید زوي ژوندی پاتې وای نو نن به دفرانسې په ګډون دځینې نورو ملکونو نقشه هم بدله وه او هلته به هم اسلامي بیرغ رپیدلو: کله چې سلیمان د خلافت واګې په لاس کې واخیستل نو اول کار بې دا وکړ چې موسی بن نصیر یې راوغوښته داوخت

سلیمان په دربار کې په تخت ناست و کله چې موسی بن نصیر راغی نو سلیمان ورته دټول دربارپه مخکې وویل:زه تا له دندې څخه ګوښه کوم له نن څخه ها خوا ته د هیڅ یو ښار امیر نه یې او نه دکوم ملک فاتح یې!! نه یواځې دا چې له دندې دې ګوښه کوم بلکې زه به ستا پاتې ټول عمر په زندان کې تیر کړم تر څو تاته معلومات وشي چې دچا سره دې سر وهلی و! بیا یې امروکړ چې ددې سر کښته لاسونه او پښې وتړئ او د دمشق په لوی زندان کې یې ور واچوئ چې دژوند په خوړ و پوه شي.

په دربار کې ډېرو خلکو له خلیفه سلیمان څخه دامیر موسی بن نصیر دخوشي کیدو غوښتنه وکړه مګر خلیفه سلیمان دچا په خبره غوږ ونګرولوادا فاتح شخص یې د دمشق په زندان کې بند کړ.

خلیفه سلیمان ډېر ظالم او کبر جن انسان و دخپل غچ اخیستو لپاره یې هر څه کولای شو.

دموسی بن نصیر ګناه یواځې داوه چې هغه له خلیفه ولید سره د لیدلو څخه منع کړی و مګر موسی بن نصیر دده خبره ونه منله او دخلیفه ولید سره یې لیدنه وکړه او حق یې هم و څکه که دموسی بن نصیر په ځای هر څوک واي نو هغه

په هم داوړ کار کړی و ځکه هغه وخت خليفه سليمان کومه دنده ئلرله بواځې دخليفه ورور ؤ

❁❁❁

موسى بن نصير لـه اندلس څخـه دراتللو پـه وخت کې خپل زوي عبدالعزيز دأندلس امير ټاکلى وو اوعبدالعزيز هـم په ټول اندلس کې داسې اسلامي نظام راوړې وو چې هيچاته يې د شيکايت وخت نـه وو ورکـړی عبـدالعزيز بـه دورخـې په اندلس کې دخلکو دستونزو دهواری لپاره کارکولو او دشپې به يې د الله ﷻ عبادت کولو.

عبـدالعزيز دانـدلس اول امـيرو او دا دموسـى بـن نصـير مشر زوي و چې دخپل پلار څخه په اخلاص او مړانـه کـې کـم نه و عبدالعزيز تـه پتـه نـه وه چـې پـه دمشـق کـې څـه پـيښ شوي اود دي پلار او طارق بن زياد په څه حال کې دي

▫▫▫▫▫

په ۹۷هجري کي په مکه معظمـه کـي دانسـا نـا نـو دومـره ګڼه ګوڼه وه چې مار هم پکې په اسانی سره نه شو تيريد لي د ښـار دننـه او دبانـدې دانسـانو سـمندر څپـې وهلـې ددې متحرک هجوم يو خاصيت يو لبباس و، په سپين څادر کې به يې خانونه ترد پښو دغوځانو پورې رانغا ړلي و. يوه اوره به يې برښډه سر لـوڅ او لـه وېښتو څخـه بـه يـې پـاک کـړی و،لکـه

ځنګه چې ددوی لباس خاصیت اوخوي یوشان و همداشان یې د زړه او روح پام هم کعبې شریفې ته و د خپلو لباسونو او خاصیتونو په څیر یې عقیده او دین هم یو و(لااله الاالله محمد رسول الله ) دا ټول مسلما نان و اودحج دفریضې د اداکولو لپاره مکې معظمې ته راغلي وو، دوی له مکې څخه دباندې خیمې وهلې وې پدې کسانوکې ښځې، ماشومان، خوانان او زاړه شامل وو که څه هم د دوی لباس او خاصیت یو رنګ و مګر جسمونو یې توپیر درلود خینې یې ښپین خینې یې تور او خینې نوریې دزیړ او غنم رنګه رنګ لرونکي وو. پدې کسانوکې ظالمان هم و مظلومان هم خانان هم و غریبان هُم سپه سالاران هم عسکران هم ؛مګر هېڅ نه پیژندل کیده چې خوک څرنګ دی خکه ددوی یو خاصیت یو لیباس او یو خوي و او د ټولو خبرې او حرکات په یو بل نه ورته و؛باید ووایوچې دا ټول د یو ملک خلک نه وو بلکې د مختلیفو ملکونو لکه ایران ؛هندوستان ؛چین ؛او افریقې څخه راغلې وو؛که څه هم داخلک د یو بل په خبرو نه پوهیدل مګر دیو بل له روحیو څخه دیوبل په مطلب رسیدل سره له دې چې دوی دهېوادونوله حیسابه دیوبل څخه ډېرلرې و خوداسلام مینې او محبت ددوی زړونه سره دومره نږدې کړي وو چې دوی هېڅکله خانونه پردي نه ګڼل؛دمکې

معظمې هوا هم د ترنم لپاره برابره وه د ټولوپه خوله همدا یوه خبره وه؛

لبیک اللّهُمّ لبیک لبّیک لا شریک لک لبّیک

انّ الحمد والنّعمة لک والمُلک لا شریک لک!

په فضا کې داسې پاکوالی خپور و چې دلویو لویو بادشاهانوزړونواوروحونوکې پریوتی و هرچا پرته دکوم امتیاز څخه دالله ﷻ ثنا بیانوله که څه هم حج ته لاشپې ورخې پاتې وې خوبیا هم مکې معظمې ته جوپه جوپه خلک راتله او خیمې به یې وهلې

❁❁❁

## موسی بن نصیر دسوال گر په جامه کې

9 دکسانوپه همدې گنه گونه کې ځینو خلکودسوال لپاره لاسونه اړده کړي و ځینوڅادرونه غوړولي و اوځینونورو بیا دکچکول په وسیله خیر ټولولو؛دوی به دمجبوری؛ له وجې مکې ته دخیرټولو لپاره راتله او دحج په موسم کې به یې ښه مزدوري کوله حاجیانو به ورته ښه درهم ورکول اوداپوښتنه نه وه چې څوک حقدار دی اوڅوک نه یواځې د الله ﷻ د رضا لپاره به یې خیرات ورکولوپه همدې ترتیب دسوال گرو شمېر ورځ تر بلې زیاتیده پدې سوال گرو کې یوسوال گر زیات

شـوی و مګـر حاجیانودامحسـوس نـه کـړ اوخنګـه بـه یـې محسوس کړی و خکه ددې سوال ګر هم دنورو په شان سر ببر ګریوان څیرې اودنـورو سـوال ګرو سره یـې هڅ توپیرنـه درلود،هو که څه تـوپیریې و نـو هغـه دعمر زیـاتوالی و د دې سوال ګر د نورو څخه عمر زیات او په ملا کړوپ و او تر ډېره به په پښو نه شو دریدلی یوبل خاصیت هم یکې و چې خلکو به ورته پام کولواودنورو په پرتله به یې دیته په غور کتـل هغـه خاصیت ددې بوډاپه پښو کـې زنځیرونـه وو چـې داپرې تـړل شـوی و لـدې څخـه خلکوتـه پتـه لږیـده چـې دا بنـدي دی اوداپرې رحم شـوی چـې سـوال کولـو تـه یـې پرېښودی دی! دسوال کولوپه اوله ورځ ورته یو حاجي وویـل: تـه بنـدي یـې؟ بـوډا ور سر لـه زنګنونوڅخـه راپورتـه کـړ او پـه بـې نظـره او ارمانجنو سترګو یې حاجي ته کتل! حاجي ورته بیا وویل: غلا دې کړې؟ مګر داخل بوډاخواب ورکړ ویـې ویـل: کـه غـلا مـې کړې وای نو لاس به مې پرې و ! حاجي ورتـه وویـل:نـو بیـا بـه دې خامخا زنا کړې وي؟ بوډا ورته وویـل:کـه زنـا مـې کـړې وی نواوس به سنګسار وم!حاجي ورته وویل: نو اخر په کومه ګناه کې کرېږې؟بوډاورته په غمجنه لهجه وویل: قسمت مې ناکام شوی دی!

په خواکې یوبل ولاړحاجي وویل:هرمجرم چې ونیول شي نوبیا داسې خبرې کوي هېڅوک هم خپله گناه نه مني.

داوخت بوډا په تاثیر ناکه سترگو دواړو حاجیانو ته په کتلو سره وویل: زما گناه داده چې خلیفه ولید بن عبدالملک مړ شوی دی او دهغه پر ځای دهغه ورور سلیمان بن عبدالملک دواک په گدی ناست دی تاسو د دمشق زندان ته ولاړ شی هلته به زما په څیر ډېربې گناه بندیان په بند خونو کې وگورئ چې دخپلې بې گناهی سزا گوري! سر اوتندی وهي مگر څوک یې اواز نه اوري.

یوبل ولاړحاجي وویل: ستانوم څه دی؟ دکوم هېواد اوکومې قبیلې سره تړاو لرې؟

سوال وویل: نوم به یواځې د الله ﷻ پاتې کېږي زه ستاسو د پوښتنو ځواب نه درکوم او که درمې کړنو دابه زما جرم وي: که تاسو ماته څه راکوئ نو الله ﷻ به ستاسو حج قبول کړي خکه تاسوچې څه ماته راکوئ په اصل کې یې الله ﷻ ته ورکوئ ددې خبرې سره ورته څینو حاجیانو روپۍ واچولې او ترې روان شو بیا دې بوډاخپل دپښو زنځیرونه پټ کړه څکه پدې ډېرې پوښتنې راولاړیدې! ځوابونه یې هم له بوډا سره وو مگر دځواب همت پکې نه و داځکه چې

دادسليمان پاچا سره له دمشق څخه راغلی و اودايې دسزا يوه برخه وه چې په مکه کې خير راټول کړي:

سوال گر نور خان راټول کړ يواځي يولاس يې دخيرات ټولولوټپاره اوږد پرينبود حاجيانو په دې فکر چې دا له نورو څخه زوړ دی ډېرې روپۍ ورکولې مگر دابه نه خوشحاله کيده کله به چې دماخوستن لمونځ وشو نو حاجيان به خپلو خپلو خيمو ته لاړل بوډابه هم په لږو روپو ډوډۍ وخوړه بيابه يې راټولې شوې روپۍ وشمارلې خودشمارلو څخه ورسته به يې زړه نور هم خفه شو څکه سوال گر بايد دوه لکه دينار برابر کړي مگر ددې رقم برابرول اوبيا د حج پدې لږو ورځو کې کومه اسانه خبره نده بوډا پوه شو چې په ناسته خيرات ټولوکې لږې روپۍ پيدا کېږي بايد دنورو سوال گروپه څير داهم وگرزېږي او چغې سورې وکړي تر څو دوه لکه روپۍ برابرې کړي همداسي يې وکړه مگر ددې په چغو کې دنورو سوال گروپه شان درد نه وځکه دې به دنورو سوال گرو په شان دولږې تندې شکايت نه کولودې به يواځي دومره ويل ؛

﴿وَتُعِزُّ مَنْ تَشَآءُ وَتُذِلُّ مَنْ تَشَآءُ﴾

ژباړه: او هغه يعني الله ﷻ چې چاته وغواړي عزت ورکوي او چاته چې وغواړي ذلت ورکوي؛

❀❀❀

بوډاسوال ګر همداسې اوزونه کول او روان و چې يو
سړي دشا له لورې د يکه ورکړه بوډا سوال ګر ورپسې شاته
راوليده هغه سړي ورته وويل: ايا دتيښتي هڅه خوبه نه
کوي؟ يو وخت مي اوريدلي و چي د أنداس د جنګ له ميدان
څخه څوک تښتيدلی و!

بوډا ورته وويل: که چېري زه تښتيدلی وای نوتر اوسه به
اندلس ستا له مغزو څخه وتلي و! پدي سره ورته دي سړي
يوه بله ډيکه هم ورکړه ! بوډا ورته وويل: خپل خليفه ته ووايه
چې ستاخلافت به ډېر زر ختم شي! بيايې ورته
وويل: محمدبن قاسم ته زما پيغام ورسوه ! اوتاچې داکومي
دوه جټکي ماته راکړې ددې خوابه دقيامت په ورځ درکوم!
دي سړي ورته بدبد وکتل اوترې روان شو: يوه بله ورځ
دشمالي افريقې څخه دوه راغلي حاجيان په قرارقرار د
بوډاخواته روان وو بوډا همداسې اوازونه کول(او هغه يعني
الله ﷻ چې چاته وغواړي عزت ورکوي او چاته چې وغواړي
ذلت ورکوي) يويې وويل: داکوم عقلمند سوال ګر ښکاريږي؟
بل وويل: هودادنوروسوال

ګروپه خيردخان په مجبوري نه ژاړي!
بيادواړوافريقايانودخپلوروپودکڅوړې څخه روپۍ راوويستلې
اوبوډاته يې ورکړې. کله چې يو افريقايي بوډاته روپۍ ورکولي

نولاس یې ودریده بوډاورته دسترګو لاندې غلي غلي کتل ،افریقایي بل لاس دبوډادزنې لاندې کړ او ورو یې دبوډاسر راپورته کړ تر څو یې په درسته توګه وګوري بیا یې ورته وویل، ته څوک یې؟ ستا نوم څه دی؟ بوډاسوال ګر ورته وویل: زما هیڅ نوم نشته خوبايد ووايم چې زه دالله ﷻ ددې فرمان ژوندی بیلګه یم چې وایې، اوالله ﷻ چې چاته وغواړي عزت ورکوي او چاته چې وغواړي ذلت ورکوي،کله چې سوال ګر داخبره وکړه نو یو افریقایي وویل:

ته موسی یې!!! موسی بن نصیردافریقي امیر داندلس فاتح! بل افریقایي ورته په حیرانتیا سره وویل:داته دکوم جرم سزا ګوري؟موسی بن نصیر ورته په احساساتي اوجزباتي انداز کې په داسې حال کې چې ګوته یې اسمان ته نیولې وه وویل:هیڅ خبره نشته دا خو هیڅ سزا نه ده ! یو افریقایي ورته وویل: ما اوریدلي چې ته دخلیفه د عتاب لاندې وې؟ بل وویل داخوستالپاره سخته او د نه منلو خبره وه چې ته دې سوال ګر جوړ شي؟ موسی بن نصیر په زولنو کې له بندو پښو څخه څادر لرې کړ او ورته یې وویل: زه سوال په خپله خوښه نه کوم زه سوال کولو ته مجبور کړای شوی یم زه د دمشق دخلیفه بندي یم ددمشق په هغه زندان کې شپې ورځې تیروم په کومه کې چې خلیفه سلیمان د سند فاتح

محمد بن قاسم په زورولو زورلو وواژه ! خليفه سليمان دحج د فريضې د ادا کولو لپاره راغلی زه يې هم له ځان سره راوړم اوداحکم يې راته وکړ چې دلته خيرات ټول کړم ترڅو هغه ته دوه لکه درهم برابر کړم که نه نو همداسې به مې په پښو کې زولنې پرتې وي او خير به ټولوم!

دوه لکه درهم ايا دا د اندلس دفتحې يو افريقايي وويل:
په جرمانه کې دربانـدې ايښـودل شـوي دي؟داچـې ددې پوښتنې ځواب ډېر اوږد و يا خو موسی نه غوښته ځواب يې ورکړي او يا خو يې د ځواب ورکولو توان نه درلوده ځکه موسی داوخت اتيا کلن و او د عمر نږدې شپيته کاله يې په جګړه کې تير کړي ود ډېروجګړو له امله يې په وجود کې داسې ځای نه و پاتې چې زخمونه يې نه وي ليدلي موسی بن نصير يو هوښيار ځيرک او يو لوي عالم هم و او ددې دا د زخمونو څخه ډک بدن پخپله يوتاريخ دي ! موسی بن نصير سره ولاړ دوه تنه افريقايي حاجيان د شمالي افريقا دبربر دقوم څخه ووا دواړه دخپلې خپلې قبيلې سرداران هم وو: بربر په شمالي افريقا کې يو خونخوار او و حشي قوم دی:نن سبا چې دظلم او تشدد دانتها لپاره دبربر کوم نوم اخستل کېږي دا هم هغه بربر دي بربريان په غلا شوکماری او فسادکې ښه مشهور وو مګر دفن اوکسب [illegible]ـه بې خبره و

دهمدې خاصيتونو له وجې خلک تـرې ويريـدل بربريـان څـو
څو خله مفتوح شو مگر هيڅا پرې تر ډېره وخته حکومت ونه
شو کړاي اخر پرې دعربو مسلمانانو حمله وکړه او کامياب شو
دعربو دلښکر مشر عقبه بن نافع وچې دډېرو تلفاتو ورسـته
يې فتحه حاصله کړه که څه هم بربريانو تر يوه وخته بغاوتونه
کول خو اسلامي مشرانو د سختۍ او زور پر ځاى په نرمه ژبه
او ښـه اخلاقـو ددوى د بغـاوتونو اور مړ کـاوه: کلـه چـې ورتـه
اسلام وړاندې شو نوبربريانو په ډېره مينه اسلام ومنلـو او ډلـه
ډله خلک به په اسلام مشرف کيدل او په همدې ترتيب بربر
قوم د اسلام ملاتړي جوړ شو

موسى بن نصير د افريقي دامارت په وخت کې په علم او
پوهې سره د بربريـانو د قهراوغضـب د اور ورسـتۍ سـپرغۍ
هـم مـړې کـړې بربريـانو تـه يـې دومـره خـدمت وکـړ چـې د
بربريانو دزړونو دروازې ورته خلاصې شوې موسى دجنگ په
ميدان کې ددښمن لپاره قهر او غضب و خـو د بربريـانو لپـاره
د ريښمو څخه نرم اودشاتو څخه خوږ و څکه خوبربريان پرې
له سر اومال څخه تير وو:دغه دوه تنه افريقايان چې اوس يې
موسى بن نصير په مخ کې دسوال گر په حيث ناست دى
دوى هم دموسى بن نصير دتربيت لاندې ژونـد تيـر کـړيې و
په دوى کې ديو نوم يوسف اودبل نوم حضرابن الغياث و دوى

ته دانومونه داسلام د منلو ورسته ورکول شوي و؛ دوارو افریقایانو چې اوس یې موسی بن نصیر په مخ کې دسوال ګر په حیث ناست دی اوس هم دموسی بن نصیر هم هاغه شان تعظیم پیل کړ لکه څنګه چې موسی دواک په ګدۍ ناست و: یو ورته وویل:مونږ ته امر وکړه مونږ ستا څه، خدمت وکړو؟

موسی وویل: دهېڅ شي اړتیا نشته زه الله ﷻ په کومه ګناه کې نیولی یم اودهغې سزاراکوي! حضر وویل: یو څه خو ووایه که ته امروکړې نو مونږ به دخلیفه پرخلاف بغاوت وکړو بیا یوسف ورته په غور کې په قراره وویل: که ته وغواړې نو خلیفه سلیمان دحج دفریضې. دادا کولو لپاره راغلی زه به دهغې جنازه بیرته دمشق ته ولېږم او د دمشق اوسیدونکي به ورته په سرو سترګو وژړوم! موسی بن نصیر وویل: بیابه څه کېږي؟ یوسف وویل؟بیابه نوي خلیفه کیني اوهغه به ستا ګناه وبښي؛مونږ پوهېږو چې ته د خلیفه سلیمان دذاتي حسد ښکار شوي یې !موسی ورته وویل که، چېرې زه هغه ووژنم نو زه به دالله ﷻ مجرم شم زما ملګرو زه هم دهغه پرخلاف بغاوت کولی شم مګر ماته زما د خان څخه داسلام عضمت ډېر غوره دی تاسو وګورئ زمانه مخکې مسلمانانو ولې دافریقې امیران ختم کړه دهغوی بغاوتونه یې ددې لپاره ختم نه کړه چې تاسو علامان کړي بلکې داکار یې داسلام د

پرمختګ لپاره وکړې ترڅودکفر په ورانديې اسلام نور هم مظبوط شي؛زه به ترکومه داسلام دپرمختګ لپاره ژوندی يم يو څوورځې ژوند به وي يا به نه وي اوخليفه سليمان به تر کومه ژوندي وي؟ تاسو زما خبره ومنی اوبغاوت مه کوی که چېرې يو ځل دخلافت پر وړاندې بغاوت وشو نو دبغاوت د اور دا سپرغۍ به دهر هغه هېواد په لور ولاړې شي چرته چې اسلام او مسلمانان شتون لري اوزه هيڅکله داسې نه غواړم ماته زما ځان نه بلکې اسلام سر لوړی پکار دی زما او دخليفه سليمان د ژوند هېڅ پته نه لرېږي ټول به مرو ژوندي يواځي اسلام پاتې کېږي! کله چې دواړو بربريانو د موسی بن نصير سره دخليفه سليمان د قتل خبرې کولې نوددوی تر څنګ يو بل حاجي ولاړ و او د دوی خبرو ته يې غوږ نيولی و نو يوسف ورته په غصه وويل: ايا ته دد ي بوډا سوال ګر تماشه کوې که خير ورکوې نو وريې کړه او که نو څه روان شه حاجي ورته په غمجنه لحجه وويل: زما افريقا يې وروره تماشه نه کوم يواځې ستا او ددې خبرې مې اوريدلې سوګند په الله ﷻ که چېرې دا راته امر و کړي نو زه به همدا اوس دخپل سر په بدله خليفه ووژنم بيا يې وويل: ددې دبهادرۍ کيسې چې هرڅوک واوري نو همداسې خبرې کوي کومې چې مونږ

او تاسو وکړې حضر- ورته وویل: ته څوک یې؟ له خبرو او لحجې څخه خو راته دشام اوسیدونکی ښکارې؟

حاجي ورته وویل: هو تا زه ښه وپیژندلم بیایې د روپود کڅوړې څخه دوه دیناره د موسی بن نصیر په لمن کې واچول او ورته یې وویل: زه به یو ځل بیا تا ضرور گورم او تاته به دیو ښه خبر سره راستنېږم له دې وروسته بیا روان شو!

حضر موسی بن نصیر ته وویل: زما اقا هر څوک چې تا وگوري نو د خلاصون لپاره دې ځان په خطر کې اچولو ته تیار دی،موسی بن نصیر ورته وویل: مگر زه دځان دخلاصون لپاره بل څوک په مشکل کې نه شم لیدلای زه دخپل خلاصون سوال یواځې دالله ﷻ څخه کوم ځکه الله ﷻ پکې را گیر کړی یم او الله ﷻ به مې ترې خلاصوي یوسف ورته وویل:مونږ به ستا دوه لکه جزیه خلیفه ته ورکړو:بیا حضر وویل: زما قبیله به تا په روپو کې پټ کړي: خو ته یو څه امر وکړه چې مونږ خپل کارپیل کړو؟ دوی دواړو داسې خبرې کولې ته به وایې چې موسی بن نصیر به له ځان سره ویسې: مگر موسی ورته وویل:نه ! نه !زه له تاسو سره نه شم تللای او تاسو هم مهرباني وکړئ خپلې خبرې بندې کړئ او له دې خانه ولاړ شئ ځکه زه د خلیفه سلیمان بندي یم زه هغه نه یم هیر کړی ضرور به یې زما د ځارنې لپاره دلته څوک

په دنده گمارلی وي هغه پوهېږي چې.زه دچا امیر وم هغوی ما په سخته اوذلت کې نه شي لیدلای او ضرور به زما دخلا صون لپاره کومه لاره لټوي ؛ کله چې دواړه بربر یان پوه شو چې زمونږ خبرې په موسی هېڅ اثر نه کوي نو دپاڅیدو تکل وکړ چې یو نا څاپه له کومې خوا څلور تنه په اسونو سپاره د بربندېو تورو سره د موسی او بربریانو تر څنګ ودریدل! یو تـن یې یوسف ته وویل:تاسو دواړه خلیفه غوښتي یاست!یوسف ورته وویل:دخه لپاره؟عسکر ورته وویل: ددې پوښتنې ځواب به خلیفه پخپله درکړي:

حضر ورته وویل: که مونږ درسره ولاړ نه شو نو بیا؟

عسکر ورته خپله توره وروخوده او ورته یې وویل: یا به دې په دې بربنډه توره سر له تنې څخه جدا کړو او یا به دې په وهلو او کشکولو له ځان سره ویسو او دا هم دخلیفه امر دی! نو ښه به داوي چې په خپله خوښه له مونږ سره ولاړ شی.

بربریانو موسی بن نصیر ته د مشورې په انداز وکتل!

موسی ورته وویل: زما ورونو ځان له رسوایې څخه بچ کړئ او له دوی سره ولاړشی. ویرږی مه الله ﷻ به ستاسو ملگری وي!بیا دې عسکرو حضراو یوسف له ځان سره روان کړه د دوی له روانیدو ورسته دموسی بن نصیر په سترگو کې

اوښکې راڅنډ شوې خفه او غلی کیناسته !دحاجیانو د خیمو څخه جلا دخیمو یو بل کلی جوړ شوی و پدې خیمو کې یوه بله لویه خیمه وه که څه هم داله ورایه خیمه بریښیده خوپه اصل کې دایوه په عصري وسایلو سمبال خونه وه دننه په کې د ریښمو فرشونه د سرو زرو کاسې پیالې او نور عصري وسایل موجود و ددې ټولو دپاسه پکې یوه لویه او عصري څوکۍ پرته وه چې خلیفه به پرې کیناسته خلیفه په خپلې څوکۍ ناست و چې یو درباري رانئوت او داحترام لپاره یې دواړه لاسونه په سینه کیښوده او بیایې وویل: ښاغلیه هغه دواړه بربریان یې راوړي دي که ستا اجازه وي نو دننه به یې راوړو؟ خلیفه وویل: هو! هغوی دننه راوړی! دواړه یې دننه را وستل کله چې دواړه راننوتل نو یوسف اوحضر دواړوپه غبرګوااوزونو سلام وکړ!خلیفه سلیمان یې پرته له سلام اخیستلو څخه وویل: ماچې دبربریانوپه اړه څه اوریدلي وو غلط نه وو!

حضر وویل:ښاغلیه! د بربریانو په اړه دې څه اوریدلي وو؟

خلیفه وویل: همداچې بربریان له ادب اوکلتور څخه نه دي خبر اوډېر وحشیان دي له تاسو خو زمونږ داتراپو خلک ډېر غوره دي! پدې خبرې سره دحضر- او یوسف رنګونه وتښتیدل بیایې یوبل ته ولیدل خلیفه ورته په شاهانه مزاج

وويل: ماته وګورى ځله يو بل ته ګورى؟بيايې وويل:تاسو ملامت نه ياست، ځکه تاسو ته د خليفه داحترام په اړه څه ښودل شوي نه دي نه مو څه ليدلي او نه مو څه اوريدلي،ايا تاسو ته دا پته نشته چې په درباركې دخليفه پر وړاندې بايد په ټيټ سرسلام وشي؟

يوسف ورته وويل:اى! امير المؤمنين! مونږ خو يواځې دهغه دربار په اړه معلومات لرودكوم دفريضې داداكولو لپاره چې مونږ دلته راغلي يو: مونږ يو الله ﷻ ته سرټيټوو سجدې كوو او دا اداب مونږ ته اسلام راښودلي دي!

خليفه په تاثير ناک غږ وويل: دا وخت تاسو د اميرالمؤمنين په وړاندې ولاړ هستى، دلته هم تاسو ته سر ټيټول اړين دي.

يوسف ورته وويل:اى دمسلمانانو مشره ! مونږ چې اسلام قبول كړ داپدې خاطر چې داسلام قانون او اوصول زمونږه خوښ شو او د هغې اوصولو څخه يو هم دادى چې هيڅ انسان بايد بل انسان ته سر ټيټ نه كړي ،انسان بايد يواځې الله ﷻ ته سرټيټ كړي كه چېرې ته مونږ دانسان سرټيټولو ته مجبوروې نو مونږ بيرته خپل زوړ دين ته ګرزو!!

خليفه په غصه سره وويل:زه داسلام خليفه يم ماته داسلام احكام مه راښايه او زه دځنګلونو اوسيدونكواو د ادب

څخه لرې بربریانو ته اجازه نه ورکوم چې ماته داسلام احکام را وښایې! دخلیفه د دې خبرې په ځواب کې حضرد خلیفه هغه قدر او حیثیت له خپلو سترگو څخه لرې کړ کوم یې چې تر اوسه پورې خلیفه سلیمان ته لرلواو په لوړ او جذبه ناک غږ یې وویل: خلیفه!! که چېرې د بربریانو تهذیب اواخلاق معلومول غواړې نو اُندلس ته ولاړ شه!! ایا تاته داپته نشته چې داندلس د فتحې تاج دبربریانو په سر دی؟ او په اندلس کې تر ټولو ډېره قربانۍ هم بربریانو ورکړیده! لدې وروسته یوسف هم حضر ته ورته خبرې وکړې وې ویل:طارق بن زیاد هم بربري و کوموخلکوته چې ته وحشي او بداخلاقه ووایې هغوی د اندلس د خلکو زړونه گټلي اوهغوی یې په اسلام مشرف کړي دي او دا کار پرته له اخلاقو څخه څوک نه شي تر سره کولای!!بیا حضر ورته وویل: تا دأندلس دواړه فاتحان موسی بن نصیراو طارق بن زیاد د اندلس له فتحې بیرته راوغوښته دطارق بن زیاد دکور لوی او واړه دې وسځول تر څو دبې نومۍ له مرگ سره مخ شي او موسی بن نصیر ته دې په پښو کې زولنې واچولې اوسوال گر دې ترې جوړ کړ؛لږ خو اندلس ته ولاړ شه ټول بربریان دي چې دخلکو په زړونو کې یې د اسلام څراغونه بل کړي دي!!

خلیفه لږ غلی شو اوبیا یې وویل: اېلچي بس کړی!داهر څه پرېږدی زه خبر شوی یم چې تاسو دموسی بن نصیر سره زما دوژلو پروګرام جوړولو او غوښتل مو چې له ماڅخه دهغه دذلت او رسوایې بدله واخلی؟ایا په تاسو کې دومره همت شته چې زما پر خلاف بغاوت وکړی؟

یوسف وویل: که چېرې موسی بن نصیر اشاره وکړي نو مونږ به داکار هم وکړو او ستا خلافت به له خاورو سره خاورې کړو بیا حضر وویل:دموسی بن نصیر څخه مننه وکړه چې مونږ یې له بغاوت څخه منع کړو! ایا تاته ستا جاسوس د موسی بن نصیر داخبره نده را رسولې چې بغاوت مه کوی خکه پدې سره اسلام کمزوری کېږي!! مګرافسوس یو هغه دی چې د اسلام لپاره یې څه څه ونکړه او یو ته یې چې د اسلام جرړې پرې کوې:کله چې خلیفه د یوسف او حضردا رنګ خبرې واوریدې نو په قهر جن غږ یې نوکرانو ته وویل: ورسوی دادواړه بد زبانه! بد اخلاقه! او وحشي- بربریان د دمشق لوی زندان ته او هماغه د دوی اخري ځای دی ځای!!

د خلیفه د غږ سره سم شپږ تنه دبربندو تورو سره راغلل حضر او یوسف دواړه یې په ډیکو ډیکو روان کړه یوسف او حضردواړوپه غبرګو اوازونو وویل: زمونږ د حج دفریضې داداکولو مخ نیونکیه! حق نه او ریدونکیه! ستا دخلافت

شپې ورځې مخ په ختمیدو دي الله ﷻ به ډېر زر ستا دا دظلم څخه ډک خلافت رانسکور کړي! د یوسف او حضر- د فریاد او افسوس څخه ډک غږونه د حاجیانو د الهم لبیک په ترنم کې ورک شو او له دې ورسته ددې دواړو هېڅ پته ونه لږیده.

کله چې دواړه بربریان له دربارڅخه په ډیکو ډیکو وویستل شو داوخت د خیمي دیل اړخ څخه پرده پورته شوه او یوه دانړولو! سپینواو نرمو اندامونو پیغله غټې سترګې نرۍ ملا چې دشام دپیغلو څخه په هر څه کې حسینه وه رابنکاره شوه او په ناز ناز راغله او دخلیفه سلیمان ترشا ودریده بیایې خپل لاسونه دسلیمان په اوږو کینبوده او په مزه مزه یې په خپلو پستوپستوګوتو دسلیمان مرۍ ګروله!!

سلیمان ورته وویل: کلثوم ایا تا ولیدل چې ما څه وکړه؟

کلثوم ورته وویل: هو خلیفه سلیمانه زه هغه وخت دپردې تر شا ولاړه وم خلیفه سلیمان خپل لاسونه دپیغلې دملا څخه تاوکړه او ورته یې وویل: بد نصیبه بربریان دلرې سیمې څخه زما په لاس مرګ ته راغلي وو او د موسی بن نصیر سره یې زما په خلاف دبغاوت اوزما د مرګ خبرې کولې.

کلثوم ورته په ناز او اد سره وویل: ایا ته ډاډه یې چې نور به ستایه خلافت څوک د بغاوت خبرې نه کوي؟

خلیفه سلیمان وویل: که هرڅوک یې وکړي نو انجام به یې ددوی په خیر وي!

کلثوم ورته په ناز! رومان ډوله او مړو سترګوکتلو سره وویل:ایا ته غلت کار نه کوې؟یواځې د دوه بربریانو په بندي کولو سره بغاوت نه شي ختمیدای بیایې په نرم او جادو ګر غږ وویل: دموسی بن نصیر په بندي کولو سره تا ډېرې غټې بلا ته غاړه ورکړې ده !! دکلثوم دې خبرې په خلیفه سلیمان اثر وکړ او کلثوم ته یې وکتل؛ کلثوم ورته بیاوویل:ایا تاداهیر کړه چې موسی بن نصیر په اُندلس کې خپل زوي عبدالعزیز امیر ټاکلی دی که چېرې هغه ته پته ولږیده چې پلار یې تا بندي کړی او په زندان کې مرګ ته شپې ورځې شماري او بله دا چې طارق بن زیاد ته دې هم سزا ورکړې ده نو ضرور به درڅخه بدل واخلي ځکه موسی بن نصیر طارق بن زیاد او عبدالعزیز یوه کړۍ ده او په اندلس کې چې زمونږ کوم لښکر دی هغوی هم دې دربوارو ته په درنه سترګه ګوري!

خلیفه سلیمان وویل: بس کړه کلثوم ما خو دعبدالعزیز په اړه هېڅ فکر نه وکړی ما پرېږده چې زه فکروکړم ؛ دخلیفه سلیمان په سرد اقتدار نشه خپره وه او دانشه ورته کلثوم نوره هم زیاته کړه دخلیفه ولید بن عبدالملک له مړینې وروسته چې کله خلیفه سلیمان دواک په ګدۍ کېناسته

نوپه عیاشۍ یې لاس پورې کړ دنورو ښځو سر بېره یې دکلثوم سره ډېره مینه درلوده تاریخ لیکونکي چپ دي چې کلثوم دخلیفه سلیمان ښځه وه او که ناجایزه اړیکې یې ورسره درلودې؛په هر حال خلیفه سلیمان د کلثوم په خبره غور وکړاو کله چې له حج څخه بیرته دمشق ته ستانه شو موسی بن نصیر یې یو ځل بیا په زندان کې واچولو بیایې یو قاصد ته دنده ورکړه چې اندلس ته ولاړ شي اوحبیب ته ووایې چې امیر عبدالعزیز په هوښیارتیااو څه چل سره ووژني! څومره روپۍ چې لرېږي ودې لږوی مگر ماته د امیر عبدالعزیز بن موسی سر پکاردی او کله یې چې وواژه نو سر یې ته دمشق ته راوړه!!

دخلیفه سلیمان په وینا قاصد اندلس ته ولاړحبیب ته یې دخلیفه سلیمان پیغام ورکړ حبیب یو هوښیار او تیزرفتاره قاتل غوره کړ او دا امیر المؤمنین عبدالعزیزبن موسی دوژلو دنده یې ورکړه دغه قاتل چې نوم یې هېڅ تاریخ لیکونکي نه دی لیکلی لاړ او امیرعبدالعزیز چې داوخت دسحر لمونځ په خپل امامتۍ سره په جمعه ادا کولو بد بخته پرې د برښنا دېرک په څیر حمله وکړه او د سترگوپه رپ کې یې د امیر عبدالعزیز سر له تنې څخه جدا کړ په جومات کې گډ ودې جوړه شوه خلکو دقاتل دنیولو هڅه

وکړه مګر قاتل ډېر هوښیاراو چالاکه و خان یې دسترګو په رپ کې له جومات څخه وویسته قاتل د امیر عبدالعزیز سر هم له ځان سره ویوړ سریې قاصد ته ورکړ او قاصد بیرته د مشق ته ستون شو کله چې قاصد د مشق ته ورسیده سر یې د خلیفه سلیمان په مخ کې کیښوده خلیفه سلیمان ورته له خندا نه شین او سور واوښته بیا یې وویل: د اندلس دامیر عبدالعزیز سر داندلس.فاتح بوډا سوال سوال ګر موسی بن نصیر ته ویسی؛!! د خلیفه سلیمان خبره ومنل شوه اوزندان ته ویوړل شو؛موسی بن نصیر چې له مخکې ډېر ربړیدلي وکله یې چې دزوي سر له تنې څخه بیل ولیده نو بې هوشه شو کله چې په هوش راغی نو سر یې په مخ کې نه وو بیایې وویل: خلیفه سلیمان داسې کس وژلی چې هغه به دورځې دعدل اوانصاف کارونه کول او د شپې به یې د الله ﷻ عبادت کولو!

د امیر عبدالعزیز له مړینې وروسته موسی بن نصیر هم لږه موده ژوندي و او وروسته وفات شو!خلیفه سلیمان هم تر ډېره ژوندی پاتې نه شو او دموسی بن نصیر څخه څه موده وروسته وفات شو ټولو تاریخ لیکونکو په اتفاق سره لیکلي چې خلیفه سلیمان بن عبدالملک یو ظالم او متکبر خلیفه و هغې یواځې بوډا فاتح موسی بن نصیر ته په پښو کې زولنې

وو ته نه کولو سوال کې معظمه مکه په يې دا او اچولي وي نه
کې هند په او فاتح سند د خليفه ظالم دي بلکې کړی مجبور
کې زندان په دمشق د هم قاسم بن محمد خېرونکی اسلام
قتيبه فاتح سمرقند د يې ورته دېته و وژلی ټکولو او وهلو په
وواږه ربړولو ربړولو په کې زندان په دمشق د هم مسلم بن
خليفه د و والي عراق او حجاج د چې مسلم ابي ابن يزيد
ده د مگر و شوی بند کې زندان په دمشق د لخوا سليمان
خوش قسمتي دا وه چې قتل نه کړای شو.

خليفه سليمان د ډېرو فاتحانو ژوند اخيستی و مگر
طارق بن زياد ورڅخه روغ لاړو او د دي وجه دا وه چې دا
عرب نه و او د بربري قوم څخه و له همدي وجي يې يواځې
له دندي گوښه کړ او په کور يې کيناوه هېڅ تاريخ ليکونکي
ندي ليکلي چي طارق بن زياد بيرته افريقي ته لاړ او که
اندلس ته څکه د ابن زياد په څير سرشار فاتح څنگه په کور
کيناستلی شي؟ موسی بن نصير له مرگ څخه مخکي په
زندان کي دا فکرونه کول چي بنايې له داسي بي نومه مرگ
سره مخ شي چي څوک به يې نوم هم په خوله وانخلي جنازه
به يې هم په شک کي وي مگر تر څو چي لمر څريک وهي،
هوا چلېږي او د ليکوالانو قلمونه ليکني کوي د موسی بن

نصیراو طارق بن زیاد نومونه به په کې لکه د لمر ځلانده وي!!

یو اندلسي ـ ساحر وایې چې د اندلس خاورې وینه غوښته، وینه غواړي او وینه به وغواړي؛ د دې ساحر دا خبره رښتیا شوه څکه موسی بن نصیر ووژل شو، مغیث الرومي ووژل شو؛ د موسی بن نصیر زوی عبدالعزیز ووژل شو طارق بن زیاد له دندې گوښه شو کور او د کور لوی واړه یې وسوځول شو او لدې وروسته په اندلس کې د مسلمانانو په اته سوه کلن تاریخ کې همداسې جگړې کیدې راکیدې چې په پایله کې یې اندلس د مسلمانانو له لاس څخه ووتلو!!!

(د الله ﷻ په مرسته پای ته ورسید)

فتح الله افغان

0766237045

د فیسبوک، تویټر، ټلګرام د ایډي نوم

(( معتصم فاتح ))

ستاسو د دعاوو په هیله


امارت